شهامت

دتاریخي سوبو
او فتحو نیکمرغه لړۍ !!

لسم کال، دریمه، پرلپسې ۵۹مه ګڼه، محرم ۱٤۳۸هق، اکتوبر۲۰۱٦م

- جنرال دوستم؛ بازیچه دست وحدت ملی!
- د سعودي پر ضد د امریکا نوې طرحه؛ اصل ارادې څه دي؟
- دهجري قمري کلېز خانګړتیاوې او فایدې

افغانستان کې
دامریکا پنځوس کلنه جګړه!!؟

دیرغل دبګی
افغاني تېتوګان وپیژنئ!

د علم او جهاد د سنګر له خادم

شیخ الحدیث مولوي ندا محمد ندیم صاحب سره مرکه

دملګرو ملتونو سرېنی سرمشریزه
او د اسلامي امت دردونه!

په ښاري جګړه کې د طالبانو د موفقیت چانس

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

لسم کال، دریمه، پرلپسي ۵۹مه گڼه، محرم ۱۴۳۸هق، اکتوبر ۲۰۱۶م

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدیر :

ابو ظهير

کتنپلاوی :

شاهد "حقاني " لطيف عزم

حسن " علوي" بلال "وحيد"

نعيم " صافی " عابد مجاهد

قاري حبيب

بیه :

يوه ګڼه ۲۰ افغانۍ او ۳۰

کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

تخنيکي څانګه

یادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو ليکنو مسؤليت

په غاړه نه اخلي.

لړليك

ګڼه	عنوان	مخ
۱	سرلیکنه........................	۱
۲	په بناري جګړه کې دطالبانو د موفقیت چانس..............	۳
۳	افغانستان کې دامریکا پنځوس کلنه جګړه!!؟..............	۵
٤	د ملګرو ملتونو سړني سرمشریزه او داسلامي امت دردونه!....	۷
۵	دهجري قمري کلیز ځانګړتیاوې او فایدې..................	۹
٦	دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه موفقات!!...............	۱۱
۷	دځمکې مجهولین داسمان معروفین.........................	۱۳
۸	دافغانستان احمقانه جګړه............................	۱۷
۹	دامریکایي یرغل په وړاندې زمونږ مسئولیت څه دی؟.........	۱۹
۱۰	شیخ الحدیث مولوي ندا محمد ندیم سره مرکه...............	۲۰
۱۱	برتانوي سفیر مسلمان شو!!...........................	۲۷
۱۲	د یرغل دبګۍ افغاني ټټوګان وپیژنئ.....................	۲۸
۱۳	ګلورینې پاڼې....................................	۳۴
١٤	دسعودي پرضد دامریکا نوې طرحه؛ اصل ارادې څه دي؟.....	۳۶
۱۵	دلویدیځ دنړیوالتوب او جدیدیت ځپلو لاملونه او دهغو.......	۴۴
١٦	جنرال دوستم؛ بازیچه دست وحدت ملی !.................	۴۶
۱۷	دیرما دوامداره غمیزه او ویده امت!.....................	۴۸
۱۸	روز نحس باعشوه ګری زیبا !..........................	۵۰
۱۹	افغانستان او مثلي جنسپال...........................	۵۳
۲۰	ګلمجمې بنځینه ملېشې.............................	۵۶
۲۱	ادبي تسلیمي.....................................	۵۷
۲۲	عسکر ولې تسلیمېږي؟.............................	۶۰
۲۳	طالبان دبل تر اثر لاندې سوله نه غواړي..................	۶۱
٢٤	زما ورور محمد حقاني څنګه شهید شو؟..................	۶۲
۲۵	د (إنه کان ظلوما جهولا) لنډ تفسیر، زمونږ دټولنې یو حقیقت..	۶۴
۲٦	امام ابوبکر ابن الأنباري رحمه الله......................	۶۶

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان

بریښنالیک : Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله

دتاریخي سوبو

او فتحو نیکمرغه لړۍ !!

له نیکه مرغه! دعمري عملیاتو دبریاوو او سوبو سلسه دومره چټکه اوبریالۍ ده، چې په ترڅ کې یې دادی دفتوحاتو بهیر له غرونو او کلیوالوسیمو نه ښکته دولایاتو تر مرکزونو او ښارونو وغځېد او دهېواد دځو مهمو ولایتونو ښارونه اومرکزونه دمجاهدینو د دوامدارې محاصرې لاندي دي .

په صلیبي دښمن او دهغه په لاسپوځو دمجاهدینو تندریزبریدونه د هلمند څخه نیولې ارزگان، فراه، بادغیس،بغلان او کندزه غزیدلي او دگوډاگي رژیم په ځواکونویې دژوند کړۍ راتنگه کړې.

په خاصه توګه د یادو ولایتونو په ښارونو او مرکزونودعمري عملیاتو بریدونه هغه مهال نورهم شدید او پراخ شول چې کله اشرف غني او ټیم یې په برسلز کې د صلیبي اشغال دملاتړکوونکو هېوادوڅخه دنورومرستوترلاسه کولو لپاره ځولۍ نیولې وه او هغوی ته یې دا ډاډ ورکاوه چې افغانستان دده دټیم تر بشپړ مدیریت لاندي او مجاهدین یې په وړاندې ګواښونه او ننګونې نشي پیښولی.

لیکن هغه شیبه دستر خجالت او شرمنده ګی سره مخ شو چې دبرسلز دغونډې سره هم مهال داسلامي امارت ځواکونه دهېواد په شمال کې دکندزمرکز اوپه جنوب کې دهلمند دمرکز (لښکر ګاه) څنډو ته په فاتحانه ننوتو بریالي شول اونړیوالو ته یې دا پیغام ورکړ چې دلته دامریکا په مشرۍ صلیبي ښکېلاک ناکام او ټولې استعماري ارادې او هڅې یې بې نتیجې دي.

له دغو سیاسي بریاوو سره سره چې ددې سترو عملیاتو په نتیجه کې ترلاسه شوې هم مهال یې په ترڅ کې مجاهدینو ددښمن څخه پریمانه او کافي اندازه شوبلې، زغروال وسایط او پوځي تجهیزات هم نیولي چې په جنګ کې یې دامریکا یانو او دهغوی دګوډاګیانو په خلاف استعمالوي.

دچارو دکتونکو په اند: د مجاهدینو لاسو ته په کافي اندازه د پوځي تجهیزاتو او زغروالو وسایطو په ورتلو به راتلونکې کې دامریکا یانو او دګوډاګي رژیم خلاف دمجاهدینو عملیات نور هم شدید او پراخ شي، بل پلورسنیو داسې راپورونه خپاره کړل چې امریکا یې افغان ځواکونه دومره کمزوري دي چې لګیادي دمجاهدینو دبریدونو دمخنیوي لپاره له کابله ترافیک پولیس لومړیو کرښوته استوي، دغه راز په وروستیو کې ولیدل شول چې دامریکایانو له لوري دکومنډویانو په نامه روزل شوي اجیر ځواکونو هم د مجاهدینو په وړاندې دمقاومت روحیه بایللې اودجګړې دلیکوڅخه په داسې حال کې تښتي چې امریکایان یې په هوایي بمباردونو دتښتي لارې تړي...

دیته په پام امریکایان اړشول چې په ځینو ولایتونو کې دجګړې قومانده بیرته پخپل لاس کې واخلي څو دمجاهدینو په وړاندې اجیرو ځواکونوته دمقاومت مورال او روحیه وروبښي.

دخبري سرچینو له قوله: دامریکایانو ددې بد عزم وروسته په وحشایانه او ظالمانه بمباردونو کې ولسي-خلکوته دسر او مال درانه زیانونه اوښتي ،څو په دغه ډول بربنډو جنایتونو له افغان ولس دخپلو ناکامیو غچ واخلي

دکارپوهانو په نظر راتلونکي کې جهادي وضعیت له دې پلوه اهمیت لري چې دکلیوالو سیمو په ځای به په ښارونو کې ترکیز ډېر ولري او ډارن دښمن ته به په ښارونو کې دمجاهدینو دبریدونو په وړاندې مقاومت ګران وي لنډه داچې نور هغه شیبې یقینې او رالنډې دي چې له ګران هېواده دصلیبي اشغال ټغر ټول او په افغانانو دازادۍ سهار بیا راشي.



په ښاري جګړه کې د طالبانو د موفقیت چانس

لیکوال: باهر حقپال

د عُمري عملیاتو په ترڅ کې مجاهدینو سږکال پر نورو محاربوي تکتیکونو علاوه د ښاري جګړې تکتیک هم وکاروه.

ښاري جګړه (Guerrilla warfare) د ګوریلايي جګړې له تکتیکونو څخه هغه بریالی تکتیک دی چې په لږو وخت او لږو امکاناتو سره دښمن ته دروند زیان اړولی شي.

مجاهدینو سږکال له همدې تکتیک څخه په هلمند، اروزګان، فراه، کندوز او بغلان ولایتونو کې استفاده وکړه، چې دښمن ته یې په درانه ځاني او مالي زیان سربیره په تبلغاتي لحاظ هم سخته ضربه ورکړه.

د بېلګې په توګه مجاهدینو وکړای شول د کندوز په ښار کې د دښمن له ټولو پوځي احضاراتو سره سره د هغوی مجهز ځواکونه تر خپلو تهاجمي بریدونو لاندې ونیسي، د امریکایانو له مکمل ځمکني او هوايي حمایت سره سره یې له هغوی څخه د ښار مهمې سیمې ولکه او تر اتو ورځو پورې په خپل واک کې وساتي.

په کندوز ښارکې د مجاهدینو اته ورځني مقاومت دا ثابته کړه چې له هغوی سره ولسي حمایت موجود دی؛ ځکه له ولسي حمایت پرته نا شونې ده چې هغوی دې یوه اونۍ مکمله پرته له دې چې له ښار نه بهر یې لوجیستیکي او پوځي مرسته وشي له خوراک او تجهیزاتو پرته تیره کړي.

دا لومړی ځل نه دی چې مجاهد کندوزیان مجاهدینو ته د دښمن د وهلو لپاره په خپل کور کې ځای ورکوي؛ بلکې تر دې وړاندې هم کله چې یرغلګرو امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ همدې کندوزیانو په زرګونو هغه مجاهدین چې د کندوز ښار تر سقوط وروسته هلته محاصره پاتې شول همداسې په خپلو کورونو کې وساتل او وروسته یې ورته خپلو سیمو ته د خوندي رسولو زمینه مساعده کړه.

په ښاري جګړه کې د طالبانو شرعي او اخلاقي مکلفیتونه

د نظامي ماهرینو د وینا له مخې په ښاري جګړه کې هغه ځوک بریالی وي چې په خپل ځان باندې د ولس له حمایت نه باوري وي، ځکه ښاري جګړه په حقیقت کې د ولس د دفاع لومړۍ کرښه ده.

نو که مجاهدین (طالبان) غواړي په ښاري جګړه کې بریالیتوب ترلاسه کړي هغوی باید تر هر څه وړاندې ښارونو ته په داخلېدو سره د هغه ځای د اوسېدونکو اعتماد ترلاسه او د هغوی د حفاظت لپاره کار وکړي.

که طالبان غواړي په ښارونو کې د جګړې همدا نوی تکتیک یې ښه نتیجه ورکړي باید لاندې ټکي په جدي ډول په پام کې ونیسي.

الف: دا چې زمونږ د هیواد په کچه د رسنیو په تیره د تلویزوني شبکو فعالیت تر ډیره بریده تر ښاري سیمې پورې محدود دی، او تلویزوني شبکې ټولې شپه ورځ د مجاهدینو خلاف تبلغات کوي چې د هغوی د تبلیغاتو له وجې ځینو ښاریانو د مجاهدینو خلاف ذهنیت اخیستی وي، نو مجاهدینو ته په کار دي چې هر ښار ته په ور

داخلیدو سره له ښاري او سیدونکو سره فوق العاده ښه رویه غوره او د هغوی د ځان او مال د ساتنې رعایت وکړي.

ب: لکه څرنګه چې په شرعي لحاظ هم د جهاد هدف د خدای د دین حاکمیت دی نه د ځمکو لاندې کول ، نو باید کوښښ وشي چې تش د ښارونو په موقتي نیولو سره د هغه ځای او سیدونکي مسلمانان متضرر نه کړي ، کوم ځای چې مجاهدین پوهیږي چې د هغه نیول د سیمې د اوسیدونکو د ځان او مال د ضائع کیدو لامل ګرځي او د دښمن لخوا د هغه ځای بیرته عاجل نیول متحقق وي نو باید د هغه ځای له نیولو صرف نظر وکړي.

ج: دا چې اوس مونږ د کال په وروستي فصل کې یو او همدا وخت زمونږ د هیواد والو د ټولو زراعتي محصولاتو د ترلاسه کولو وخت دی ، نو باید مجاهدین د سیمې د خلګو د زراعتي محصولاتو د تحفظ ډیر خیال وساتي ، چیرته هم چې د دښمن په بمبار او یا هم د هغوي په پوځي عملیاتو کې د خلګو د زراعتي محصولاتو د تلف کیدو ویره وي هلته باید له ډیر احتیاط څخه کار واخیستل شي ، که چیرې د دښمن لخوا د ولس د زراعتي محصولاتو د تلف کیدو احتمال یقیني وی باید هلته له مؤقتي عملیاتو څخه خود داري وشي.

د: دا چې په ښارونو کې د اطرافو په نسبت مجاهدین ډیر بلدیت نه لري او د کلیو په نسبت هلته مختلط خلګ اوسي چې د دوست او دښمن پیژندل ورته ګران وي ، نو مجاهدین باید د خپلو موثقو استخباراتي او کشفي معلوماتو له لرلو پرته د عامو ښاري اوسیدونکو په خوله ځوک ونه ځوروي.

هـ: دا چې ولسي حمایت زمونږ د جهادي فعالیت اساس دی نو باید هر ښار ته په داخلیدو سره له ولسي خلګو سره نهایت ښه تعامل وشي ، هلته د دولتي ممتلکاتو تحفظ ته باید د لومړي توب حق ورکړل شي ، عام المنفعه خدماتو لکه بریښنا ، ابورسولو ، روغتیایي مرکزونو ،مکتبونو او ترافیکي سهولیتونو ته خاصه اوجدي پاملرنه وشي.

و: په هرښار کې د خیریه مؤسسو ، دسته جمعي غیر دولتي رسنیو ، او نورو عام المنفعه تأسیساتو د کار کوونکو او ممتلکاتو خاص مراقبت باید وشي ، کوښښ وشي چې د غیر مسؤلو کسانو لخوا د هغوی د تلف کیدو مخنیوی وشي.

ز: دا چې هر ښار ته په ورداخلیدو او د رژیم له حاکمیت څخه د هغه ځای په وتلو سره د ټولې نیول شوې سیمې د خلګو د ځان او مال د حفاظت مسؤلیت شرعا مجاهدینو ته منتقل کیږي نو باید مجاهدین په بشپړه توګه د دغه مسؤلیت په ښه پوره کولو کې خپل ټول وس وکاروي او پرینږدي چې غیرمسؤل او لا اوبالي کسان په نیول شوې سیمې کې د مجاهدینو د بدنامي په خاطر په غیر مسؤلانه کړنو لاس پوري کړي.

که چیرې مجاهدین ورونه د هرښار او هرې سیمې تر نیولو وروسته پورتني مقررات په پام کې ونیسي له شکه پرته چې نور به هم له ولسي حمایت نه برخمن او د خدای جل جلاله په لاره کې کړی جهاد به یې د هغه په دربار کې د قبولیت مورد وګرځي.

ان شاء الله

(هڅاندلیکنه)

افغانستان کې دامریکا پنځوس کلنه جګړه!!؟

پر افغانستان دامریکایانوله یرغل نه وروسته په لومړیو کې دلویدیځورسنیو له خولونه داسې اوریدل کیدل، چې دامریکا او ناټوالو موخه لدې یرغل څخه یوازې القاعده او طالبان دي ، بهرنیان دکومې اوږده میشتیدنې په تکل دلته ندې راغلي، خو خبره هاغلته ډنډوره شوه، چې نږدې درې کاله مخکې دحامد کرزي درژیم په وخت هندوستان ته د امریکا د جمهوریت پال ګوند مخکښ سناتور(لینډسي ګراهم)په یوه رسمي سفرکې ورغلی واو نوموړې دیوې خبرې غونډې په ترڅ کې دسپینې ماڼۍ له چارواکیوڅخه هاغه وخت وغوښتل، چې نوره دې دکابل له واکمنوسره دا مسئله سپینه کړي، چې مونږ امریکایان افغانستان کې تلپاتې پوځي هډې او دڅلویښتواو پنځوسوکالو لپاره پاتې کیدنه غواړو.

هاغه وخت ددې موضوع حساسیت ډیرغبرګونونه راوپارل او دولس خاموش اکثریت په ډاګه دامریکایانودایمي شتون مسترد کړ،حامدکرزي ددې لپاره چې دتاریخ له څپیړې بچ شي، ترپایه دداسې تړون لاسلیک ته غاړه کښینښوده او دایې بي ګټې وباله، خو له کرزي وروسته د(اشرف غني او عبدالله)ګډوله حکومت واکمنوپه ډیره لیوالتیا سره ارګ ته له ننوتلو څلیرویشت ساعته وروسته ددې تورتړون په تندي دبي ننګۍ او جفا لاسلیکونه کش کړل اود(ګندمک)دبدنام تړون په څیر یې دا ځل دانګریزانوله لمسیانوسره دهیوادپلورنې له شرمه ډکه سودا وکړه .

اسلامي امارت لا هاغه وخت له امریکایانو سره دامنیت په نامه داتړون دیوې اعلامیې په صدور سره وغانده اوپه ډاګه یې وویل : چې لدې تړون څخه دوینو بوی راځي او ددې تړون عاملین یې تاریخي جنایتکاران وبلل، همداسې نوروهیوادمینوګوندونو،ټولنواو علماءګرامودا تړون اشغالګروامریکایانوته دافغانستان دخرڅلاو له قبالې سره مترادف وباله اوداکاریې یوه غیرقانوني کړنه او داستقلال پرضد دچارواکیو بل ګام وباله .

دسپینې ماڼۍ واکمنوپه نمایشي- ډول اعلان کړه، چې خارجي عسکربه د(۲۰۱۵ز)وروسته نه پاتي کیږي او ددې خبرې دتوثیق لپاره یې په غولونکې ډول دخارجیانو بیرغونه هم راکښته کړل او تلویزونونو کې داسې الوتکې هم وښودې ،چې ددوئ عسکر انتقالوي، خو چې کله اسلامي امارت تیرکال کندزولایت بشپړډول فتحه کړ، نو وکتل شول چې تللیو الوتکو او پوځیانو یې بیرته دکندزپه ښار پروزاونه کول او ولس یې بمباردمان کاوه ....

خو اوس نو خبره بیخي ډنډوره شوه، اوآن دامریکا استخباراتوځینو اغیزمنو کارمندانو هم په ډاګه کړه: چې امریکایان دوتلو په نیت افغانستان ته ندي راغلي ،بلکې

هغوئ ديوې اوږدې مودې او اوږدې ستراتيژۍ سره راغلي دي ،هغوئ کيداى شي، تر پنځوسوکالو پورې هم له افغانستانه ونه وځي او دلته دې هيواد کې جګړه وکړي ،هغوئ تيلو پسې راغلي ،دهغوئ اصل هدفونه نه طالبان نه القاعده او نه داعش دي ،بلکې دهغوئ عمده اهداف چين ، ايران ،روسيه او هندوستان دي ،نړيوالو اليکترانيکي رسنيودا خبر پداسې جملاتوکې خپور کړ ((کارمند پيشين سازمان جاسوسی و ارتش امريکا: "جنگ افغانستان توسط امريکا تا پنجاه سال ديگر دوام داده خواهد شد. اين جنگ بخاطر القاعده، طالبان و داعش نيست. بلکه اين جنگ به خاطر نفت

و کشورهای قدرتمند جهان چون چين، روسيه، هندوستان و ايران است.))"......

دامريکاداستخباراتي شبکې او پوځ دپخواني چارواکي له ځرګندونو څخه په ښکاره معلوميږي، چې غربيان ا وامريکايان دبيرته وتلو په نيت ندي راغلي ،دهغوئ اهداف ډير تا مقدس دي،هغوئ ديوې طولاني جګړې تا بيا نيولې او ديو طويل المدت جنگ په فکر سيمه کې ميشتيدنه غواړي .

دافغانستان مجاهدين چې ديرغلګرو دتور سيلاب په مخکې د(سد سکندر) غونډې کلک او محکم ولاړوو اود اسلامي شريعت داصولوله مخې يې ټولو نړيوالو سره تعامل کاوه ،نه يې غرب ته دذلت سرکښته کاوه اونه يې دشرق خرسانوته جګجګی کاوه ،داسلامي امت مسلمانان چې دتير رژيم څخه وروسته هم هيوادکې پاتي وو،ښه په نره يې ددوئ خدمت او ساتنه خپله ديني وجيبه وګڼله ،او پدې هکله يې دامريکاهر ډول غوښتنې داسلام داصولوسره سمې ځوابولې اوهرډول معامله يې دشريعت له مخې ورسره کوله، تو هماغه وو،چې نور دنړۍ کفارسره راټول شول او نړدې (۴۴) هيواديزپوځ چې چارې يې امريکاسنبالولې، په اسلامي امارت نابيره يرغل راوړاو نن يې دادی دهيواد پوځي وضعيت دې سرحد ته رسولې چې همدوئ يې هم په چاره نه پوهيږي .

طالبانوچې ددوئ سره دمتنازعو موضوعاتو په باب هرې اصولې او معقولې معاملې او مذاکرې ته تنازل کاوه، خو دوئ چې دخپلې تکنالوژۍ غرور په هوا کړي وو، دا خبرې ورته هسې خيالي کيسې ښکاريدې او چندان حساب يې پرې نه کاوه ،خو اوس چې خبره بيخي بدله شوه ،دوئ دماتې په درشل کې دي اوشعارونه يې دروغ وختل ،نولکه داوبو اخستې انسان څګ ته هم لاس اچوي او ځان ته دخلاصون کومه لاره پيدا کوي .

هوکې !!

له امريکايانوسره به دپنځوسوکالودجګړې تصاميم وي ،خو مجاهدينودقيامت تر ورځې پورې دجهاد او دکفارو سره سپيڅلې جګړې لپاره ملاتړلې ،دوئ له يرغلګرو کفارو سره جګړه جهاد او ستر عبادت يې بولي، نو له پنځوس کلونو وروسته به هم مجاهدين ستوماني محسوس نکړي اونه به ددوئ پر خلاف جهاد ديوې شيبې لپاره ودروي .

اسلام چې دمسلمانيدو، جهاداو جزيي نه په غير بله لاره دمحاربو کافرو سره نه ويني ، نوددې لپاره دسرونواو مالونو په نذرانو هم نه ستړې کيږي ،افغانان چې داسلام له مبين دين او ملي ارزښتونو څخه بل شئ نه پيژني ،نو اشغالګروته ددې دوو ارزښتونو په ړنګا کې پريکړه پکار ده او ددې غيور ملت ايل کول او تسخيرهغه ارمان دی، چې ددوئ اجدادواو اباوو هم له ځان ګور ته وړی ،اميد دی ،چې دوئ به يې هم له ځان سره ګور ته يوسي او دپنځوسوکلونو اسرې به يې خاورې ايرې شي !

دملګروملتونو سږنی سرمشریزه اوداسلامي امت دردونه!

عبید، تنویر

په ۱۹۴۵ میلادي کال کې تردې شعار اوادعا لاندي، چې په نړی کې به جنګ او دجنګ عوامل له منځه وړل کيږي اوبشري ارزښتونه به ژغوري، نو دملګروملتونو دسازمان بنسټ کیښودل شو

ملګرو ملتونو هم ظاهرا په خپل منشور کې ولیکل چې له جګړو، تبعیض او نابرابری سره به په ټوله نړۍ کې مقابله کوي اوزیاربه باسي ترڅو انسانان په عدل، سوله او ترقی کې ژوند ترسره کړي.

غربیانو دملګرونو ملتونو دمتدصیانو او موسیسینو په شکل کي دانحصاراوخودخواهی یوبل ګام پورته کړاو دامنیت شوراپه نوم یې دنړۍ دمهمو مسایلواوتصمیم نیوني دویتوحق هم له ځان سره خوندي کړ اودملګروملتونودجوړیدوله ورځې نه یې ترننه پوري صرف خپلې استعماري موخي او ګټې دامنیت شورا له فورم نه دځان په نفع محفوظي وساتلي اوپاتي ولسونه اوملتونه یې له هرډول حقوقواو خودارادیت څخه محروم او بې برخي کړل.

دملګرو ملتونو دتاسیس ۷۱ کاله پوره شول، دهرکال دسپتبمر په میاشت کې دنوموړي سازمان په انګړکې دهیوادونودولسمشرانوپه کچه سرمشریزه غونډه جوړیږي، چې سږ کال هم دغه مهمه ناسته ترسره اودهر هیواد ولسشمراویایي استاځي دملګرو ملتونو مجمع ته ویناوي وکړي

که دملګرو ملتونو له تیر ۷۰ کلن دوراو حالت څخه تیرشواو تنها دورستي ۱ کال په اوږدو کې یې کړني، تصماميم اوپه خاص ډول له اسلامي امت او دمسلمانانو له هغو دردونو او مصايبوسره چې په لوی لاس امریکایانواوغربیانو دغومظلوموملتونوته ورله غاړي کړي ووارزوو، داحقیقت به څرګند شي، چې ملګري ملتونه دمسلمانانو او اسلامي هیوادونو لپاره هیڅکله دخواخوږي، ترحم اوروغ نیتی فکر اوتصمیم نلري!!

تیر یوکال په داسې حال کې ترسره شو چې په افغانستان، عراق، فلسطین، سوریي، لیبیا، کشمیراومیانمار کې دزرګونو مسلمانانووینې وبهول شوي، جګړي او قتل عام پکې جاري وو، هوایی بمباری، ډرون بریدونه اودهرډول بشریت ضد وسلوداستعمال اوتمرین لړی پکې توده وه اوپه لسهاوو زره مسلمانان دشکنجو،ځورونواو اسارتونوشاهدان اوقربانیان ول

دتیریوه کال په اوږدو کې په میلونو مسلمان وګړي دجنګونواو ناسموشرایطو له امله اړ شول چې خپل هیوادونه اوټاټوبې پریږدي، دغرب او اروپا په لور دکډوالی ستونزمن حالت اوسختو شرایطوته مخه کړي اوپه مقابل داروپایانو دانسانیت ضد چلند او برخود نادوي وزغمي!!!

خودهمدغواونورو کړاوونو او ناورینونو په مقابل کې دملګرو ملتونو رول لکه دپخوا په څیرلدې امله معاندانه، یک جانبه اوبې تفاوته وو چې په دغو ټولو اسلامي ټاټوبو کې چې دجګړو اوروونه بل اوهر ډول ناخوالو پنجي خښي کړي، ترشا یې په مستقیم او غیرمستقیم ډول دامریکااو غربي هیوادونو لاس او

دخالت موجود دی اوداخبره خو له هرډول شک او تردد پرته ښکاره او ظاهر ده چې ملګري ملتونه او یا دامنیت شورا هغه بنسټونه اواداري دي چې امریکااوغربیان یې رهبري کوي ، واک او اختیار یې دهمدوئ په لاس اوګورت کې دی او ملګری ملتونه هیڅکله دا اجازه نه لري چې دامریکا او غربیانو له خوښې اومصلحت پرته یوه اعلامیه هم جاري کړي!!

همدا امریکا اوغربیان دي چې په افغانستان اوعراق کې یې دجګړې بټۍ توده اوپایداره ساتلي ، له یوې ورځې نه بلې ورځې ته دجګړې دپراخولو کوشش کوي ، کله دنورو پوځیانو درولیږلو اعلانونه کوي ، کله دهوایي بمبارۍ، ډرون بریدونواو دB52 الوتکو دبیا کارولو امرونه صادروي اوکله بیا دنړۍ په هرکونج او کنار کې ځانته داحق ورکوي چې هرهغه څوک په نښه کړي او شهیدي کړي چې دامریکایانو ګټو او منافعو ته ګواښ جوړوي

دغه راز ددې پرځای چې دفلسطین داوږده بحران اودمسلمانانو دمتفقه معضلې دحل په حصه کې جدي ګام پورته شوی وای او داسرائیلو غاصب رژیم مهار کړل شي ، امریکا ورسره د۴ سوه ملیارده ډالرو په ارزښت پوځي او اقتصادي تړونونه لاسلیک کړل ، دکشمیر مسئله چې په هرقیمت بائید نوردحل معقول حل موندلای وای او دکشمیر ولس ته دملګرونو ملتونو دپریکړو له مخې دارام او سوکاله ژوند حق اواختیار ورکړل شوی وای ، په لوی لاس امریکا اوغربیانو تازه ددې هڅه پیل کړي ترڅو دهندوستان اوپاکستان ترمنځ جګړه پیل شي اودغه حساسه سیمه دجنګ او تباهی په میدان واوړي.

دسوریې موضوع دامریکا ، روس اوددغو هیوادونو دهمنوا قوتونو دسیالی دډګر په توګه په ویرانه او هدیره واوښته ، لیبیا دکورني جنګ په لمبو کې سوځي ، دمیانمار مسلمانان لاهم ددولتي بودایانو دقساوت او ووحشت په کینو او تناره کې سوځول کیږي!!!

نواوس پوښتنه داده چې ملګروملتونو دتیره کال په اوږدو کې دمسلمانانونو دغه کوم یوه درد اوغم ته ځان ورساو اودحل درمل یې ورته پیداکړل ؟

سږ کال دملګرو ملتونوسرمشریږه په داسې حال کې ترسره شوه ، چې دامریکا په طرف چې په ټوله نړۍ کې دشرارت اوبدبختیو مهم محور دی اودمسلمانانوپه هره ستونزه او کړاوکې پوره دخالت لري ، هیڅا هم داعتراض او نیوکي ګوته پورته نکړه اونه یې دملګرو ملتونوپه کرداراوړول چا داپوښتنه راولاړه کړه چې دغه سازمان دمسلمانانو کوم غم او مصیبت ته ځان رسولی او دیوه خواخوږي او بې طرفه جهت په توګه یې خپل مسؤلیت ادا کړی،

دملګرو ملتونو په مجمع کې دنړۍ اومسلمانانو دبې حسی اوبې همتی له وجې دامریکاولسمشر اوباما چې په اصل کې دمسلمانانو لوی قاتل اوبدخواه دی دخپلې وینا په ترڅ کې په خپلو ټولو جرمونو او جنایتونو پرده واچوله اوپه نړۍ یې دخپلې باداری دتوجیه لپاره دترهګرۍ په نامه جوړه شوي ټاپه نوره وکاروله چې هغې ته به دوام ورکوي او په پلمه به یې داسلامي امت له ارزښتونو او مصالحوڅخه نور غچ اخلي او اووینې به یې څښښي

نو ویلای شو چې دملګرو ملتونو سږني سرمشریزه دمسلمانانو لپاره له غمونو اودښمنیو ډکه وه او ددې کوشش وشو چې دمسلمانانو په زخمونو نوری مالګې ودوړول شي اومذید په مایوسیو اوتراژیدیو کې اخته شي.

فرهاد

دهجري قمري کلېز ځانګړتیاوې او فایدې

د هجري قمري کلېزې (تاریخ) پیل له محرم الحرام کېږي، څکه داسلام نه وړاندې عربو خپل حسابونه په قمري تاریخ کول، البته په مدینه ،مکه او شاو خوا کې میشت یهودي قبایلو د عبراني (یهودي) تاریخ ترڅنګ دخپلو کلتوري او سوداګریزو ګټو لپاره دخالص قمري په ځای قمري شمسي حساب کاروه،حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دخپل خلافت په رسمي کاغذونو اولیکنوکې یواځې اسلامي قمري هجري تاریخ لازم کړ دا دنوموړي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ داسې کارنامه ده چې دقیامت تروروځې به دوام ولري انشاءالله.

خو د افسوس وړ داده چې نن سبا مسلمانان عموماً بالخصوص ځوانان چې دراتلونکي معماران او انځور ګران دي داسلامي میاشتو نومونه ورته نه ورزي، که څه هم داړتیا په مهال دعیسوي تاریخ لیکل باک نلري خو مسلمانان باید بالعموم داسلامي هجري قمري تاریخ لیکلو او استعمال ته اولویت ورکړي ولې داسلامي میاشتو نومونه یادول او دقمري تاریخ اهمیت او عظمت پیژندل دفرض کفایي حکم لري څکه دشرعي احکام لکه، لمونځ، روژه حج او دنورو اداء تر قمري اړه لري، روژه په قمري میاشت (رمضان) کې راځي، عظیم الشان قرآن هم په رمضان کې نازل شوی دمیرمنو دعدت تیریدو ،زکات ورکولو لپاره هم قمري تاریخ معتبردی او هم داراز دواړه اخترونه (کمکی او لوی اختر) لمانځل د قمر تر راختو پوري اړه لري...

مسلمانان چې نن سبا داسلامي تهذیب او تاریخ نه لري دي او خپلو ځلانده اسلامي ارزښتوونو ته په شاګرځولو یې اسلامي تاریخ هم له یاده ویستلی ، پکاردی چې مسلمانان خپلو ماشومانو ته دنورو اسلامي زده کړو ترڅنګ داسلامي میاشتو نومونو ور ښودلو ته هم توجه وکړي.

دقمري تاریخ اساس د زمکې نه دسپوږمۍ میاشتنی ګردش او دهرې بلې میاشتې پیل د نوې میاشتې راختو څخه کېږي، په میلادي کلیزه کې دتاریخ پیل دلمر له ډوبیدو کېږي اوبل میلادي اوشمسي میاشتې کله ۲۹، ۳۰ ،۳۱آن ۲۸ ورځې راځي. په میلادي تقویم کې نن سبا ورځ شپه له دولس بجو پیل کېږي او په اړه یې له وړاندې نه دا بالیقین طی کېږي چې د راتلونکي کال کومه میاشت به د څو ورځو وي؟ ډېر کم تغیر کوي، څنګه چې فروري میاشت عموماً ۲۸ ورځو وي ،یواځې په هروڅلور کالو کې یوه میاشت د ۲۹ ورځو وي ،پاته نورې پخپل حال وي، څکه دمیاشتو ناریخونه خود ساخته او له ځانه جوړدي نه دکومې قاعدې او قانون تابع، او دټولو ورځو شمیر ۳۶۵ اوڅلور کاله وروسته یوکال د ۳۶۶ ورځو راځي. هر چې قمري تاریخ دی په هغه کې کال ۳۵۴یا ۳۵۵ ورځې وي.

دقمري تاريخ بله ځانګړتيا ابهام دی ،چې يکې ډېر مصلحتونه پټ دي،مثلاً :له دې ابهامه ډېرځلي پيدا کيدونکی انتظاري کيفيت له ځان سره جلا خاص خوند او مزه لري ،په نړۍ کې مسلمانان دمياشتې دامکاني ليدلو اونه ليدلو په مهال دانتظار کيفيت کومې شېبې لنډوي او يا دمياشتې دليدلو لپاره کوم کوښښونه کېږي، هغه مهال يو خاص ذوقي کيفيت وړاندې کوي چې کله ماشومان ،لويان، سپين روږي او ځوانان ټول مياشتې کتلو ته انتظارباسي په دې توګه يودخوشالۍ منظر منځته راوړي او که له وړاندې څخه داختر ورځ تعين او معلومه وي، بيا به د مياشتې په ليدلو چې مسلمانان کومه خوشالي لمانځي نه ترلاسه کېده. دقمري مياشتو دنه مطابقت يوه اهمه ګټه داده چې ځيني اهم عبادتونه لکه روژه نيول په ټولو موسمونو کې راځي ،کله چې يو تن له بلوغ وروسته په ۱۴يا ۱۵کلنۍ کې روژه نيول پيلوي تقريباً دشپيتو -اويا کلو په عمر کې چې روغتيا يې حالت يې خراب نه وي هم دروژو نيولو وس لري، نو هغه ته په ټولو موسمونو کې دوبي،مني،ژمي، اوپسرلي کې دروژو نيولو فرصت په لاس ورزي يعنې په ټولو يادو موسمونو کې دروژې نيولو له سعادت څخه برخمن کېږي.

که دشرعي احکامو لپاره د قمري په ځای شمسي مياشتې اساس واي،نو ټول عمربه روژه په يوه موسم کې راتله او دنړۍ په شمال کې نيمه کره او په جنوب کې نيمه کره دموسمي تضادونو له وجې به په ځينو سيمو او هېوادو نو کې خلک اړوو چې هميشه په ګرم موسم کې اوپه ځينو کې به هميشه په يخ موسم کې روژه نيول کيده اوپه دې لړ کې به مسلمانانو دموسمونو د بدلون څخه هغه ګټه نه پورته کوله کومه چې د اسلامي او هجري تقويم په کارولو ترلاسه کوي..

په دې علاوه پوهانو دقمري تاريخ ځينې نورې فايدې او ځانګړتياوې هم ليکلي چې من جمله دهغو څخه دادي: چې دکله نه هجري تاريخ پيل شوی له هغه مهاله تراوسه پکې کوم ترميم ندی راغلی داځانګړتيا غالباً يواځې قمري تاريخ ته په برخه ده بل په هجري تاريخ کې اوونۍ دجمعې وروسته پيلېږي کومه چې سيد الايام (دورځو سرداره ده) په دې علاوه په هجري تاريخ کې دشرک او نجوم پرستۍ هيڅ شائبه ځای نلري ځکه دمياشتو نومونه دنوروتقويمونو پشان کوم پاچا، سيارې او د ديو نامه سره نسبت نلري...

لنډه داچې اسلامي تاريخ له پامه غورځول له شرعي پلوه دګناه ارتکاب دی، پکاردی مسلمانان ورته ځېر اووسي او خپل ماشومان وپوهوي چې دنوروتاريخونو په ځای اسلامي هجري قمري تاريخ استعمال کړي کنه راتلونکي نسلونه به اسلامي تاريخ ته يومخ شا کړي حال داچې قمري تاريخ زمونږ دکلتور، تهذيب او اخلاقو ساتونکی دی په پای کې دعا کوو چې الله تعالی دي مسلمانانو ته دهجري قمري تاريخ دکارولو توفيق ورکړي امين

داسلام دویم راشد خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هغه روښانه روڼ او ځلیدونکی لوړ منارډی چې دنبوت په ژبه ستایل شوی او د شمیره اوصافو او فضایلو څخه برخمن دی ترډې پورې دالله تعالی پیغمبر هغه دحق او باطل ترمنځ دبیلتون او فرق نښه یا علامه ګرځولی او دفاروق ویاړمن لقب یې ورکړی درسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی:

لقد کان فیما قبلکم من الامم محدثون فان یک احد من امتی فانه عمر(بخاري ۱توک ۵۲۱مخ مسلم ۲توک ۲۷۶مخ)

په تحقیق سره چې په وړاندینو امتونو کې محدثین تیردي، زما د امت محدث که دی نو هغه عمر دی، په بل روایت کې دي: صحابه وو له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل محدث څوک دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: فرښتي چې دچا په ژبه خبرې وکړي(تاریخ الخلفاء لسیوطي ۱۹۴مخ)

په دې وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ان الله جعل الحق علی لسان عمر وقلبه بیشکه الله جَلَّ جَلَالُهُ دعمر په ژبه او زړه حق جاري کړی دی.(ترمذی ۲توک ۲۰۹مخ)

راځۍ !دهغو احکامو او فرامینو څېړنه وکړو چې دعمر رضي الله عنه درضا اومنشاء سره سم نافذ اوپلي شوي څو خپل ایمان او یقین ته تازه ګي وبښو!

قُل مَن کَانَ عَدُوًّا لِجبریل فَاِنَّه نَزَّلَهُ عَلی قَلبِکَ بِاِ ذِ نِ اللهِ مُصَّدقاً لِمَابَینَ يَدَيهِ وَهُدی وبُشری لِلمُؤمِنِین(البقرة: ۹۷)

ورته ووایه څوک چې دجبریل امین دښمن وي ، پس داقرآن خو هغه دالله په حکم ستا په زړه نازل کړی ، دا قرآن دپخوانیو کتابونو تصدیق کوي او دایمان خاوندانو لپاره هدایت او زیری دی

مفسرین ددې ایت په شان نزول کې فرمایي:چې زیاتره وخت به حضرت عمر رضي الله عنه دیهودو مکتب ته راته او دهغوی سره به یې په مختلفو موضوعاتو خبرې کولې یوه ورځ یهودو درس په مهال داسې څه بیان کړل چې دقرآن موافق وو، حضرت عمر رضي الله عنه په دې خوشالا شو چې تورات هم دقران تائید کوي ناڅاپه په هغه ځای پیغمبر صلی الله علیه وسلم تیرشو یهودو وویل: عمره ورشه! خپل پیغمبر ته ورسره یوځای شه، حضرت عمر رضي الله عنه هغوی ته وویل: چې دتورات په رالیږونکي رب سوګند درکوم چې زما پیغمبر برحق دی کنه؟ یهودو چوپ شول دهغوی مشر دځان خلاصولو لپاره وویل: ستاسو پیغمبر ته حې کومه فرښته راوړي؟ حضرت عمر رضي الله عنه وویل: جبیریل آمین، هغوی وویلي: هغه خو زمونږ دښمن دی (ځکه په زمونږ په پلرونو یې عذابونه نازول او داسلام په خلاف زمونږ له پټو سازشونو

محمد صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خبرورکوي) که ستاسو پیغمبر ته میکایل وحې راوړلی کوم چې موسی علیه السلام ته هم وحې راوړه نو مونږ به ستاسو د پیغمبر نبوت منلی و، یعنې درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبوت نه یې په دې وجه انکار کاوه چې هغه ته وحې جبریل راوړي ، حضرت عمر له هغوی نه وپوښتل : دا دواړه فرښتې څه کار کوي؟هغوی جبریل تنګې او عذابونه راولي او میکایل باران او رحمتونه نازلوي، حضرت عمربیا وپوښتل:د دې دواړو مرتبه څه ده؟ دواړه دالله تعالی مقربې فرښتې دي یوه دعرش ښي خواته بله دعرش کیڼ لورته وې حضرت عمر وفرمایل: بیا دواړه دښمنان نشي کېدای، دایې وویل او روان شو، ددې جریان څخه درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبرولو لپاره نیغ هلته لاړ چیرې چې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دصحابه وو سره یوځای ناست و، درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نظر چې په عمر ولګیده وې فرمایل:عمره! ایا له تازهراغلې وحې دې خبر نکړم ؟عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عرض وکړ ولې نه یارسول الله! رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پورتنی ایت تلاوت کړ حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مخ دخوشالی نه وپرقیده، او ویلې یا رسول الله! د الله په هغه ذات سوګند چې ته یې په حق استولی یې ، زه ددې لپاره راغلم چې دیهودو سره دشویو خبرو نه تا خبرکړم خو الله تعالی زما دارتلو څخه وړاندې ته خبر کړې (اسباب النزول لامام ابو الحسن علی بن احمد النیشافوري ۱توک ۳۰۰مخ)

فَلَاوَرَبِّکَ لایُؤمِنُون الخ (النساء: ۶۵)

شان نزول

دیو یهودي او منافق ترمنځ په څه لانجه راغله دفیصلې لپاره هغوی دواړه رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته لاړل، رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو خبرو او دلایلو له اوریدو وروسته دیهودي په حق کې فیصله وکړه ، په منافق دا درنه تمامه شوه او دفیصلې له منلو یې انکار وکړ حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته په ورتلو مصرو، کله چې دواړه حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته لاړل ، حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وویل: تاسې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورشئ هغه به فیصله وکړي اوزه د فیصلې کولو واک نلرم یهودي وویل: هلته فیصله شوې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له منافق وپوښتل هغه وویل هو! رښتیا هم رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فیصله کړیده خو له هغه نه په فیصله کې تیروتنه (معاذالله) شوې ،حضرت عمر صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې په اوریدو لاړ له کوره یې توره راوړه د منافق سر یې قلم کړ، منافقانو دحضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلاف رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عریضه وکړه الله پاک دحضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حق کې پورته ایت نازل کړ(ابن کثیر ۱توک ۵۲۱مخ) کله چې جبریل علیه السلام دغه وحې راوړه وې فرمایل: ان عمر فرق بین الحق والباطل فسمی الفاروق (اسباب النزول ۱۰۸مخ) بیشکه عمر دحق اوباطل ترمنځ فرق کوونکی دی په دې وجه ورته فاروق نوم کیښودل شو.

هم دا راز لاندې ایتونه دنومووړي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د موافقت اومنشاءسره سم نازل شوي دي:

اذا جآء هم امرٌ مِنَ الامنِ اَوِ الخَوفِ الخ (النساء : ۸۳)

۱. کَمَا اَخرَجَکَ رَبُّکَ مِن بَیتِک بالحق (الانفال: ۵)
۲. مَن کَانَ عَدُوًّا لِلّٰهِ ومَلائکَتِهِ وَ رُسُلِهِ وجبرِیلَ وَمِیکَالَ فَاِنَّ الله عَدُوٌّ لِلکفرین(البقرة ۹۸مخ)
۳. یَاَیُّهَا الَّذین اٰمَنُوا اِنَّمَا الخَمرُ والمیسرُ (المائدة ۹۰)
۴. یَاَیُّهَا الَّذِینَ اٰمَنُوا لَا تَقرَبُوا الصَّلٰوة وَاَنتُم سُکٰرٰی(النساء: ۱۴۳)

* * *

د ځمکې مجهولین د اسمان معروفین

عبدالرؤف حکمت

د عیدالاضحی ورځ تېره شوه.ماښام مهال چې خلکو د خوښیو په اوج کې د قربانۍ د اختر لومړۍ ورځ پای ته رسوله.د هیواد په یوه لرې پرته سیمه کې د امریکایي طاغوت بې پیلوټه الوتکې د مجاهدینو په یوه موټر د توغندي برید وکړ.

امریکایي کنټرولېدونکی توغندوی په موټر ولګېد او د قربانۍ دورځې په ناوخته څلور تنه زلیان د اختر له جامو،ځلنده څنو،تورو سترګو او اختریزو نښنو سره د بارودو په لمبو کې لولپه او د شهادت په خوب ویده شول.

په هغه ورځ چې خلکو د الله تعالی حضور ته د قربانۍ وجیبه پرځای کوله،چا د پسه، چا د غوایي او چا د کوم بل حیوان په غاړه چاړه ایښې وه او د الله تعالی د رضا په خاطر یې وینه تویوله. دغو زلمیانودغه ورځ د اسمعیل علیه السلام په شان د خپلو ځانونو په قربانۍ ولمانځله، هغوی د ژوند په نوم قیمتي سرمایه د الله تعالی په لاره کې له لاسه ورکړه او په داسې ډول یې له دنیا رخصت واخیست چې بدنونه یې د بارودو په لمبو سوزیدلي او د پېژندلو وړ نه وو.

هغوی خپل شیرین د ځوانۍ عمرونه او نازولي بدنونه د بارودو په لمبو لولپه کړل،خو نه یې په کومې راډیو یا ټیلویزیون په اړه کوم راپور خپور کړ، نه یې نومونه نړۍ ته ښکاره او اعلام شول او نه یې کومه بله داسې نښه پاته شوه چې راتلونکي نسلونه یې وپیژني.

هوکې،زموږ تاریخ د همداسې ګمنامو اتلانو په وینو لیکل شوی دی. زموږ د فتحو بیرغونه همیشه د همداسې ګمنامو غازیانو، شهیدانو او قهرمانانو په اوږو د جبل الطارق، همالیا،البرز او قفقاز په غرونو رپیدلي دي. زموږ په تاریخ کې پیژندل شوي نومونه یوازې د څو تنو هغو قوماندانانو دي چې د جګړو مشري یې کړې او په مهمو موقفونو کې پاتې شوي دي. اما هغوی چې دغه ویاړمن بهیر ته یې د زړه وینې ورکړې،د خپل وینو په څپو یې د باطل زور او قوت لاهو کړی او د تاریخ تر ټولو عجیبې او غریبې حماسې یې پنځولي دي. هغوی زیاتره ناپیژندویه غازیان دي. راځئ دلته د مجلې دا ګڼه د همداسې ناپیژندویه قهرمانانو په یاد ښایسته کړو. هغوی چې موږ یې نه پیژنو، زموږ هیر دي. مګر الله تعالی یې ډېر ښه پیژني او د دوی دسوچه او خالص عمل پاداش یې ټول د قیامت ورځې ته ورته ساتلی دی.

د ځمکې مجهولین د آسمان مشهورین

د ځمکې له مجهولینو څخه مراد د الله تعالی هغه مخلص او بې ریاء بندګان دي چې ټل کوښښ کوي خپل نیک عمل د انسانانو له نظر او ځانونه له شهرت څخه پټ وساتي.ددوی معامله یوازې له الله تعالی سره وي.دوی د اخلاص ربښتیني معنی

پیژندلي او عملي کړي وي. ځکه اخلاص د بندګانو له ملاحظې نه د عمل تصفیې ته وایي.

د الله تعالی ددې مخفي او مجهولو عبادت ګذارانو که څه هم په دنیا کې تعریف او یادونه نه کیږي اما د الله تعالی په نزد د هر چا په نسبت معروف او محبوب وي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (إن الله یحب العبد التقي الغني الخفي) رواه مسلم. ژباړه : بې شکه الله تعالی تقوادار، غني او خفي سړی یعني چې تقوا یې پټه ساتلې وي خوښوي.

همدا شان حضرت معاذ رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (إن خیر عباد الله الذین إذا غابوا لم یفتقدوا وإذا حضروا لم یفطن لهم یخرجون من کل غبراء مظلمة) رواه ابن ماجه. ژباړه د الله تعالی په بندګانو کې غوره هغه کسان دي چې کله غائب شي نو څوک یې تلاش نه کوي او چې حاضر وي څوک یې درک نه کوي او له هرې تیارې او ظلمت څه وزي.

د امت لویانو او متقدمینو همیشه پردې اصرار درلود چې مؤمن باید د شهرت شوق ونه کړي بلکې په پټه دې ددین خدمت سرته ورسوي: حضرت عبدالله ابن

مسعود رضی الله عنه به خپلو ملګرو ته د نصیحت په مهال ویل: کونوا ینابیع العلم مصابیح الهدی أحلاس البیوت سرج اللیل جدد القلوب خلقان الثیاب . تعرفون في أهل السماء، وتخفون في أهل الأرض". ژباړه : شئ او له ځانه جوړ کړئ د علم چینې، د هدایت څراغونه ، د خیل کورسره ملازمین(لکه هغه فرش چې همیشه په کورکې غوړیدلی وي) او شئ لکه د شپې مشالونه چې زړونه مو نوي(ژوندي وي) او جامې مو زړې وي د اسمان د اهل تر منځ پیژندل شوي او د ځمکې د خلکو تر منځ پټ او ناپیژندیه یاست.

د امت متقدمینو نهایي کوښښ کاوو چې ګمنام پاته شي او په مخفي حالت کې ددین خدمت وکړي: حضرت حسین ابن علی رضی الله عنهما به د شپې په تیاره کې له کوره ووت او مسکینانو ته به یې صدقه ورکوله ترڅو ونه پیژندل شي. د لوی مصنف الماوردي په باره کې کتابونو لیکلي چې نوموړي په خپل ژوند هیڅ کتاب په خپل نوم نه و خپور کړی او غوښتل یې نوم یې پټ پاته شي خو له مرګ وروسته یې دا راز کشف شو چې نوموړی د ګڼو مشهورو کتابونو لیکوال دی. دغه راز د اسلام او دیني علومو په یونیم زرکلنه کتابخانه کې ډیر داسې تصانیف شته چې مصنفین یې نه دي پیژندل شوي. ځکه د هغه مهال په مؤمنانو کې للهیت او اخلاص خورا زیات و، پټ او په ګمنام حالت کې ددین خدمت به خوند ورکاوو او غوښتل به یې چې ټول عمل یې د الله تعالی د رضاء لپاره او په قیامت کې یې د بدلې برخه لویه شي.

خو دغسې خلک چې د اخلاص په تر ټولو لوړه مرتبه کې قرار لري. بندګان او د هغوی ترمنځ شهرت او تعارف یې نظرانداز کړی وي. دوی که څه هم په دنیا کې او د ځمکې په سر ګمنام او مجهولین بلل کیږي اما د الله تعالی په نزد مجهولین نه دي بلکې الله تعالی یې تر ټولو ښه پیژني او په هر عمل یې پوره علم لري (فمن یعمل مثقال ذرة خیرا یره) له همدې ځایه تاریخ لیکي چې د حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه په وخت کې یوه مسلمان په غزا کې لویه قهرماني وکړه، په کفارو یې جسورانه حملې وکړې او په پای کې دشهادت په مرتبه فائز شو. له غزا وروسته حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه د دغه ګمنام غازي د نوم او ځای پوښتنه وکړه. خودغه ګمنام

غـازي هيڅـا نـه پېژانـد. وروسـته حضرت عمر رضی الله عنـه وويـل : ما يضره ألا يعرفه عمـر ويعرفـه رب عمر. پروا يې نشته کـه عمر دغـه غازي نه پېژني حـال دا چې د عمـر رب جل جلا له يې پېژني.

صاحب النقب

د اســـلام علمي،جهـــادي، ثقافتي او روحـاني تـاريخ د ګمنامو اتلانـو پـه يـادونو ډک دی. هغـوی چـې ددیـن لپـاره یـې سـتر سـتر خدمتونـه کـړي. د جهـاد د اغزنـي لارې سخت مراحل يـې طی کـړي دي مګر تر شا يې کوم پـل او نښـه نه ده پرې ايښې تـر څـو يـې عمـل يوازې الله تعالی معلوم وي.

د مشت نمونه خروار په حيث به د ګمنامو اتلانـو لـه جملې د هغـه نومـورکي او ناپيژندويـه اتـل يادونـه وکړو چې په تـاريخ کـې پـه صـاحب النقب سره پيژندل شوی دی.

د روم د امپراطـــوري پـــه وړانـدې د اسـلامي فتوحـاتو پـه لـړ کې يو وخت د اسلامي لښکر مشر محمد بن مسلمه د رومـي کفـارو لـه يوې سختې او ناقابـل تسـخير کـلا سره مخـامخ شـو. مسـلمانانو دغـه قلعه محـاصره کـړه، خـو قلعـه ډېـره محکمــه وه،محکـم برجونـه او نــه ماتيدونکي دروازه يې درلوده. که به مسلمانان نږدې ورغلل کفارو به وربانـدې د غشـو بـاران پيـل کـړ نـو ځکـه دغې کـلا د مسلمانانو د پرمختګ مخه ونيوله.

کله چې ددغې سترې کلا فتحه وځنډېده او د مسـلمانانو بريـدونو وربانـدې هـيڅ نتيجه نه درلوده. يوه شپه د اسلامي لښکر لـه يـوه ناپيژندويـه مجاهـد سره فکـر پيـدا شو، چې که دغې کلا ته د ځمکې لاندې تونل ووهل شي او بيا چې کلـه مسـلمانان پـه کلا يرغل کوي د همدې تونل د لارې يو کس د کلا داخل ته د دروازې له خوا سره ځای ته ځان وباسي او د کلا لويه دروازه دمسلمانانو په مخ خلاصـه کـړي کيـدای شي دغـه کلا فتحه شي.

همدغه کس به په يوازې ځان هره شپه تلو او د دروازې له خـوا سره پـه تونـل بـه يې په پټه کار کاوو تر دې چې دڅو شپو په ترڅ کې يې د کلا داخل تـه تونـل ورسـاوو. بله ورځ چې مجاهدينو په کلا يرغل وکړ نو لوی شمير مجاهدين د دروازې لـه خـوا سره راټول و چې که په ديوالونو واوړي او دروازه خلاصه کړي.خو د کفارو غشـو ددوی مخـه ډب کړې وه. دغه وخت همدا ناپيژندويه مجاهد په تونل ننوت د کلا داخل ته يـې ځـان ورساوو او په پوره جـرأت يـې د کـلا لويـه دروازه د شـا لخـوا خلاصـه کـړه. پـه دې سره مجاهدينو په خلاصې دروازې هجوم ورووړ د کلا منځ ته ننوتل او څو شيبې وروسـته د نه ماتيـدونکې کـلا لـه برجونـو د تکبيـر غږونـه پورتـه شـول او د اسـلام د فتحـې بيـرغ وربانـدې رپاند شو.

مسلمان سرلښکر محمد بن مسلمه چې کله په دې ډول د کلا په فتحه وتوانېـد نـو له جګړې وروسـته يـې غوښـتنه وکـړه چې تونـل وهـونکي مجاهـد دې ورتـه راوسـتل شي.نومورې خپل ټول لښکر راغونډ کړ او اعلان يې وکړ هر چا چې تونـل وهلـی او د کلا دروازه يې خلاصه کړې ځان دې راوپيژني چې زه ورتـه انعـام ورکـړم. مګـر پـه ټـول لښکر کې هيڅوک هم رامخکې نه شو.

محمد بن مسلمه سبا بيا همداسې اعلان وکړ مګر هيڅوک رامخکې نه شو او نـه يې ځان وښود.تر دريو ورځو پورې محمد بن مسلمه همدا اعلان کـاوو او کوښـښ يـې کاوو چې صاحب النقب يا د تونل والا مجاهد پيدا کړي. مګر د صاحب النقب درک ورک و او هيڅا نه پيژاند. په دريمه ورځ محمد بن مسلمه قسم ياد کړ او ويې ويـل: زما دې قسم په الله تعالی وي چې صاحب النقب چې هرڅوک وي ماتـه بـه راځـي کـه پـه شـپه راځي يا په ورځ هر وخت چې يي خوښه وي خو يوځل به له ماسرهويني.

بله شپه چې محمد بن مسلمه په خپله خيمه کې يوازې ناست و په توره تياره کـې ورته يو تن راغی چې مول يې وهلی او خپله څيره يې پټه کړې وه.محمد بن مسـلمه لـه

مجهولیت او عدم تعارف د یوه مسلمان لپاره لوی نعمت دی.موږ که د امت د بزرګانو سوانح وګورو هغوی همیشه هڅه کړې چې خپلې نیکۍ پټې وساتي او د یوه عادي انسان په شان ژوند وکړي.

یوه ورځ عبدالله ابن مسعود صاحب له کوره راووت او تر شا ډیر کسان پسې روان ول. ده ورته وویل: علام تتبعوني؟ ارجعوا، فإنه ذلة للتابع وفتنة للمتبوع.ولې راپسې روان یاست بیرته وګرځئ څکه دغسې د یوچا بدرګه کول د بدرګه کوونکي لپاره ذلت او د بدرګه شوي لپاره فتنه ده.

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايلي دي چې: شهرت آفت است.یعني شهرت آفت دی. نن سبا په دنیا کې نااهله او نا خبره انسانان ډیرې پیسې په دې مصرفوي او ډیر اعمال ددې لپاره کوي چې ځان مشهور کړي.خو دغه عمل که څه هم دنیاوي لذت به ولري خو په قیامت کې د انسان لپاره د هلاکت سبب او دوزخ ته د دخول سبب ګرځیدلی شي. څکه شهرت غوښتونکي کسان که نیک کارونه هم کوي نو د هغوی بدله یعني مشهورتیا په دنیا کې ورکول کیږي نو څکه به یې د آخرت برخه خواره وی.

اما که څوک په دنیا کې د الله تعالی د رضا لپاره جهاد، علم،سخاوت، دعوت او نور دیني کارونه کوي. د شهرت تمه او شوق یې نه وي مګر خودبخوده په خلکو کې مشهور شي او خلک یې صفتونه کوي.دغه کار کوم ناوړه او خطرناک کار نه بلکې د الله تعالی لخوا بنده ته د نیک عمل یو عاجل او دنیوي بدل دی چې دده د اخرت اجر ورباندې نه کمیږي لکه په حدیث شریف کې چې ورته اشاره شوې ده. عن أبي ذرّ رضي الله عنه: قيل يا رسول الله أرأيتَ الرجلَ يعمل العمل من الخير ويحْمَدُه الناس عليه؟ فقال : (تلك عاجل بشرى المؤمن) حضرت ابي ذر رضی الله عنه روایت کوي چې یو چا له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چې ماته خبرراکړه که څوک یو نیک کار کوي او بیا یې خلک صفت کوي دا څنګه دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: داد مؤمن لپاره عاجل بشارت دی چې په دنیا کې ورته رسیږي.

نو راځئ دعاء وکړو چې الله تعالی مو له ګمنامو عابدینو،مجاهدینو او ددین د خادمینو څخه حساب کړي او د ریاء او سمعت شوق مو دې الله تعالی په خپل قدرت سره له زړونو او فکرونو وباسي.

اللهم انا نعوذبک من أن نشرک بک شینا نعلمه و نستغفرک لما لا نعلمه. آمین یا رب العلمین

راغلي تن څخه پوښتل : ته څوک یې آیا صاحب النقب یا هغه څوک چې تونل یې وهلی هغه تن خو به نه یې؟

راغلي تن ځواب ورکړ: صاحب النقب نه غواړي چې د لښکر امیر په خپل قسم کې حانث شي نو څکه غواړي له تاسو سره ووینې مګر د هغه څو شرطونه دي که تاسو یې ومنئ. محمد بن مسلمه وویل: شرطونه یې څه دي؟ راغلي تن وویل : دا چې له هغه نه به د نوم او نور تعارف پوښتنه نه کوئ.د هغه مخ به ورباندې نه لوڅوئ او هغه ته به هیڅ جائزه یا انعام نه ورانړدې کوئ. محمد بن مسلمه دا شرطونه ومنل او بیا راغلي تن وویل :زه صاحب النقب یم. او له دې ویلو وروسته په چټکو ګامونو د امیر له خیمې ووت او د لښکر تر منځ د شپې په تیارو کې غیب شو.

محمد بن مسلمه چې ددې مجاهد بې ریا او مخلصانه عمل ورته ډیر خوند ورکړی و همیشه به یې په دعاء کې ویل : اللهم احشرني مع صاحب النقب. اې خدایه ما له صاحب النقب سره راپاڅاوه.

د پای خبره

د افغانستان احمقانه جنګ

لیکوال : اریک مارګولیس
ژباړن : نثار احمد صمد واصفي

پنځلس کاله مخکې همدا هفته امریکا د خپل تاریخ تر ټولو اوږده جګړه راپیل کړه چې هغه د لیرې پروت افغانستان یرغل او نیول وو .ګاونډۍ پاکستان مجبور کړای سو چې د امریکا دغه یرغل ته آسانتیاوې برابرې کړي یا دا چې په بم وریو سره به یې هوار کړي.

امریکا د سپټمبر د یوولسمې د وینړې حملې له امله سخته خښمېدلې وه .د بوش حکومت په بیړه کې بیده سوی و . ډیرۍ امریکایان په دې فکر دي چې د سپټمبر د یوولسمې حمله د جنګ طلبه نوو محافظه کارانو لخوا یوه جوړه سوې‌داخلي طرح وه . افغانستان یې د امریکا د انتقام یو هدف وټاکی سره له دې چې د سپټمبر د یوولسمې حمله (که رښتیا هم له بهره سوې وي) په جرمني او هسپانیه کې طرح سوې وه . ځان مرګي بریدګرو خپل دغه له سره تیر مأموریت داسې اعلان کړ چې غواړي په دې توګه امریکا ته د سعودي عربستان د سپیځلو سیمو د نیولو او هم د اسراییلو لخوا د فلسطین د اشغال ځخه د واشنګټن د څرګند ملاتړ سزا ورکړي.

دغه منطقي او مستدله څرګندونه ډیر ژر د بوش د حکومت لخوا پټه کړای سوه اوادعا یې وکړه چې د سپټمبر د یوولسمې بریدګر ، چې اکثریت یې سعودیان وو ، د امریکا « ارزښتونو » او « آزادیو » لمسولي وو .همدغه نامعقولیت د اسلام دښمنۍ هغه تخم وکرځ چې همدا نن یې موږ وینو او « د ترور پر ضد یې درواغجن جنګ » رامنځته کړ.

یو کمونیستي ضد جهادي اسامه بن لادن یې د امریکا له پاره د یو ستر شیطان په حیث وپرساوه او بدنامه یې کړ . په افغانستان کې « د تروریستانو د روزنې ګوماني کمپونه » چې ما په خپلو سترګو لیدلي وو ، د پاکستاني استخباراتو لخوا د روزل سوو جهادیانو له پاره وو چې د هند تر اشغال لاندې کشمیر کې جنګېدل.

لیرې پروت ، غم لړلی او غریبی افغانستان په حقه « د امپراتوریو قبرستان » بلل سوی دی . هغوی عبارت وو د لوی سکندر ، چنګیز خان ، تیمور ، مغولو او سیکانو څخه . برتانوي امپراتوری په نولسمه پیړۍ کې پر افغانستان درې ځله تیری کړی و . شوروي اتحاد ، یعنې د نړۍ تر ټولو ستر ځمکني طاقت په ۱۹۷۹ کې پر دې هیواد یرغل وکړ چې هدف یې په عربي سمندرګي او خلیج کې د یو ګودر لرل وو . دا ټول د هندوکش د زیړو ښتني جنګیالیو اقوامو لخوا مات سوي دي.

خو احمق جورج بوش پر دغه هیواد باندې چې ملایکې هم پکښې بیریږي ، په عبث ډول ودانګل تر څو هغه تسخیر نه منونکي خلک فتح کړي چې جنګ د هغوی د خوښې وړ مشغله ده.

زه د هغو افغان مجاهدینو سره مل وم چې په ۱۹۸۰ لسیزه کې د شوروي نیونې پر ضد جنګېدل ، او بیا د ۱۹۹۰ لسیزې په لومړیو کې د نوو رامنځته سوو طالبانو سره هم وم . لکه څنګه چې ما په خپل هغه کتاب کې چې په همدې باره کې دی او عنوان یې« جنګ د نړۍ پر بام » دی ، هم لیکلي دي چې پښتانه جنګیالي تر ټولو هغو زړه ور دي چې ما تر ننه لیدلي دي . دوی تل ډیري پخوانۍ وسلې لرلې دي خو جرأت او زړه ورتوب یې له حده وتلی دی.

په ۲۰۰۱ کې د امریکا د یرغل پر مهال د امریکې ملګرې پخپله د شمال ایتلاف د هیروینو او تریاکو تاجک کاروباریان ، د شورویانو پخواني

کمونیسټ ملګري او د شمال ازبکان وو چې د پښتنو د وینو تږي وو.

طالبانو ، چې د سپټمبر د یوولسمې په حمله خبر هم نه وو ، د افغانستان د هیروئینو او تریاکو ۹۰ سلنه کاروبار بند او ختم کړ . خو د امریکا ملګرو یعنې د شمال ایټلاف هغه بیرته راپیل کړ او افغانستان یې یو ځل بیا د نړۍ د هیروئینو او تریاکو تر ټولو لوی تهیه کونکی ثابت کړ.

د امریکا اشغالي ځواکونه ، د یو ستر تاکتیکی هوایی ځواک په ملاتړ په افغانستان کې پخپله د خورا جنایت کارو عناصرو سره ملګري سول او د سي آی اې د ګومارلو یو ګوډاګی رژیم یې نصب کړ.

سي آی اې پخواني کمونیسټ استخباراتي عناصر ، چې په شکنجو او سختو ظلمونو کې تاریخي ریکارډ لري ، پر قدرت راوستل تر څو د طالبانو سره وجنګیږي.

تیره اوونۍ د افغانستان له پاره د واشنګټن د مرستو خاص تفتیش یو بالکل غوځ راپور خپور کړ چې هغه دا وښودل چې څنګه عامه فساد ، رشوت ، معاوضه پیسو او مخدره بیزه روپیو د یوې دوامداره افغاني ټولنې په جوړولو کې د امریکا هڅیله مځکې وهلې دي.

دا لا څه ، که د امریکا ځلیرویشت ساعته هوایی حملې نه وای ، نو په کابل کې به لاس کښېنولي افراد خورا ژر جارو کړای سوي وای . افغان اردو او پولیس رژیم ته وفاداره نه دي ؛ هغوی یوازې د امریکایي ډالرو له پاره جنګیږي . کابل هم د بغداد غوندې د دښمنیو په سمندر کې د امریکا تر سیورې او ساتنې لاندې یوه ټاپو ده.

د نړیوالې څېړنې (ګلوبل ریسرچ) د راپور له مخې دغه پنځلس کلن افغان جنګ او عراقي جګړه امریکا ته په شپږ ټریلیونه ډالره تمامې سوې دي .د تعجب یوه کوچنۍ بیلګه یې لا دا چې د پاکستان د ساحل څخه افغانستان ته د تیلو رسولو یو ګیلن پنتاګون ته په څلور سوه ډالره تمام سوی دی.

د ځینو اټکلونو او ارزونو له مخې دغه جنګ د هر امریکایي له پاره په ۳۳۰۰۰ ډالرو تمام سوی دی ، خو امریکایان دغه پیسې د یو خاص جنګي ټکس (مالیې) په توګه نه ورکوي ،حال دا چې باید همداسې وای . خو بوش امر وکړ چې د عراق او افغانستان د جګړو ټول مصارف دې په ملي پور کې پټ کړای سي.

په افغانستان کې په رسمي توګه ۲۲۱۶ امریکایي پوځیان وژل سوي او ۲۰۰۴۹ هم سخت ټپیان سوي دي . نور ۱۱۷۳ غیر پوځي امریکایي ګومارلیهم وژل سوي دي . لا اوس هم یو زیات شمیر په پیسو استخدام سوي امریکایي ګومارلي په افغانستان او عراق کې پاته دي.

د نوبل د سولې د جایزې ګټونکي بارک اوباما ژمنه کړې وه چې تقریباً ټول امریکایي پوځیان به تر ۲۰۱۶ پورې د افغانستان څخه راباسي .خو د دې برعکس نور امریکایي پوځیان ورلیږل کیږي تر څو د کابل ګوډاګی رژیم د خپلو خلکو څخه وساتي.

د طالبانو او د هغوی د محدودو ملګرو مقاومتي غورځنګ (چې امریکایي خپرونې یې د پنتاګون د خولې په پېښو سره تروریستان بولي) مسلسل سیمې نیسي او افراد یې ډیریږي.

تیره اوونۍ د امریکا د سپور پوځ یعنې ناټو او نورو مأدون دولتونو اړونده د افغانستان له پاره د بسپنو داوطلبانه کنفرانس دې ته اړیستل سو چې نور ۱۵،۲ بلیونه ډالره ورکړي او احتمالاً نور پوځیان هم دغه نا امید کونکي جنګ ته ولیږي.

د امریکا نفس دا نه قبلوي چې د کوچني او کمزوره افغانستان لخوا ماتې ومني او یا هم دغه ستراتیژیکی هیواد د چین په نفوذي ساحه کې ولویږي.

امریکا په شوم ډول هند هڅوي چې په افغانستان کې شه ډیر او پراخ رول ولوبوي چې په دې سره دلتهد پاکستاني ـ هندوستاني ـ چینایي ډغرو او شخړو خطرناکه تخمکري.

خو د کنفرانس په دغه سالون کې د غتې تورې بیزو یادونه ونسوه چې هماغه د امریکا د حکومت تر سیورې او ننګې لاندې په نړۍ کې د هیروئینو ، تاریاکو او مورفینو تر ټولو ستر تولیدونکي هیواد یعنې افغانستان رول دی.

هو ، د امریکا را روان نوی ولسمشر ـ به د دغه شرمناک مشکل وارث وي .

د امریکایي یرغل

په وړاندې زمونږ مسوولیت څه دی؟

محمد جواد

نن تېره ورځ په ډېر جرءت او مېړانه سره د اسیا او افغانستان په زړه (کابل) کې د ۷م اکتوبر هغه ، له ظلم ډک، وحشي- تور کرغېړن، ناروا تېری وغندل شو او تل لپاره به یې موږ افغان مؤمن مسلمان ولس په سختو ټکو غندو، چې له امله یې زموږ مؤمن مظلوم ولس څخه د ارامی، وروروليٰ، سوکاله، متحد، اطمناني ژوند واخیست!!

له کومې ورځې، چې امریکایي وحشي- صفته حکومت زموږ په سپېڅلې حریم او خاوره تجاوز کړی له هم هغې شپې، ورځې نه د بشردوستی او امن ترعنوان لاندې په مسلسل ډول مو وره، ستر نر، ښځه، سپین ږیري په بې رحمانه ډول وژل کیږي دا خو لا پرېږده، د مور او میندو په ګېډه کې له نړۍ ناخبره نالیدلي معصوم ماشومان مو هم له ورته خطر سره مخ او وژل کیږي!!!

که د اسلامي شریعت او انساني عقل او حقیقت له مخې ځېر شو، نو دا به معلومه ،ثابته شي، چې د نړۍ امن او انسانیت چاه له ګواښ او خطر سره مخ کړی، موږ افغانانو او که امریکایانو؟؟

جواب: په حقیقت کې که صادقانه یو طرفه قضاوت وشي ، انسان خو لاپرېږده هوایي، سمندري او ځمکني حیوانات مرغان، ماهیان به هم پدې اعتراف وکړي چې موږ له امریکایي شیطاني او دجالي لښکر نه بې امنه او خطر کې یو!!!

راځئ د افغانستان مظلوم بې دفاع مؤمن ولسه چې خپل اسلامي، افغاني او انساني سالم فکر او عقل له مخې دوست او دښمن درک او وپېژنو او بیا چې کوم اسلامي، افغاني انساني مسؤولیتونه چې نن راته متوجې او پرې مکلف یو د هغه په سرته رسولو کې یې یو بل ته د تعاون، وحدت ،اخوت او مینې لاس ورکړو، ترڅو له داسې ناوړه ظلم، وحشت، غلامۍ نه خلاصون، نجات ترلاسه کړو او پرځای خپلواک، متحد، ازاد او شرعي ، ملي ژوند او نظام رامنځ ته کړو ، یو بل ته له انتقام، ضدیت، تعصب او له ناوړه شخصي- دښمنۍ څخه لاس واخلو او لکه څرنګه چې مؤمنان او مسلمانان یو، همداسې باید ریښتوني مخلص خپل شرعي حکم او قانون ته تسلیم شو، ترڅو په ورځ دې محشر- رب العالمین ته شرمینده او رسوا نشو او هغه څه وکړو چې پرې مکلف او مسؤول ګڼل کیږو او له تېر ماضي موجوده نه لوی عبرت او پند واخلو. الله عزوجل دې وکړي چې نور الله عزوجل او حق ته تسلیم شوو.

د اسلام او د وطن ازادی، خپلواکۍ دیو با امنه شرعي ملي نظام په هیله.

د علم او جهاد د سنګر له خادم

شیخ الحدیث مولوي ندا محمد ندیم صاحب سره مرکه

مرکه کوونکی: أبوعابد

پوښتنه

محترم شيخ صاحب! تاسو ته ښه راغلاست وايو او مرکې ته له امادګۍ څخه مو منندوی يو که له هرڅه مخکې که زموږ لوستونکو ته ځان معرفي کړئ مهرباني به مو وي.

ځواب

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على إمام المجاهدين المبعوث رحمة للعالمين نبينا محمد صلى الله عليه وسلم وعلى آله وأصحابه والتابعين ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين ، امابعد :

زما نوم مولوي ندامحمد نديم د کندهار ولايت اوسېدونکی د نظامي چارو کمېسيون د شمال لوېديځ زون د حلقې مسئول يم .

پوښتنه

ستاسو د مسؤليت په مربوطو ولاياتو کې د موجوده جهادي وضعيت په اړه که معلومات راکړئ.

د هر ولايت لنډ جاج چې څومره ساحات يې د مجاهدينو په ولکه کې دي او څومره د دښمن. د مجاهدينو قوت څومره دی.له امارت سره وفاداري او خپل منځي اتحاد په باره کې معلومات راسره شريک کړئ؟

ځواب

د شمال لوېديځ زون د حلقې اړوند ولايتونه له فارياب ، بادغيس ، جوزجان ، سرپل او غور څخه عبارت دي ، په مجموعي ډول د دغو ولاياتو په اکثرو سيمو کې د اسلامي امارت حاکميت ټينګ دی او دلته مسلمان اولس د امن او د شرعي نظام په سيوري کې له سوکاله ژوند څخه برخمن دی .

ددې لپاره چې د حلقې د اړوندو ولاياتو د جهادي وضعيت انځور مو په سم ډول وړاندي کړی وي د هر ولايت معلومات په خلاصه ډول وړاندي کوو :

فارياب : په فارياب ولايت کې د خواجه ناموسی او خيبر ولسوالی په بشپړ ډول د مجاهدينو په واک کې دي او د پښتونکوټ ، جمعه بازار ، شيرين تګاب ، دولت آباد ، لولاش ، بندر او المار ولسواليو يوازي مراکز له دښمن سره دي او له مرکزي ودانۍ پرته نوري ټولي سيمي د مجاهدينو په کنټرول کې دي ، د قيصار او چهلګزي ولسواليو له نيمايي زياته برخه د مجاهدينو او پاته د اجيري اداري په کنټرول کې ده او د اندخوی ، بلچراغ او ګرزيوان په ځينو سيمو کې مجاهدين واکمن دي او هلته خوځنده جهادي تحرکات لري .

په مجموعي ډول په فارياب ولايت کې مجاهدين الحمدلله د لوړ مورال په لرلو سره په قوت کې دي او دښمن د سختي وارخطايي له امله يوازي د ځان د دفاع په فکر کې دی ، د فارياب ولايت مرکز ميمنه ښار له تېر کال راهيسي کله چې د خواجه ناموسی ولسوالي په بشپړ ډول فتحه سول د مجاهدينو تر دوامداره ګڼار او تهديد لاندي دی او که د الله جل

جلاله مرسته وه د میمنې ښار فتحه کول به مجاهدینو ته ډېر گران کار نه وي ، په فاریاب ولایت کې اوسمهال د ۴۰۰۰ په شاوخوا کې فعال مسلح مجاهدین په خدمت بوخت دي چې له ازبکو ، پښتنو ، تاجکو ، ترکمنو او عربو قومونو څخه تشکیل شویدي .

بادغیس : د بادغیس ولایت تگاب عالم ولسوالي په بشپړه ډول د مجاهدینو په واک کې ده ، د بالامرغاب ، دره بوم او جوند ولسوالیو یوازې مرکزې ودانۍ له دښمن سره دي نوري ټولي سیمي یې د مجاهدینو په واک کې دي، د دغه ولایت د نورو ولسوالیو اکثره سیمي له مجاهدینو سره دي او د گېو ولسوالیو لاري د مجاهدینو له لوري تړل شویدي ، دښمن اکثرو ولسوالیو ته د هوا له لاري اکمالات کوي ، غورماچ ولسوالي چې له ډېره وخته د مجاهدینو تر محاصرې لاندي وه (همدا نن چې ستاسو سره مرکه کوو) د مجاهدینو تر بریدونو لاندي نیول شوې امید سته چې الله تعالی به یې مجاهدینو فتح ورنصیب کړي ، په بادغیس ولایت کې د ۶۰۰۰ په شاوخوا کې مجاهدین په جهادي خدمت بوخت دي.

سرپل : د سرپل ولایت کوهستانات ، شِرم ، الفتح او البدر ولسوالي په بشپړ ډول د مجاهدینو په ولکه کې دي (باید ووایو چې الفتح او البدر ولسوالي چې مخکې د کوهستانات ولسوالی برخې وې د اسلامي امارت له لوري د ملکي اړتیاوو او نظامي ملحوظاتو په نظر کې نیولو سره نوي تأسیس شوي دي) د دغه ولایت د نورو ولسوالیو یا یوازې مراکز او یا هم د مراکزو په گډون ډېري کمې سیمي له دښمن سره دي پاتي ټولي سیمي یې د مجاهدینو تر واک لاندي دي ، ددغه ولایت مرکز هم د مجاهدینو تر څار لاندي دي او د مرکز اکثره سیمي یې د مجاهدینو په لاس کې دي ، په سرپل ولایت کې د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې فعال مسلح مجاهدین حضور لري .

جوزجان : که څه هم د سږ کال په جریان کې د دوستم د زرگونو گلم جم ملېشو روزمره تحرکاتو او فوځي عملیاتو د جوزجان ولایت د مجاهدینو د پرمختگ مخ ډب کړیوه خو مجاهدینو نه یوازې داچې د قوشتېپې او درزآب ولسوالیو له مراکزو پرته ټولي سیمي یې په خپل کنترول کې وساتلې بلکه ددغه ولایت په نورو ولسوالیو کې یې هم وحشي دښمن ته د چریکي حملو په ترڅ کې پراخه مرگ ژوبله ور واړول ، د قوشتېپې او درزآب ولسوالیو مراکز همدا اوس د مجاهدینو تر محاصرې لاندې دي او د فتح کېدلو ډېر امید یې لرو، په جوزجان ولایت کې د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې مسلح مجاهدین په جهاد بوخت دي .

غور : د غور ولایت مرغاب ولسوالي په پشپړ ډول د مجاهدینو په ولکه کې ده ، په نورو ولسوالیو کې مجاهدین فعال حضور لري او د اکثرو ولسوالیو یوازي مراکز له دښمن سره دي ، په غور ولایت کې د ۲۰۰۰ په شاوخوا کې مجاهدین د اسلامي امارت په لیکو کې جنگېږي .

د حلقې د اړوندو ولایاتو مجاهدین الحمدلله په پوره اتحاد سره سپېڅلي جهادي دنده مخته وړي او هیڅ ډول قومي ، ژبني او سمتي اختلاف یو له بل سره نلري ، له مسئولینو نیولې تر عامو مجاهدینو پوري مکمل د اسلامي امارت په اطاعت کې دي او چې امارت کوم څوک د مسئول په توگه ورته ټاکي ټول یې اطاعت پر ځان لازم بولي ، همدا اوس د فاریاب ولایت والی د سرپل ولایت اوسېدونکی په قوم تاجک دی ، مرستیال یې پښتون او د ولایتي کمېسیون مسئول یې ازبک دی ، دوی د فاریاب اوسېدونکي دي ، په ټول فاریاب کې له یوه عادي مجاهد څخه به هم وا نه ورې چې ولې مو دا مسئولین راته ټاکلي دي ، همدا ډول د غور ولایت والي د هلمند ولایت اوسېدونکی او د بادغیس ولایت والي د دایکندي ولایت اوسېدونکی دی ، د حلقې په ولایاتو کې د مجاهدینو تر منځ د همکارۍ ، یو له بل سره د مرستي او محبت په اړه به د مثال په ډول ووایم چې د تېر په څېر سږ کال هم د بادغیس ولایت مجاهدینو په فاریاب کې له مجاهدینو سره په گډه عملیات وکړل او د فاریاب ، بادغیس او سرپل مجاهدینو په غور کې د غور له مجاهدینو سره یو ځای په پوره هماهنگي جهادي عملیات تر سره کړل ، د

مجاهـــدينو د فـــوځي روزني او تسـليحاتي اکـمال پــه برخــه کــې الحمـدلله ښه پرمختـګ سـوی دی، یوازي د فاریـاب ولایـت لـه معسکر څخه پدې وروستیو کې لسګونه تنه مجاهدین فارغ شـوي دي، د حلقې د اړوندو ولایاتو مجاهدين د جګړې لپـاره همـدا اوس ۲۰ عـرادې زغـره والي شـوبلې او ۶۰ عــرادې رېنجـر موټـران لـري، د ګڼـو فتوحـاتو او لـه دښمن څخه د زیاتو غنائمو نیولـو پـه سـبب اوس الحمـدلله تــر ډېــره مجاهـــدين خودکفـــاء شـــوي او د ضرورت په اندازه ثقیله اسلحه لـري، د مثال په ډول په سرپـل ولایـت کـې دوه کالـه مخکـې مجاهـدينو يـوه دهشـکه هـم نـه درلـوده خـو اوس الحمـدلله لـس میلـه فعـالې دهشـکې لري.

پوښتنه

ستاسو د مسؤلیت پـه مربوطـو ولایـاتو کـې لـه امـارت سره ولسي- ملاتړ څومره دی؟ که له مجاهدينو او امـارت سره د اولسي-ملاتـړ ځينـې مثالونه راسره شریک کړئ؟

ځواب

د حلقې پـه مربوطـه ولایتونـو کې الحمدلله لـه مجاهـدينو سره سـل په سلو کې اولسي ملاتړ موجود دی، ددغو سیمو خلک مجاهدين خپـل مُحسنان بولي، دغه خلـک مخکنیـو زورواکـو، غلـو، ټوپکیـانو او نـورو وحشي ملېشو سخت ځورولي وه، ددوی مال او ځان ددوی په اختیار کې نـه وو، ظالمانـه باجونه يې ورڅخه اخيستل او که به يې وواړه د پوښتني څوک يې نه وو. د اسلامي امـارت مجاهدين دوی ته د نجات د فرشتو په شان دي، د مجاهـدينو د حاکمیـت پـه سـاحو کـې دوی عزتمن ژوند لري، اسلامي محاکم يې ټولي دعواوي ورفيصـله کـوي، شکايات يې اورېدل کېږي او له خپلو ټولو اسلامي او انساني حقوقو څخه برخمن دي.

د اسلامي امارت له مجاهدينو سره يې هره مرسته او همکاري د مثال وړ ده، خـو پـه لاندې ډول يې دوه مثالونه وړاندې کوو:

تقريباً يوه نيمه مياشت مخکې د بادغيس ولايت په بالامرغاب ولسوالۍ کې له دښمن سره سخته جګړه وسوه، ددغې جګړې په جريان کې د سيمې خلکو په خپلو کورونو کې پسونه حلال کړيوه او ښه سم يې پخ کړيوه او بيا يې د مجاهـدينو سـنګرونو تـه راوړل، د جګړې په سختو شېبو کې يې مجاهدينو ته ډوډۍ او غوښې ورسـولې، د مرميـو پـه بـاران کې مجاهدينو ته ډوډۍ رسول تاسو خپله اندازه کړئ چې اولس له مجاهـدينو سره څـومره مينه لري؟

د فارياب ولايت په ګرزيوان ولسوالۍ کې د روژې پـه مياشـت کـې سـختې جګـړې وسوې چې پـه تـرڅ کـې يـې درې تنـه قهرمـان مجاهـدين شـهيدان سـول، کلـه چـې زه د شهيدانو د کتلو لپاره راغلم نو د سيمې ګڼ شـمېر علـماء او سـپين ږيـري هـم د شـهيدانو ليدني ته راغلي وه، ما چې کله د شهيدانو له مخونو څادرونه پورته کړل او مـوږ د شـهيدانو مخونه وليدل د ټولو له سترګو اوښکې رواني وې، د سيمې علـماوو او سـپين ږيـرو دومـره وژړل لکه د خپلو اولادونو پر مرګ چې ژاړي.

ددې ترڅنګ د اکثرو سيمو خلکو د خپلو سيمو مجاهدينو ته اسلحې ور رانيـولې او په خپله خوښه يې ناوخته ناوخته اکمال هم کوي، د حلقې په ټولو ولاياتو کې مو دا ليدلي چې کله جګړه پيل سي د سيمې ټول خلک په خدمت کې وي، که په جګړه زخمي پېښ سي ډاکټران يې خدمت خپل فرض بولي که د شهيدانو د انتقال ضرورت وي خلک خپـل موټران په خپله خوښه د مجاهدينو خدمت ته وړاندې کوي.

پوښتنه

د عمري عملياتو په لړ کې يا له سږ کال پسرلي را پـديخوا پـه دې ولايـاتو کـې کـوم پرمختګونه شوي دي که يې په اړه معلومات راکړئ؟

ځواب

د عمري عملياتو له پيله تر اوسه الحمدلله د حلقې د اړونـدو ولايـاتو مجاهـدينو ګڼ پرمختګونه کړي چې په ترڅ کې يې پراخې سيمې لـه دښـمن څخـه تصـفيه کـړي او ګڼـه

مـرگ ژوبلـه يـې ور اړولـې ده ، پـه لاندي ډول د هغو سيمو نومونـه ذكـر كوو چي د عملياتو په لړ كي تر اوسه مجاهدينو له دښمن څخه نيـولي دي :

فاريـاب : د قيصـار ولسوالي د خواجـه ذات خــوان ، اركليــک و زعفـران ، بيـدكي ، چكنـک ، جيـره غار، طرقچي بالا و پايـان ، امبگـي ، چكنه ، آقمـس ، بوره غـان او طـوى مســت ســيمي ، د پښــتونكوټ ولسوالي د خورترک ، د خو كليـو پــه شـمول تـېلان او غنـده سـنگ سيمي ، د گرزيـوان ولسوالي د گـنج او تگـاب ايشـان سـيمي ، د شـيرين تگاب ولسوالي د اسـتانه بابا پراخـه ســيمه ، د لــولاش ولســوالي د قـدوق او شـوره سـيمي ، د بنـدر ولسوالي د نهستان سيمه ، د بلچـراغ ولســوالي د كتــه تــاش اوكارخانــه سيمي ، د جمعه بازار ولسوالي د كله كلان ، قره شيخي او خواجـه قشري سيمي او د المـار ولسوالي د قرايـي پراخه سيمه (د قرايي پراخـه سيمه د اولـــس د اړتيــــاوو او د نظــــامي ملحوظـاتو پـه نظـر كـي نيولـو سره د اسلامي امارت له لوري د خيبر په نوم مستقله ولسوالي اعلان كړل سول) ، په پورته مفتوحه سيمو كـي اكـثره لـه مجاهـدينو سره دي او لـه څينـو يـې مجاهدينو بيرته عقب نيشيني كړېده .

بادغيس : په قادس ولسوالي كي د غيب علي او لوگر سيمي ، په جوند ولسوالي كـي له اربكيانو څخه د كوريج په سيمه كې د بدلنه كلي تصـفيه ، پـه غورمـاچ ولسوالي كـي دمستوخېلو سيمه ، په آب كمري ولسوالي كـي لـه اربكيـانو د سـينه اردو د سـيمي د لسـو كليو تصفيه او په مرغاب ولسوالي كي د اكازو د پراخي سيمي تصفيه .

سرپل : په سـنگچارک ولسـوالي كـي دمسـجد سبز او توپخـانې سـيمي ، د تاغـاى خواجه او تبر مهمي سيمي او د گجـوا مهمـه سيمه او پـه سـوزمه قلعـه ولسـوالي كـي د چاريک ، تنزيل ، گوركاب او دوو نورو سيمو تصفيه .

جوزجان : پـه فيض آباد ولسوالي كي لـه اربكيـانو دگرجـک دمهـم او سـتراتيژيک كلي تصفيه او د ولسوالي اړوند د نورو ١٦ مهمو كليو تصفيه ، پـه قوشـتېپه ولسـوالي كـي د شېر بيگ او نورو پراخو سيمو تصفيه ، په خانقـاه ولسوالي كـي لـه اربكيـانو د لسـو كليـو تصفيه او اوس تازه د قوشتيپې ولسوالي چقمه چقور سيمه او د كلان كلا لـوى كلـى فتحـه كېدل .

غور : په شينكوټ ولسوالي كـي د سـختو جگـړو پـه تـرڅ كـي دلويـو سـيمو فـتح ، دساغر ولسوالي په لوړ طرف كي د پراخي سيمي فتح او له اسلامي امـارت څخـه د ملاتـړ په ترڅ كي د چخچـران او چهارصـدې ولسـواليو د سـومک او فلاخـر پراخـي سـيمي او د شهرک ولسوالي يوه پراخه سيمه د مجاهدينو تر واک لاندي راتلل .

د پورته ذكر شويو سيمو له نيولو سربېره مجاهـدينو د عمـري عمليـاتو پـه تـرڅ كـي لسگونه پوستې او نظامي مراكز هم فتح كړي او سلگونه دښمنان يې مړه او ژوبل كړيـدي ، همدارنگه ددغو عملياتو په ترڅ كي مجاهدينو ددښمن گڼ شـمېر نظـامي عـراده جـات او ډول ډول وسلې او مهمات هم غنيمت كړيدي .

پوښتنه

جنرال دوستم تېر كال او د سږكال په اوږدو كې بيا بيا د فارياب، جوزجان او سرپـل ساحو ته پوځي قوې ورووستلې او د مجاهـدينو د ځپلـو ادعـاء يـې وكـړه. كـه د نومـوړي د ادعاوو په اړه معلومات راكړئ چې آيا رښتيا يې لاسته راوړنه درلوده او كه د مجاهـدينو پـه وړاندې يې شكست وخوړ.

ځواب

تاسو ته معلومه ده چي الحمـدلله دوسـتم د تېركـال او سـږكال پـه ټولـو عمليـاتو كـي مطلق ناكامه او شرمنده سو ، دوستم غواړي چي د فوځي فشار ، بيلابيلو فريبونـو او تبليغـاتو څخه په استفاده بيرته خپل پخواني سيمه ايز اقتدار تر لاسه كړي او د خپل نفـوذ لـه سـاحو څخه مجاهدين پر شا كـړي ، هـر وار چـي سـيمي تـه راځـي زرگونـه ملېشـې ، الـوتكي او سلگونه ټانكونـه ورسره وي ، د نظـامي فشـار څخـه پـه اسـتفادې پـر مجاهـدينو څـو لـوى

بریدونه وکړي خو چې د مجاهدینو استقامت او مقابله ووینې او لـه دې لاري له خپلي کامیابی نـا امیده سي بیا نـو د قـومي او ژبنـي اختلافـاتو پـه اچولـو لاس پـوري کـړي ، پـه سیمه کـي ازبکـو مجاهـدینو تـه احـوال رالیـږي ، تلفونونـه ورتـه کـوي او پـه مخابرو کـي ږغونـه وربانـدي کـوي چي تاسو خو زما قوم یاست تاسو ولي د پښتنو ملګرتیا کوئ ؟ راسئ زه بـه مـو ونـازوم او چـي تاسـو غـواړی پیسې ، چوکی او هر ازادي به درکړم خو مجاهـدین پـه ځـواب کـي ورتـه وایـي چي تـه خـو کـافر او مرتـد یـې موږ مسلمانان یو کافر او مسـلمان یـو له بل سره دوست نسي-جوړیـدلای ، موږ له خپلو نورو ورونو قومونـو سره ستا په مقابـل کـي جهاد کـوو ، کله چي له دې لاري هم نا امیـده سي بیـا نـو پـر عـامو افغانـانو ظلمونـه شروع کـړي، عـام خلـک شـهیدان کـړي، بنـدیان یـې کـړي او کورونـه یـې ورچور کړي او بیا په مطبوعاتو کي د طالبانو پر ضد د عملیاتو راپورونـه ور کـوي. دوسـتم پـه خپلـو وروسـتیو عملیـاتو کـي د د دولـت آبـاد او شیرین تګاب ولسوالیو پر ګنـو کلیـو یرغـل ور وړ ، د مبـارکي روژې پـه میاشـت کـي یـې د خلکـو لسـګونه کورونه وسوځول، ډیـر دوکانونـه یـې چور او تالان کړل چي اکثره پکـي د مبایلو او قیمتـي شیانو دوکانونـه وه، دسیمي ګڼ شمېر کلیوال يې شهیدان

او تېپیان کړل ، له کورونو څخه يې ۷۰ تنه سپین ږیـري او نـور عـام خلـک چـي اکـثره یـې دهقانان او شپانه وه له ځانه سره بندیان کړل. د خلکو ۵۰ عرادې کورنې موټر سـایکلونه او سلګونه رأسه مواشي (پسونه، اوزې او نور حیوانات) یې له ځانه سره یـوړل او لـه کورونـو څخه یې قیمتي لوښي، فرشونه، بسترې او نور شیان غلا او چور کړل .

پوښتنه

څو ورځې وړاندې د امریکا د پوځ لوی درستیز ډانفورډ او په افغانستان کې د نـاټو او امریکا د ځواکونو عمومي قومندان جنرال نیکلسن په یو لړ اظهاراتو کې وویـل چـې د اسلامي امارت مجاهدین په سر اوړي یـا جنګـي موسـم کـې نـه دي توانیـدلي چـې کومـه لاسته راوړنه ولري.

د نظامي کمیسیون د یوه غړي او د اسلامي امارت د یوه مسؤل مقام په حیـث پـه دې اړه ستاسو نظر څه دی او ددښمن دغه خبرې څرنګه ارزوئ؟

ځواب

امریکایانو او ددوی مزدورانو همېشه کوښښ کړی چې د مجاهـدینو پرمختګونـه او فتوحات یا نـورو خلکـو تـه منسـوب کـړي او یـا خـو بیخـي انکـار وربانـدي وکـړي ، کـه مجاهدینو سږ کال کومه لاسته راوړنه نه درلودای نو بیا همدا جـنرال نیکولسـن پـه پنټـاګون کې دا اعتراف ولي کاوه چې دکابل رژیم او مجاهدینو تـر مـنځ روانـه جګـړه پـه تېـه ولاړ حالت ته رسېدلې ده ؟ یعني مزدور حکومت د طالبانو په مقابل کي پرمختګ نسي کـولای ! د همدې خبرې تشریح او تائید د پګواش مؤسسې د دارالانشاء مشر له بي بي سي سره په مرکه کي هم وکړ ، هغه وویل چې حکومت طالبان نسي مـاتولای !!! ، ولي همـدې جـنرال اعلان کاوه چې یوازې په جولای میاشت کي ۹۰۰ تنه ددوی مزدور عسکر د طالبانو لخوا وژل شویدی ؟ همدا ډول ددفاع وزارت په اګست میاشت کي د خپلو وژل شـویو عسـکرو شمېر ۱۰۰۰ تنه یاد کړ ، ددوی خبرې به نړیوالو او افغانانو ته څنګه د منلـو وړ وي پـداسي حال کي چي د اسلامي امارت مجاهدینو یو ځل بیا د کنـدوز ولایـت مرکـز فتح کـړ او د هلمند ، اروزګان ، فراه ، فاریاب او سرپل ولایتونـو د مرکـزي ښـارونو پـر دوازو مجاهـدین ولاړ دي ؟ زما په فکر اوس هغه وخت تېر دی چي امریکایانو بـه خلـک پـه تبلیغـاتو خطـا ایستل ، اوس هر سړی په خپله د مجاهدینو فتوحات ویني ، افغـان اولـس خپـل دوسـت او دښمن پېژندلی څکه د مجاهدینو تر شا کلک ولاړ دی ، مـوږ پـه دې ډاډه یـو چـي مؤمن اولس د مجاهدینو په لاسته راوړنو ښه خبر دی او هر څه عملاً ویني .

پوښتنه

جناب شیخ صاحب زما د معلوماتو له مخې تاسـو تـردې وړانـدې ډېـر عمـر د دینـي تعلم او تعلیم په برخه کې صرف کړی دی.مګر په وروستیو کلونو کې مو مسلح جهـاد تـه

مخه کړه. څه باعث و چې تاسو جهاد یو داسې ضرورت وباله چې باید تدریس ورته پرېږدئ. لطفاً که دجهاد د اهمیت او ضرورت په برخه کې توضیحات راسره شریک کړئ؟

ځواب

د دیني علومو د تدریس په جریان کې ما له تدریس سره یو ځای جهادي خدمت هم تر سره کاوه حتی د لویي دورې او وړې دورې د تدریس پر مهال هم ؛ مگر د تدریس سره یو ځای مې ډېر وخت جهادي خدمت ته نه وو ورکړی ، کله چې د شهید امیرالمؤمنین رحمه الله له لوري اوسنی مسئولیت را وسپارل سو نو دا وصیت یې راته وکړ چې مقصود به جهادي خدمت وي او تدریس به په څنګ کې ورسره کوې ، که څه هم شهید أمیرالمؤمنین رحمه الله د تدریس مشروطه اجازه کړېوه خو په سنگرونو کې له مجاهدینو سره ملګرتیا، د هغوی کاروانه له نژدې څارل، په اصلاح او پرمختګ کې یې همکاري ورسره کول او مسئولیت کماحقه اداء کول داسې څه وه چې نور یې د تدریس دوام ته اخلاقاً اجازه نه راکول . د سپېڅلي تفسیر ، مبارکو احادیثو ، فقهې شریفې او نورو علومو تدریس واقعاً یو لوی اسلامي خدمت دی او تر سره کول یې لازم دي ؛ خو سنگرونه هم علماء کرامو ته اشد ضرورت لري ، هغه مجاهد چې د اسلام ، مدارسو ، اسلامي خاورې او ناموس څخه د دفاع لپاره خپل سر نذرانه کړی ، خپل سبقان او دنیایي کارونه یې ورته پرې ایښي او په میاشتو میاشتو په سنگرونو کې د سختی شپې ورځې تېروي پر موږ علماوو ضرور دا حق لري چې د جهاد په لاره کې یې سمه رهنمايي وکړو او دا ډاډ ورکړو چې ستاسو استاذان هم ستاسو سره په سنگرونو کې خدمت کوي .

پوښتنه

ستاسو په نظر د جهاد آداب کوم دي؟ مجاهد باید شپه او ورځ څنګه تیره کړي؟ که په مختصر ډول د یوه ربښتیني او معیاري مجاهد د صفاتو په باره کې معلومات راکړئ؟

ځواب

هغه مجاهد چې د جهاد آداب مراعات کړي او په ځان کې یې راولي هغه ته واقعي مجاهد ویلای سو ، مجاهد باید همېشه د الله تعالی ذکر وکړي ، مجاهد باید مخلص وي له ریاء کاری څخه باید ځان وساتي ،مجاهد باید متقي وي له فسق او گناهونو څخه باید پرهېز وکړي ، باید د خپلو أمیرانو اطاعت وکړي ، رښتیاویونکی وي له دروغو ځان وساتي ، غدر کوونکی نه وي ، د تکبر او عُجب (ځان خوښوني) څخه باید لیري وي ، مجاهد باید صبر کوونکی وي شکایت کوونکی نه وي، د جگړې پر ډگر باید ثابت قدمه او ثبات لرونکی وي، د جگړې په ډگر کې یې باید پر الله تعالی توکل وي او د ښه تدبیر خاوند وي ، باید د جگړې په ترخ کې د ملکي خلکو د ځان ، مال او ناموس خیال وساتي ، باید د خپلې سلاح ښه ساتنه وکړي له پورته صفاتو سربېره د اختلاف څخه ځان ساتنه ، د ایثار صفت په ځان کې پیداکول او له ملگرو سره ښه رویه هم د یوه معیاري مجاهد اخلاق دي .

پوښتنه

جهاد یوه سخته لاره ده. دومره سخته چې حتی نوم یې له سختی تیرولو او کوشش څخه اخیستل شوی دی.ددې لارې په ځینو سختو پړاوونو کې کله مجاهدین د ستوماني او عزم بایللو احساس کوي. ستاسو په باور هغه کوم اسباب دي چې د مجاهد عزم همیشه محکم ساتي او له هغه څخه یو نه ماتیدونکی او کفر ته نه تسلیمیدونکی مبارز جوړوي؟

ځواب

جهاد واقعاً سخته لاره ده ،ستړې ژوند ، شهادت ، زخم او اسارت ورسره لازمي شیان دي ، خو مؤمن چې له دومره تکالیفو سره سره بیا هم جهادي لاره غوره کوي دا د هغې الهي اعطاء او په زړه کې د ایمان د رڼا برکت وي چې په دنیا کې یې د فرضیت د اداء او په اخرت کې د الله تعالی د رضاء او جنت ته د داخلېدلو په نیت تر سره کوي ، د دومره ستر فرضیت د اداء په مخنیوي کې شیطان هم همدوره کوښښ کوي ، مجاهد که په جهاد

کي سترېیا او د عزم بایللو احساس کوي باید دا د شیطان لومه وبولي او د خلاصون لپاره یې د الله تعالی سپېڅلي کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سپېڅلي سیرت ته رجوع وکړي ، الله تعالی فرمایي : (وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ إِنْ تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا، و قال الله تعالی : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اصْبِرُوا وَصَابِرُوا وَرَابِطُوا وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ – و قال الله تعالی : وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُوا لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَا ضَعُفُوا وَمَا اسْتَكَانُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ) الله تعالی مجاهد ته د ثبات او ټينګ درېدلو امر کوي او د عزم له بایللو او سستی څخه یې منع کوي، الله تعالی مجاهد صبر او مصابرې ته امر کوي ، صبر خو به پر خپلو تکالیفو کوي او شکایت به نه کوي او مصابره به داوي چې له کفارو سره به په صبر کې مقابله کوي، که کافر د دنیا له بله سره راځي او له خپل مستریح او آسوده ژونده تېرېږي او ستا سره په غرو او دښتو کې مقابله کوي مجاهد باید تر کافر زر چنده سختی پرځان ومني، په جنګ کې هم کافر خوږېږي او هم مسلمان، چې کافر په خپل خوږ باک نه کوي مجاهد یې باید بیخي ونکړي ځکه مجاهد په همدې نیت جهاد کوي چې که

ژوندی یم الله تعالی به د سترياوو بدله راکوي او راځخه راضي به وي او که شهید شوم الله به خپله رضاء او جنت راکړي او کافر خو له الله تعالی څخه دا امید هم نلري ، بل داچې د الله تعالی سپېڅلي پیغمبر صلی الله علیه وسلم له مجاهدو صحابه کرامو سره په سنګرونو کې څومره ستړیاوي وړي دي، د الله تعالی د رسول صلی الله علیه وسلم مبارکي ویني توی شوي او زخمي سویدی او ګڼ شمېر مبارک اصحاب رضی الله عنهم په شهادت رسېدلي مګر له دومره ډېرو تکالیفو او ستړیاوو سره سره نه د رسول صلی الله علیه وسلم او نه د مبارکو اصحابو عزم کمزوری سو ، هغوی خپل رسالت په حقه ترسره کړ اوس موږ ته دا مسئولیت رارسېدلی ،

نو چې دا تولي خبري یو مجاهد په ذهن کي وساتي بیا به ولي عزم بایلي ؟ ولي به له جهاده ستومانه کېږي ؟

پوښتنه

که په پای کې د عام اولس او زموږ د لوستونکو لپاره څه پیغام لرئ لطفا یې راسره شریک کړئ!

ځواب

د افغانستان مجاهد اولس او ستاسو درنو لوستونکو ته دا پیغام لرم چې د تاریخ پدغو حساسو شیبو کي د مسلمان ملت هر قشر او طبقه باید خپل مسئولیت ته متوجه سي ، د اسلامي امت علماء کرام ، پوهان ، د قلم او ژبي خاوندان ، غنیان وروڼه او عام مسلمانان په پوره اتحاد او یوه برغ د خپلو مجاهدینو تر شا ودرېږي او هر ډول معنوي او مادي ملاتړ يې وکړي. کفري ملت سره له خپلو ټولو ستونزو سره یو ځای سوی او په ټوله نړی کي یې پر مسلمانانو اور بل کړیدی ، د افغانستان اسلامي امارت د نړی د مظلومانو یوازنی مرجع ده چي د امید سترګي یې ورته نیولي، راسئ په ټولو د شهیدانو په وینو جوړ سوی اسلامي امارت د بري تر پولو ورسوو، د بري په لاره کي هر یو خپل مسئولیت اداء کړو او د سپېڅلي شرعي نظام د تحکیم لپاره هري قرباني ته تیار سو، د افغانستان مجاهد اولس د امریکایي یرغل له پیله تر اوسه واقعاً ستري قرباني ورکړي او مجاهدینو ته یې د خپل وس مطابق هر ډول مرستي رسولي دي ، زه له دوی څخه د مننې تر څنګ غواړم ترڅو خپل دغه اسلامي او ملي مسئولیت ته دوام ورکړي او د یرغلګرو او ددوی د غلامانو په مقابل کي د جګړې د اوږدوالي او د کفري نړی د مکارو او شیطاني تبلیغاتو پروا ونکړي خپل عزم او حوصله له لاسه ورنکړي او له خپلو مجاهدو بچیانو سره کلک ودرېږي ، هغه ورځ لري نه ده چي د الله تعالی په نصرت، د مجاهدینو او د مؤمن اولس په بېدریغه قربانیو به الله تعالی پر دغه خاوره اسلامي نظام قائموي او دا ستړی ملت به د اسلامي نظام په سیوري کي د آرام ساه اخلي ان شاء الله تعالی . وماذلک علی الله بعزیز .

۳/۱/۱۴۳۸ هـ ق

بریتانوي سفیر مسلمان شو!!!

شرافت

سعودي عربستان کې دبرتانیې د سفیر په اسلام راوړو لویدیځ تکان خوړلی، دیادوني ورده چې سایمن پاول کولس په ۲۱۵ زکال کې په سعودي عربستان کې دبرتانیې سفیر مقرر شو، سایمن پاول کولس (SIMON COLLIS) په ۱۹۵۶ز کې دمروري په ۲۳مه زیږیدلی نوموړی ددینه وړاندې په بحرین، تونس، اردن، بصره ،دوبی او هند کې هم برتانوي پاته شوی ، په ۲۰۱۶ زکې لوموړی برتانوي سفیر دی چې داسلام راوړو وروسته یې حج هم وکړ، حج ته یې ځان سره خپله میرمن هم بیولې وه، ۶۰کلن سایمن پاول دحج په مهال خپل انځورونه خپاره کړي، په ټویټر دهغه دیوعکس لاندې دسعودي یوې لیکوالې فوزیه البکر لیکلي: سایمن پاول له خپلې میرمنې سره یوځای حج اداء کړ او دالوموړی برتانوي سفیر دی چې دحج فریضه یې ترسره کړه.

برتانوي سفیرته دټویټر له لارې دلوی شمیر مسلمانانو لخوا دمبارکیو پیغام لیږدونکو له منځه یوه سعودي شهزادګۍ بسمه بنت سعود هم ده ، هغه دخلکو دمبارکیو پیغامونو څخه دمننې په کولو لیکلي: لنده داچې ما په اسلامي ټولنه کې دیرش کلو تیرولو وروسته اویه ښه غور سره داسلام دمطالعې نه پس اسلام قبول کړی چې دازما ترټولو لوی ویاړ او خوشالۍ ځای دی

هو! دا لومړی برتانوی شخص ندی چې د اسلام حقانیت څخه په تاثر اخستلو یې اسلام قبول کړ بلکې څوکاله وړاندې دبرتانیې دپخواني صدراعظم ټونیبلیرښینې (لارن بوت) هم اسلام قبول کړ، لارن بوت داسلام را وړو څخه وروسته میډیا ته وویل: زه اوس شراب نه څکم ، په لمونځ کولو سره سکون مومم، او په حجاب کولو ځان راته خوندي برېښي دعظیم الشان قرآن په تلاوت کولو داډ ترلاسه کوم زه داسلامي لاربښوونو څخه ډېره متاثره شوم او مسلمانان مې دلویدیځ دپروپاګند برعکس ومندل

په کومه ورځ چې دټونیبلیر ښینې داسلام راوړو په هم هغه ورځ دیوې چینایې کمپنۍ لوړپوړي مشر هم داسلام قبلولو اعلان وکړ په دې سره لویدیځ وال په حیرانتیا کې ډوب شول او هغه میډیا ته وویل: چې دده داسلام قبلولو لامل دعظیم الشان قرآن مطالعه له غریبانو سره مرسته او دمظلومانو ملاتړ دی چې په دې اره اسلام ترټولو رښتینی دین دی

دحضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ داسلام قبلولو له واقعې څخه نیولې دټونیبلیر دښینې تراسلام قبلولو پورې ټول داسلام دزرینو دلاربښوونو څخه متاثر شوي دي څو کاله وړاندې په هند کې دهندوانو په یوه متعصبه کورنۍ کې یوې مشرې میرمنې اسلام قبول کړ، څوک چې په هغه ټوله کورنۍ کې دعزت او وقار څخه برخمنه میرمنه وه په وجه یې په هغه ټوله کورنۍ لړزه راغله ډېرو دهغې دپوهولو کوښښ وکړ خو ناکام شول بالاخر دهندوانو لوی پنډتان یې ورته راوغوښتل څو هغوی یې دهندو دین په باره کې شکوک اوشبهات ورته وړاندې کړل دهغو لرې کړي هغوی ډېر څه ټولو په پای کې هغې ورته وویل: زه داسلام زرینو لاربښوونو څخه متاثره شوې یم اومسلمانه شوې یم او په همدې باندې غواړم مړه شم.

څو ورځې دمخه مې دهندوانو دیو پنډت دلور داسلام راوړو داستان ولوست ، راته جوته شوه چې په نړۍ کې په څومره شوق او ذوق سره خلک داسلام قبلولو په لور میلان لري خو په دې شرط چې مسلمانان خلکو ته داسلام اصلي څېره ښکاره کړي دنړۍ په ټولو ژبو کې دعظیم الشان قرآن ترجمې عامې شي او مسلمانان پخپل منځ کې له فرقوي جنګونو او شخړو څخه ډډه وکړي او نړۍ ته خپله دوحدت نمونه وړاندې کړي دنویو مسلمانانو حوصلې لوړې وساتي او خپلې رویې نرمې کړي توند روي پای ته ورسوي دیو ستر عالم په وینا: لویدیځه نړۍ داسلام راوړو لپاره داسلام په دروازه کې ولاړه ده خو افسوس چې مسلمانانو داسلام دروازه پخپله مونږ تړلې.....

قاري حبيب

دیرغل دبګی

افغاني ټټوګان وپیژنئ

نن په افغانستان د امریکا د یرغل پنځلس کاله پوره شول.

د افغانستان د تاریخ د دې تورې ورځې په رارسیدو په رسنیو کې بیلابیلو تبصرې او لیکنې لیدل کیږي.زما په نظر په دې مناسبت یوه مهمه موضوع چې تاریخي اهمیت لري داده چې ددې ستر جنایت(په افغانستان د امریکا یرغل) افغاني اشربانې او هغوی چې امریکایان یې په خپلو اوږو سپاره راوړل، له هغوی سره یې د هیواد په اشغال کې مرسته وکړه او په افغانستان د امریکایي صلیبي یرغل په لړ کې هر یوه د شاشجاع او ببرک کارمل رول اداء کړ. باید چې هر یو یې وپیژنو، په یاد یې ولرو او راتلونکي نسل او تاریخ ته یې په ګوته کړو. ترڅو رانه ورک نه وي او نه یې بیا د اولس او تاریخ له محاکمې ځان ژغورلی وي.

مشهوره ده وایي افغانستان بې دوسیې ملک دی. یعني کوم محفوظ ارشیف او ریکارډ نلري هرچا چې هر څه وکړل څه وخت وروسته په خپلو ټولو جنایاتو پښېمانه وي او ځان سپینه پرښته بولي. همدا لامل دی چې نن سبا حامدکرزی هم ځان د امریکا دښمن بولي او ځینې خلک یې په دې اوتوبوتو غولیدلي هم دي.په دې لنډه لیکنه کې د امریکایي یرغل د بګی سرکرده ټټوګان درپېژنم. هغوی چې په متو یې امریکایي کفار زموږ په شهیدپال هیواد مسلط شول او زموږ مجاهد اولس ته یو بل اوږد استعمار او د ازادۍ سخته جګړه ور له غاړې شوه.

رښتیا خبره دا ده چې که له امریکایي کفارو سره د افغاني منافقینو همکاري نه وای هیڅکله یې دا جرأت او توان نه درلود چې د مسلمان په وطن داسې زړور یرغل وکړي. هغه شاعر رښتیا ویلي:

دښمن په زوره ننوت په کور د مسلمان خو دغه کار یې هم وکړ په زور د مسلمان

د۲۰۰۱ میلادي کال د سبتمبر په ۲٦ مه دچهارشنبې ورځ، غرمه دوولس بجې وې ، چې دسي آی اې لومړی روسي ساخته چورلکه چې دهمدې اداري یو ٥٩ کلن لوړرتبه افسر (ګاري شرون) په کې سپور و، دمغرور هندوکش دانجمن له غاښي واوښته او دپنجشیر په خوا یې پرواز ته ادامه ورکړه ، ګاري شروین دخپلو پښو ترمنځه یو فلزي بکس ایښی و چې دری میلیونه ډالر په کې پراته وو، نوموړی روان وو ترڅو په دې پیسو په پنجشیر کې جنګیالي رانیسي، چې دامریکایي یرغل لپاره دمقدمة الجیش رول ادا کړي.

انجنیر عارف سروري

انجنیر عارف د شورای نظار د استخباراتو مسؤل و. ګاري شرون لومړنی لیدنه له ده سره وکړه.انجنیر عارف ته یې پنځه لکه ډالر ورکړل او په مقابل کې هغه د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړ.له امریکایي استخباراتو سره د انجنیر عارف لومړنۍ همکاري دا وه چې د خپلو استخباراتي کسانو په ملتیا یې د یوه امریکایي ځانګړي ټیم چې د سټان

په نوم د جي پي ایس ماهر یې مشري کوله،د کابل په شمال کې یې د طالبانو ټول جنګي خطوط،مورچې او سنګرونه د جي پي ایس په توسط په نښه کړل ترڅو امریکایي الوتکې وربانديې دقیق بمبار وکړي.

انجنیر عارف د شورای نظار ټوله استخباراتي شبکه د سي آی اې خدمت ته وقف کړه.دوی په یوه میاشت کې (د سبتمبر له ۲۷ د اکتوبر تر ۲٦ مې پورې) د سي آی اې لپاره تر ۴۰۰ زیات خارګر راپورونه تیار کړل چې د سي آی اې د ټیم لخوا امریکا ته لیږل کیدل.

محمد قسیم فهیم

قسیم فهیم هم هغه کس و چې په امریکایي یرغل کې یې خپله ونډه په اخلاص ترسره کړه. ګاري شرون له نوموړي سره د سبتمبر په ۲۷ د پنجشیر په بازارک کې ولیدل.فهیم ته یې یو میلیون نغد ډالر ورکړل او هغه په مقابل کې د هر راز همکاری ټینګ وواهه.فهیم موافقه وکړه چې د شمالی د جنګي خط مسؤل بسم الله خان ته به قومنده ورکړي چې د سي آی اې له ټیم سره هر راز همکاري وکړي. فهیم دیرش تنه جنګیالی د سي آی اې په واک کې ورکړل ترڅو یې د جاسوسانو په حیث وروزي. فهیم په ډیره تلوسه له امریکایانو پوښتل چې : (جګړه کله پیلیږي ؟ تاسې به کله رارسیږئ ؟ امریکا به اصلي یرغل کله شروع کوي ؟)

استاد سیاف

ګاري شرون په خپل کتاب کې لیکلي چې دوه ورځ بعد د سبتمبر په ۲۹ مه یې د پنجشیر په ګلبهار کې له سیاف سره ملاقات وکړ. سیاف ظاهرا داسې مفخم ښکارېدو لکه د ایران مشر آیت الله خمیني چې وي. مګر په عمل کې د امریکا دښمن نه بلکې دوست و.ګاري شرون سیاف ته یو لک ډالر ورکړل او سیاف په مقابل کې وعده وکړه چې د القاعدې د یوه مشر ایمن الظواهري په له منځه وړلو کې به له امریکا سره مرسته کوي.

وروسته چې د امریکایانو لخوا د افغانستان په مختلفو برخو کې د طالبانو خلاف د جګړې پیلولو تقسیمات وشول. سیاف ته د سي آی اې لخوا د افغانستان ختیځ ولایتونه او کابل ته د نږدې سیمو مسؤلیت سپارل شوی و خو د طالبانو په لاس د قومندان عبدالحق اعدام سیاف دومره ویراوو چې د سي آی اې له هرڅومره په شا ټیپولو سره یې هم جرأت ونکړ چې د افغانستان ختیځ ته لاړ شي او د امریکا د ځمکني جنګیالي رول اداء کړي.

ډاکټر عبدالله

ډاکټر عبدالله د مسعود ترجمان او د مسعود په ټولو استخباراتي لوبو کې دخیل سړی و. ګاري شرون وایي مسعود چې له وژل کیدو څو میاشتې وړاندې په پاریس کې د فرانسې داستخباراتو میلمه و ډاکټر عبدالله یې د ترجمان رول اداء کاوو.له قسیم فهیم سره د ملاقات په مهال ډاکټر عبدالله د فهیم د ژباړن رول اداء کاوو.خو ځرنګه چې د ډالرو په ویش کې نوموړي ته برخه نه وه رسیدلې د اکتوبر په ۱۷ ډاکټر عبدالله له ګاري شرون سره د پنجشیر په استانه کې د ملاقات غوښتنه وکړه. د ملاقات په مهال ډاکټر عبدالله وویل چې د پنجشیر خلک ډیر غریبان دي باید مرسته ورسره وشي، ګاري شرون ډاکټر عبدالله ته دوه نیم لکه ډالر ورکړل. عبدالله ګاري شرون ته وفهموله چې قسیم فهیم یوازې پوځي مشر دی او سیاسي واک له دی سره دی. او دی حاضر دی چې له امریکایانو سره په سیاسي برخه کې هر ډول همکاري ترسره کړي.

امر الله صالح

امرالله صالح له ډېر پخوا له امریکایي استخباراتو سره اړیکي درلودي.نوموړی د سي آی اې لخوا روزل شوی او د مسعود تر څنګ یې د یوه فعال امریکایي جاسوس په حیث دنده اجراء کوله.

نوموړي په خپله اوږده لیکنه (پس از مسعود) کې له دې رازه پرده پورته کوي چې نوموړي د امریکایي یرغل په لومړیو شیبوکې عملا دسي آی اې لپاره دیوه جاسوس او اطلاعات راټولوونکي ډلې دمشر په صفت کار کوو ، څکه په یوه ټیلفوني مکالمه کې د سي ای اې امریکایي استازی (فل) صالح ته وایي چې نور ددې ضرورت نشته چې دپخوا غونډې استخباراتي معلومات لومړی تحلیل او کره کړی او بیا یې موږ (امریکایانو) ته مخابره کړئ ، ځرنګه چې وضعیت اضطراري دی ، نوښایي چې هرډول استخباراتي معلومات راټول کړئ او پرته له لاس وهنې یې عجالتا سي آي اې ته مخابره کړئ صالح وایي فل راته وویل (دولت امریکا از شما می‌خواهد هر نوع اطلاعی که در اختیار دارید- یا به‌دست می‌آورید- با ما شریک سازید. من تکرار می‌کنم هر نوع اطلاعی که دارید با ما شریک سازید. خواهش ما این است که از تحلیل اطلاعات ابا ورزید. هرچه را که می‌شنوید و به‌دست می‌آورید، به‌صورت خام و دست‌نخورده، با ما شریک سازید. دیگر در آن حالت عادی قرار نداریم که اطلاعات پروسس‌شده را ترجیح دهیم. حتا تبصره‌هایی که توسط مردم عادی در افغانستان می‌شود یا در دفاتر طالبان یا در صفوف جنگی آن‌ها صورت می‌گیرد، برای ما اهمیت دارد (پس از مسعود(

صالح وروسته د ګارې شرون د ټیم ملګری شواو د کابل له سقوط وروسته له امریکایي استخباراتي ټیم سره یو ځای کابل ته داخل شو.امرالله صالح لیکلي چې کابل ته په داخلیدو مو لومړی شپه له امریکایانو سره په اریانا هوټل کې تیره کړه.چې دې هوټل امریکایانو ته خوند ورکړ او بیا دا ځای سي آی اې د خپل مرکز په حیث انتخاب کړ.

بسم الله خان

بسم الله خان چې په بسم الله محمدي سره هم شهرت لري د امریکایانو یو اخیستل شوی او کرایي اجیر و چې د کابل د شمال په خطوطو کې یې د امریکایي الوتکو تر سیوري لاندې د څمکنیو عملیاتو مشرتوب په غاړه درلود.

د امرالله صالح د لیکنو له مخې د امریکایي پوځیانو یوه ټولي د ډګروال هاس تر مشرۍ لاندې د بسم الله خان سره اوږه په اوږه د کابل په شمال کې د څمکنیو عملیاتو د مخته وړلو مسؤلیت درلود.له دوی سره د امریکایانو ځانګړي استخباراتي کسان هم و چې الوتکو ته یې د طالبانو د مورچو کوردینات ورکول.دوی چې د څو اونیو بمبار په توسط ونه توانیدل د طالبانو جنګي خط مات کړي.بیا د ټلوالې عمومي مشر- برهان الدین رباني له امریکایانو غوښتنه وکړه چې په افغانستان لوی لوی بمونه وغورځوي تر څو د طالبانو مقاومت مات شي.

بسم الله خان د کابل له نیولو وروسته په توره بوږه کې هم له امریکایانو سره په اوږه په اوږه د مجاهدینو په خلاف وجنګېد او یو بل ملګری یې قومندان ګل حیدر له خپلو ملیشو سره د پکتیا په شاهیکوټ کې د یرغلګرو امریکایانو لپاره د څمکنیو ملیشو رول اداء کاوو.

حامد کرزی

حامدکرزی چې په دې ورځو کې ځان د امریکا د مخالف په بڼه کې ظاهروي. باید هیر نکړو چې د امریکایي یرغل د لومړنیو پیش خدمتانو څخه دی چې حتی د سبتمبر له پیښې ډیر وخت مخکې یې لا له امریکایانو سره تار درلود او په اسلام اباد کې د امریکا له سفارته یې معاش اخیست.

په اسلام اباد کې د سي آی اې د دفتر مشر- رابرټ ګرینر په خپل کتاب کې لیکلي چې د سبتمبر له پیښې وراندې د ۲۰۰۱ م کال په اګست کې د حامدکرزي کسانو په کندهار کې د طالبانو په خلاف هغه شب نامې خپرې کړې وې چې د سي آی اې لخوا ورته برابرې شوې وې.

د سبتمبر له پیښې وروسته حامدکرزی له لومړنیو کسانو و چې د امریکایي یرغل لپاره دخدمت او حتی په دې لار کې د خطر منلو ته یې اماده ګي وښوده. هغه د سي آی اې له کسانو سره له کتنو او پروګرام جوړولو وروسته د افغانستان داخل روزګان ته لاړ او هلته یې د طالبانو په خلاف د بغاوت بیرغ پورته کړ.

له حامدکرزي سره امریکایانو د هوا له لارې د وسلو، خوراکي موادو او پیسو مرستې کولې وروسته یې د فاکس تروت په نوم یو ځانګړی استخباراتي ټیم چې د ګریک په نوم امریکایي یې مشري کوله روزګان ته ولیږه ترڅو د کرزي ساتنه وکړي. کرزی د طالبانو له سقوط وروسته بالاخره په امریکایي ټانګ کې سپور د کندهار ښار ته داخل شو.

ګل اغا شیرزی

رابرټ ګرینر په خپل کتاب کې لیکلي چې په افغانستان له حملې څو ورځې وروسته زه د سي آی اې له دوو نورو کسانو مارک او ګریک آر سره کوټې ته لاړم او د ګل اغا شیرزي او د هغه له ورارہ انجنیر یوسف پښتون سره مو ولیدل. دوی له موږ نه غوښتنه وکړه چې وسلې او امکانات ورته برابر کړو تر څو له امریکایي هوایي بریدونه سره هم مهال په طالبانو ځمکني عملیات شروع کړو. له دې وروسته ګل اغا شیرزي او ملګرو یې چې انجنیر یوسف، اکرم خاکریزوال او خالد پښتون هم په کې وو رسما یې د سي آی اې په ملاتړ د جګړې لپاره اماده ګي پیل کړه.

ګل اغاشیرزي او انجنیر پښتون د اکتوبر په ۲۹ په اسلام اباد کې د امریکایانو له عمومي قومندان جنرال ټومي فرانکس سره هم مخامخ ملاقات وکړ. وروسته د دوی لپاره له پاکستان څخه وسلې واخیستل شوې اود بولدک له لارې افغانستان ته واوښتل. له دوی سره د ایکو په نوم د سي ای اې ځانګړی ټیم هم ملګری شو چې د کندهار د نیولو تر وخته ورسره و او د طالبانو سره د جګړو په مهال یې امریکایي الوتکو ته کوردینات ورکول.

عبدالرشید دوستم

امریکایانو د جنوب په شان په شمال کې هم یو شمیر قومندانان د ځمکنیو ځواکونو په حیث استخدام کړي وو. رشید دوستم د امریکایانو په لارښوونه د دره صوف په لوړو ساحو کې خپل کسان راټول کړل چې د الفا په نوم د سي آی اې ځانګړی ټیم هم ورسره ملګری و. دوی د دره صوف په ساحه کې دطالبانو په جنګي کرښو بریدونه کول.هغه مهال چې امریکا له ازبکستان څخه د خان اباد قرشي هوایي اډه کرایه کړې وه دوستم ته له همدې اډې څخه امریکایانو وسلې،خوراکي مواد، پیسې او حتی د آسونو لپاره واښه اورشقه هم په ځانګړو پراشوټي بستو کې رسول. ګرینر په خپل کتاب کې د هغه خندونکي تصادف کیسه هم کړې چې د دوستم د آسونو رشقه یو ځل ګل اغا شیرزي ته د خوراکي موادو په نوم پراشوټ شوې وه.

دوستم وروسته په مزار کې هم د طالبانو خصوصا د بهرنیو مهاجرینو او مجاهدینو په قتل عام کې له امریکایانو سره ډیره مرسته وکړه.د سي آی اې مامورین مایک سپین او ډیوډ ټایسن هغه کسان و چې د قلعه جنګي د قتل عام په طراحي کې د جنرال دوستم په شمول ورته د مسؤلیت ګوته نیول کیږي.

عطاء محمد نور

د دوستم تر څنګ د بلخ په مربوطاتو کې د امریکایانو بل ګوډاګی عطامحمد نور و .ګاري شرون په خپل کتاب کې له امریکایانو سره د عطامحمد نور د تلوسې په اړه لیکلي: د اکتوبر تر اولسمې د سي آی اې هغه ټیم چې باید له قومندان عطاء محمد

نـــور سره ملحـــق شـــوی وای لا افغانستان ته نه وو راغلی ، په دې باندې عطامحمد نور سخت خفه و، او نـردې و چـې دخپلـې غوسـې دښکاره کولو لپاره له دوستم سره جنګ وکړي ، موږ دعطامحمد نور دخوشـاله کولـو لپـاره دنومـوړي لپاره ۲۵۰ زره ډالره بېل کړل او د اکتـوبر پـه ۱۷ مـو دپنجشـیر پـه استانه کې قسیم فهیم تـه ورکـړل ترڅو یې عطامحمد نور ته واستوي .وروســـته د (بربـــوو) پـــه نـــوم استخباراتي امریکایي ټیم له عطاء محمـــــد نـــــور سره یوځـــــای شو.عطامحمد نور او دوستم د بلخ په دره صوف کې په طالبانو بیا بیا بریدونه وکړل خو کوم پرمختګ یې ترلاسه نه کړ. طالبانو د دره صوف په جبهه کې تر ټولو سخت مقاومت کـاوو. پـه دې جبهـه کـې د طالبانو جنګي لیکې له هغـه وروسـته مـاتې شـوې چـې امریکایـانو وربانـدې سـړي چـاودونکي زهـري بمونـه واورول او هغوی یې لـه یـوې مخـې قتل عام کړل.د دره صوف د جنګی خط ماتیدل د طالبانو د شاتګ پیـل و چې وریسې له تخار او په تعقیب یـې د کابـل لـه دفـاعي کرښـو هـم طالبان په شا شول.

کریم خلیلي

کریم خلیلي ته په بامیانو کـې د ځمکنـي ځـواک او د طالبـانو پـه خـلاف د جګـړې مسؤلیت سپارل شوی و. له نوموړي سره د دلتا په نوم د سي آی اې ځانګړی ټیم فعال و چې امریکایي الوتکې یې رهبري کولې. خو کـریم خلیلي چـې لـه طالبـانو یـې سخته ویره درلوده تر پایه یې دا زړه ونه کړای شو چې د طالبانو په خـلاف کـوم مـؤثر عملیات ترسره کړي. نوموړی له هغه وروسته په بامیانو ښار حـاکم شـو چـې طالبـانو دغـه ښـار پرېښود او له سیمې ووتل.

په شیعه ګانو کې د امریکا نور د پام وړ غلامانو له جملې محمد محقق د یادولو وړ ده ، چې دسرېل پـه بلخـاب کـې یـې دطالبـانو پـه خـلاف دبریـد مرکزیت جوړ کـړی و اوپه مختلفو جبهو کې دامریکایانو په ګټه وجنګېد، د پروان په شیعه میشتو سیمو کې مصـطفي کـاظمي او سـید حسـین انـوري هـم لـه امریکایـانو ډیـرې نقـدي مرسـتې او پراشـوټي اکـمالات ترلاسـه کـړل. دسـید حسـین انـوري پـه اړه ویـل کیـږي، چـې نوموړي دلوګر او ګردیز په شیعه ګانو کې له خپل نفوذ پـه اسـتفاده دامریکـایي ډالـرو پـه توسط ګـڼ جاسوسـان کرایـه کـړي و، ترڅـو سي آی اې تـه پـه جنـوب ختـیځ کـې دطالبانو جاسوسي وکړي، دهمدې فعالیت له امله په همدې حوزه کې ډیـر طالبـان او عرب مجاهدین هم دامریکایانو لخوا شهیدان او یا ونیول شول.

اسمعیل خان

دافغانستان په لویدیځ کې د امریکایانو د یادولو وړ ګوډاګی تورن اسمعیل خـان و د امریکایانو لخوا د لیکل شویو کتابونو دمعلوماتو له مخې نوموړي پـه دې شـپو ورځـو کې دافغانستان په غرب کې دایران دپولې په سل کیلومترۍ کـې پـټ و چـې وروسـته ورسره دسي آی اې د (چارلي) پـه شـفري نـوم اسـتخباراتي ډلـه ملګـرې شـوه، ترڅـو دطالبانو په ضد جګړې ته یې وهڅوي.

په اسمعیل خان سربیره دغور په جنوب او پرچمن ولسوالۍ کې د ډاکتر ابراهیم غوري کسـانو دامریکـایي الوتکـو پـه سـیوري کـې پـه طالبـانو عملیـات کـول او شمال ته دکوهستاناتو په ساحه کې قومندان احمدخان مرغابي پـه فاریـاب کـې دطالبـانو پـه خلاف په فعالیت بوخت و، چې امریکایانو ورته د دلالانو لـه لارې ډالـر او دپراشـوټ پـه واسطه وسلې، خوراکي توکي او د آسونو اوبه او واښه رسول.

قومندان عبدالحق

د (جنګ اشباح) کتـاب لیکـي چـې عبـدالحق چـې لـه ډیـر پخـوا یـې دبرتـانوي اسـتخباراتو MI-٦ سره کـار کـاوو ، د ۱۹۸۱ کـال پـه مـی کـې د سي آی اې لـه یـوه افسر هاورډ هارټ سره شناخته شو او له هغـه مهال یـې دامریکا لپاره کـار پیـل کـړ ، عبدالحق چې دسېتمبر له حملې وړاندې یې په دوبۍ کې تجارت کاوو، کله چې امریکا

په افغانستان دبريد لپاره تابيا نيوله يو ځل بيا امريکايانو استخدام کړ، ترڅو دافغانستان په ختيځ کې دامريکا لپاره کار وکړي ، امريکا عبدالحق ته پيسې ورکړې ، خو يوازې ددې لپاره چې له طالبانو وروسته په ختيځ کې دامريکا په ګټه دقدرت خلا ډکه کړي ، ځکه امريکايان پوهيدل چې نوموړی دومره توان نلري چې دطالبانو په ضد بغاوت وکړي او هغوی رانسکور کړي.

خو عبدالحق دامريکايانو مشوره بابيزه وبلله او د اخلاص ښکاره کولو لپاره په خپل سر له خپلې نولس کسيزې ډلې سره افغانستان ته روان شو، نوموړی دلوګر په ازره کې طالبانو ونيو او دامريکايانو دهمکارۍ په جرم يې اعدام کړ امريکايانو دنوموړي دخلاصون هڅه وکړه او يوه بې پيلوټه الوتکه يې هم سيمې ته وليږله ، خو ګټه يې ونه کړه.

يو شمير نور شاشجاعان

ياد شوي کسان زياتره هغه خلک و چې د امريکايي يرغل په پرمخ وړلو کې يې تر نورو ډير مسؤليت منلی و او له امريکايانو سره يې مخامخ روابط درلودل تر دې چې د ورسره امريکايي مشاورينو په حکم او فرمان يې حرکت کاوو. له دوی ماسيوا نور هم ډير داسې د منځنۍ يا ټيټې سطحې قوماندانان وو چې د امريکايي الوتکو په سيوري کې د خپل دين او اولس په ضد وجنګېدل او دخپل مور وطن په ضد يې د متجاوز غليم ملګرتيا وکړه.

د بيلګې په توګه د شمالي ټلوالې په اړخ کې دفرخار جبهه او دتخار دنيولو مسؤليت قومندان داود داود ته سپارل شوی و، دنوموړي ملاتړ ته د مولاناسيدخيلي او قومندان ګدا پنجشيري په مشرۍ څو زره اضافه ځواکونه هم له پنجشير څخه ليږل شوي وو چې خواجه غار په مربوطاتو کې يې د امريکايي بمبار سره هم مهال په طالبانو بريدونه کول. دکوکچې په بله غاړه په شمالي تخار کې مطلب بېګ ، پيرم قل ، کبيرمرزبان ، پيرمحمد تالقاني، بشير چاه آبي او ځينې نور جګړه مار قوماندانان امريکايانو په دې ګومارلي و تر څو له امريکايي بمبار سره هم مهال د طالبانو په دفاعي مورچو هجوم وروړي.

د پکتيا په ساحه کې پاچا خان ځدراڼ د طالبانو له وتلو وروسته د خوست ولايت ونيو او بيا يې زوی عبدالولي ځدراڼ د شاهيکوټ په جنګ کې له امريکايانو سره په يوه مورچل کې د مجاهدينو په ضد وجنګېد.په ننګرهار کې حضرت علي او زمان غمشريک د امريکايانو په ټونګ د طالبانو په ضد بغاوت وکړ او وروسته د امريکايانو رسمي ملګري شول.د نيمروز په ساحه کې مشهور قاچاقبر جمعه خان بلوڅ او عبدالکريم براهوي له امريکايي استخباراتو سره په رابطه کې و. ګريتر په خپل کتاب کې ليکلي چې دوی امريکايانو ته ويلي و چې په ريګستان کې له هغه هوايي ډګر څخه د حملو لپاره استفاده وکړي چې عربو ښکاريانو جوړ کړی و.

ياد شوي کسان او ځيني نور د تاريخ هم هغه تورمخي څيرې دي چې په اخروي مختورۍ علاوه يې په دنيا کې هم خپل اولس او تاريخ ته مخ تور دی ځکه دوی د اولس غداران او د خپل وطن او عقيدې پلورونکي دي.

په دې ليکنه کې د لاندې کتابونو له معلوماتو استفاده شوې:

ورود اول - ګاري شرون

بوش په جنګ کې - باب ووډ

د فضيلت سزا - سارا چيس

جنګ اشباح - ستيو کول

کرزی - نيک بي مايلز

۸۸ ورځې تر کندهاره - رابرټ ګرينر

پس از مسعود - امر الله صالح

ګلورینې پاڼې

ورک ملګري

رضوان الله (فیضاني)

رانه ورک زما د مینې تول احباب دي
ښکاري وړي بیا وحشي خوني سېلاب دي

وې تنکی غوټۍ لا نه وې غوړېدلې
رژولي څومره زر زر انقلاب دي

دا مرګی خو ډېر بې رحمه او ناځوان دی
یرغلونه یې سریع او په شتاب دي

خدایه هغه خلک څومره بختور دي
چې ګډ شوي ستا د مینې په دریاب دي

خوار بلبل پرزړه زخمي هم ډېرې اوښکې
تويې کړي په هجران کې د ګلاب دي

څو معصومې هوسۍ بیا په وینو رنګ دي
خدایه دا شهیدې کړي کوم قصاب دي

شهادت داسې سپېڅلی لوړ مقام دی
رب ستایلي شهیدان په خپل کتاب دي

اسپې زین توري ترملا چې مدام ګرځي
(فیضاني) داسې تورزن خلک کامیاب دي

خالق یار احمدزی

غزل

په خوږه،خوږه خندا را باندې ګران شوې
لږ راغاړې وزه چې بیا راباندې ګران شوې

د اغزیو سره مینه کې عادت شوم
د ګلاب د ګل ښکلا را باندې ګران شوې

مجاهده د لوړ عزم نمونه شوې
کړه دې ماته امریکا راباندې ګران شوې

دوی تسلیم تا لاسنګر پرېښی ندی
ویښ ضمیر دې ده آشنا راباندې ګران شوې

خیر پراته دې وي دستارباندې ګردونه
بیا دي زیري د غزا راباندې ګران شوې

ښکیلاګر دي بیا د کفر اسلام جنګ دی
په نړۍ کې شول رسوا را باندې ګران شوې

ستا یادونه تصور کې را ته راشي
خالقیاره کړم ژړا راباندې ګران شوې

د غیرت تاټوبی

حکمت زرمتی

د دې مظلوم اولس آهونه دومره سپک مه ګڼه
لا میرویس خان او ابدالي له کلي ورک مه ګڼه

موږ حقیقت کې په الله باندې مین خلک یو
زما استشهاد د مجازي مینتوب پرک مه ګڼه

موږ چې تر یاره رسوي ستا د زندان زولنې
د وصل پرې دي پرې رسو دا ولچک مه ګڼه

زموږ شهیدان خدای په قرآن کې دي ژوندي بللي
زموږ قبرونه له هډوکو څخه ډک مه ګڼه

لا مو شاجورې له مرمیو ځیني تشې نه دي
هر یو ګوزار مو د ثقیل آخیري تک مه ګڼه

دا د حکمت د مینې کور د ا د غیرت تاټوبی
دلته ختمیږي دا خبر خبر د شک مه ګڼه

غزل

بسمل

ژوندون خالي رکات دی یو قیام یوه سجده ده
دا ژوند لکه سجده د تلاوت یوه شیبه ده
د زړه رو زړه رو پانو په کفن کې روانېږي
خزان ونې ولاړې دي د حسن جنازه ده
د کور په مخ به اوښکه وي که قلف ورَه پروت دی
له دې کلي نه بیا کډې روانې دي جګړه
بسمله پاک الله نازله کړې له اسمانه
تپه د پښتنو بې پیغمبره معجزه ده

د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله

وینـاوي

۱ــ ستاسو لوی دښمن ستاسو بد ملګری دی.

۲ ــ ښېګڼه هغه ده چې له خلکو نه یې دستاینې هیله ونه شي.

۳ ـ دنیك كار پیل ستاسوكار دی اوپای یې الله پاك ته پرېږدئ.

۴ ــ که دخدای پاك نژدې والی مو خوښ وي نوپرمخلوق یې لورینه وکړئ.

۵ ــ د نفس په ناروا غوښتنو سر مه ګروئ که نه له تباهۍ اوهلاکت سره به مخ شئ.

٦ ــ له ویجاړو قبرونو نه عبرت واخلئ، ځکه چې دډېرو ځوانانو هډوکي پکې خاورې شوي دي.

۷ ــ دمرګ یادول دنفس دټولو رنځونو ښه درملنه ده.

۸ ــ ښه عمل نورو ته ورکړه ده ، نه ، له نورو نه غوښتنه .

۹ ــ مؤمن خپل کورنۍ الله پاك ته سپاري او منافق یې جائیداد اوشتمنۍ ته.

۱۰ ـ ستاسوغیبت کونکي په حقیقت کې تاسوته ګټه رسونکي دي، ځکه خپلې ښېګڼې ستاسو دعمل پر پاڼه لیکي.

۱۱ ــ درزق هغه پراخوالی چې شکر پرې ونه ایستل شي اودژوند هغه تنګسیا چې صبر پرې ونه شي دفتنې اوفساد سبب ګرځي.

۱۲ ــ دنفس دغوښتنو په نیلي مه سپرېږئ ځکه چې داپه مو دهلاکت کندې ته وغورځوي.

۱۳ ــ نیکي داسې ډیوه ده چې د دوست او دښمن دواړو ودانې یوډول رڼا کولای شي.

۱۴ ــ کینه د ایمان جرړې باسي اوانسان دالله پاك له رحمت نه بې برخې کوي.

۱۵ ــ هوښیار لومړی زړه پوښتي اوبیاپه ژبه خبرې کوي.

۱٦ ــ کله چې یوڅوك تاسې ته دچا خبره راورسوي نو ویې رټئ او ورته وواياست چې ته خو ترهغه ډېر بد یې ، ځکه هغه خو خبره په غیاب کې کړې وه اوتا نیغ په نیغه مونږ ته راورسوله.

۱۷ ـ د الله پاك عبادت وكړئ اودهغه له ذات نه وویرېږئ ، له بل چا مه وېرېږئ .

۱۸ ــ خپلې ټولې هیلې او اړتیاوې د الله پاك په وړاندې کېږدئ او هرڅه له هغه نه وغواړئ، له هغه پرته پر بل هیچاباور اوتکیه مه کوئ.

د سعودي پر ضد د امریکا نوې طرحه؛

اصل ارادې څه دي؟

حسن مومند

دامریکا کانگرس یا ولسي جرگې درایوپه اکثریت دجاسټاپه نوم نومول شوې هغه طرحه تصویب کړه چې د۱۱ستمبر په پیښې کې دسعودي عربستان پښه شریکوي.

داطرحه په تېر ۲۰۱۵م کال کې دامریکا دمشرانو جرگې ته وړاندې شوې اود روان ۲۰۱۶ م کال په مئ میاشت کې دې جرگې تصویب کړې وه ؛ وروسته بیا دستمبر په ۹مې نېټې ولسي- جرگې هم درایوپه اکثریت ومنله.

دستمبر په ۲۳ مې نېټې دامریکا ولسمشر بارک اوبامادخپل ځانگړي ولسمشریزواک پرکارولو داطرحه ویټو کړه خو دامریکا دمشرانو جرگې اورپسې ولسي جرگې داوباما ویټو مسترد کړه اودرایوپه اکثریت یې دا طرحه بیا تصویب کړه .

دقانون داطرحه په ولسي جرگې کې د۷۷ مخالفورایوپه مقابل کې په ۳۴۸ موافقو رایوومنل شوه .

دقانون داطرحه چې د Justice Against Sponsors of Terrorism Act (Jasta) یانې دترهگرودتمویل کونکوپرضد دعدالت قانون په نوم نومول شویده چې په دواړوجرگه گیو کې دمنل کېدونه پس یې اوباما ددوهم ځل لپاره دردولوصلاحیت نه لري نو داطرحه به له دې نه پس دقانون برخه وي.

د۱۹۸۳م نه پس داړومبی ځل دی چې دامریکا دولسمشر دویټوسره سره هم په مشرانو اوولسي جرگوکې یوه طرحه تصویبیږي .

اوباما دخپلې واکمنی په تېرې او اوسنی دواړو دورو کې داسې ۱۱ طرحې ویټوکړیدي چې یواځې همدا یوه یکې داسې ده چې دولسمشر- دویټوحق دواړوجرگو رد کړ اوپه قاطع اکثریت یې دا طرحه بیا ومنله ؛ ددې طرحې دقانوني حیثیت غوره کولونه پس به د ۱۱ستمبر په پیښې کې دوژل شویوامریکایانو دکورنیو غړي دخپلومړو شویو تنانودتاوان اخستلولپاره دټولو هغو هېوادونو پرضد دامریکامحاکموته رجوع کولی شي چې اتباع یې دامریکاپه وینا پدې پیښې کې ککړ وو.

دامریکا په وینا د ۱۱ستمبر په پیښې کې ۳زره تنان وژل شوي وو او دحملې کونکوشمېر ۱۹ تنانوته رسېدلوچې ۱۵ تنان یې دسعودي عربستان اتباع وونو ځکه داطرحه په ځانگړې ډول دسعودي عربستان پرضد پلان شوی طرحه گڼل کیږي .

دامریکا په محاکموکې چې دهرعارض په حق کې دسعودي پرضدپرېکړه وشي نوتاوان به ورته دسعودي دهغو شتمنیو نه ورکولای شي چې امریکا کې یې لري اوحجم یې ۷۵۰ملیاردو ډالروته رسېږي

نوځکه ویل کیږي چې ددې طرحې هدف دادی چې د ۱۱ستمبر په پیښې کې دسعودي لاس لرل ثابت او په امریکا کې یې د۷۵۰

ملیاردو ډالرو په ارزښت تولې شتمنۍ کنګل کړای شي.

سعودي عربستان په نړۍ کې د امریکا له مهمو اتحادیانو څخه ګڼل کېدلو او په تېرو ۴ لسیزو کې په ښکاره د دواړو هېوادونو ډیپلوماتیکې اړیکې ډېرې ګرمې وې.

له کومې نه چې په سعودي عربستان کې تېل کشف شویدي له هماغې ورځې نه ترننه یې دراویستلواوتصفې کاروبتول کار دامریکا سترشرکتونه کوي اودسعودي دتېلو لویه برخه هم همدې امریکا ته ځي .

صدام حسین چې پرکویت حمله وکړه نوهمدا امریکا وه چې ځان یې دسعودي اوکویت ترټولونږدې دوست ښکاره کولو اوددوستۍ دحق اداکولوپه موخه یې پرعراق حمله وکړه اوصدام حسین لښکرې دکویت نه شاتګ ته اړ شوې .

نورخوپدې هرڅوک پوهېدل چې امریکانه دکویت اوسعودي سره حقیقي دوستي لرله اونه یې ددوستۍ پالل مطلوب وبلکې هدف دسعودي اوکویت په تېلوخپله کامله قبضه راوستل اوپه ټولې سیمې کې دشیطاني شوموپلانونو دتطبیقولو لپاره دلته دائمي اډې جوړول وو چې همداسې وه هم شول ؛ هماغه مهال چې امریکا په سعودي اوکویت کې فوځي اډې جوړې کړې ترننه شتون لري.

دعراق اوایران په جنګ کې د سعودي عربستان له لورې دعراق سره دمالي مرستوبه ګڼ نورعوامل هم ووخوله دې هم انکار نشي کېدای چې دا دامریکا غوښتنه هم وه .

پرافغانستان دروسانوپرغل دټولې اسلامې نړۍ لپاره یوه لویه حادثه وه ؛ دروسانویرغل او د روسانوپرضد دمقدس جهادجریان په مسلمانانوکې جهادبیا راژوندی کړ ؛ دنړۍ په مسلمانانوکې ډېره بیداري رامنځته شوه ؛ دټول عالم په مسلمانانوکې ددین لپاره دځان اومال دقربانۍ ډېر لوی احساس راژوندی شواوعملاً دنړۍ ټولومسلمانانوپدې جهادکې ډېرې مالي مرستې وکړې اوډېروزیاتوپکې دسرونوقربانۍ ورکړې چې سعودي عربستان ددوۍ ټولوپه سرکې و؛ افغانان ددوۍ ټولوقربانیوته ډېردقدر په نظر ګوري اوترې مننوی دي .

دامرستې دعاموسلمانانووې اوکه ددولتونو وې دواړوته موږ دقدرپه نظرګورو اودهیڅ په نیتونوشک نه کوو خوله دې هم انکارنشوکولای چې همدا دامریکا غوښتنه هم وه ؛ روسانو دافغانانو دستروقربانیواودمقدس جهادپه برکت په افغانستان کې ماتې وخوړه خودروسانوماتې خوړل چې دامریکا خواهش اوحاجت ونوددې لپاره چې داحاجت اوخواهش یې پوره شي دنړۍ له ټولواسلامي هېوادونو یې غوښتل چې دافغانانوسره دروسانو پرضدمرستې وکړي چې سعودي عربستان ددې ټولوهېوادونوپه سرکې و اوتر ټولوزیاتې مرستې یې کړې وې.

پدې حقیقت هم باید اعتراف وکړوچې دشیخ اسامه بن لادن رحمه الله تعالی په شمول دافغانستان نه دټولوستنوشویو مجاهدینو پرضد چې سعودي عربستان څومره سخت ګامونه پورته کړل نوایله هغه وخت یې پورته کړل چې دامریکاهدف پوره شواودسعودي عربستان نه یې دوۍ پرضد د سختو ګامونوپورته کولوغوښتنه وکړه ګینې په پیل کې همدې ستنوشویومجاهدینوته په سعودي کې ډېر دقدر په نظر کتل کېدل .

خولنډه داچې په تېروکابو۴ لسیزوکې چې امریکا سعودي ته اړتیا لرله نو اړیکې یې ورسره ډېرې ښې ساتلې اوسعودي یې هم یوه غوښتنه هم نه ردوله .

سره لــه دې چــې د ۱۱ســـتمبرد پېښې په بريدګروکې دامريکا په ويـنـا ۱۵ تـنـان دسـعـودي اتبـاع ووخوپـه تيــرو۱۵ کلونـــوکې هيڅکلــه هــم امريکاپدې پېښې کې د سعودي دلاس لــــروخبره نــــه وه کــــړې ؛ســـعودي عربستان هم بيابيا داخبره کړيده چې پر امريکا حملې دحمله کونکوشخصي عمل دی اودسعودي عربستان ددولـت ددې حملوسره هـيڅ تړاونشـته اونـه دحملـه کونکودسـعودي ددولـت سره تړاوشته .

ددې پېښـــې پــه اړه د امريکـــا د امنيتی ادارو لــه لــوري خپــور شـوی راپور چې په ۹ سوه مخونو مشتمل و پکې په واضحو ټکو ليکل شوي ووچې داسې شواهد نشته چې پدې پېښې کې د سعودي ددولت يادولت دکوم لــوړ پوړي چــارواکي د لاس لرلــو لپــاره د ثبوت په ډول وړاندی کړای شي.

هو! مکــاري امريکاهغــه مهــال ويلي ووچــې ددې راپــور ۲۸ مخونـه داسې چې د(هغه مهــال) ولسمشـــر بش اداري خورا ډېرحساس ګڼلي او له خپرولو يې منع کړي.

شنونکي پــدې عقيــده دي چــې ددې ۲۸ مخونو دنه خپرېدا خبره بــه ددې لپاره دسيســه وي چــې کــه يــو وخت دسعودي په شمول دهراســلامي هېوادراښکېلول وغواړي چې راښــکېل يې کړای شي او وايــې بــه چــې هغــه ۲۸صفحې چې لــه خپرولــو يــې ډډه شــوی وه پکــې راغــلي ووچـــې دې هېـــوادهم پــــه يــــوډول دډولونـــو د بريدګرو مرسته کړې وه.

لنډه داچــې پــه ښـکاره امريکـا دسعودي په اړه مطمئنـه ښـکارېده ؛ سعودي يې پدې پېښــې کــې پــه لاس لرلونه و تورن کـړی او ســعودي يــې چــې پخــوا لــه مهمواتحاديانوڅخــه وددې حملې نه پس يې هــم هماغســې دمهمواتحاديانوڅخه پــاتې واوهيڅــا داګومان نه کاوه چې ۱۵ کاله پس بــه ګينې په امريکاکې دسـعودي پرضـد کومه طرحه رامنځته شي خوداچې په ټولې نړۍ کې امريکايــان ســخت بــې اعتماده ؛ مــاده پرســت ؛بــې اعتبــاره اوبــې وفــا خلــک دي نــو دســعودي ددوستی يې هــيڅ پــروا ونــه ســاتله اوددې هېواددواړوجرګودرايوپه قاطع اکثريت دسـعودي پرضـد دا طرحــه تصويب کړه.

ددې طرحې د ويټو کولوپرمهال ولسمشرــ بــارک اوبامــاويلي و چــې دامهال چې دنړۍ په مختلفوبرخــوکې ډېرو شورشونو سر راپورتــه کړيـدی ددې طرحــې پــه تصــويب دامريکــا يومهم اتحادي شايدډېرخفګان ښکاره کړي اوترڅنګ يې په بهرکې دامريکـا بانکونه ،شرکتونه ، فوځي اونورمشران هم دقانوني کړنوسره مخامخ شي .

خو ولسي جرګې دولسمشرــددې خبروڅه پروا ونه ســاتله اودولسمشرــ ويټويې شه په سپين سترګی درايوپـه اکثريت ردکړه .

داچې په سعودي عربستان کــې دمســلمانانو ترټولومقــدس مقامــات حرمين شريفين شتون لــري نــودنړۍ ټول مسلمانان ورته دخورا ډېر قدرپـه نظرګــوري چــې داحقيقــت لــه پامــه دغورځولوندی ؛ ددې ترڅنګ سعودي عربســـــتان د(O.I.C) اســــلامي کانفرانس اودخليجي هېوادونودتنظيم ګلف کوآپريټوکونسل مهم غـړی هـم دی چې په نوموړي تنظيم کې شـامل ټول مهم غړي دامريکا پدې اقدام خفه شـــويدي اودمتحــــده عـــــرب اماراتودبانــدنيوچارو وزيرپرامريکـا انتقــادکړی او ويــلي يــې دي چــې دامريکا دا اقدام په يولحــاظ هــم ســم اقدام ندی اوله دې امله به (ددوئ پـه وينا) دتروريزم پرضد پــرروان جنــګ بدې اغېزې وشي .

ددې طرحــې دمخنيــوي لپــاره داوبامـــا اداري دمنافقــت نــه ډکــې نمايشــي هڅــی هــم کــړی وې ؛ د جمهوري غوښـتونکواو ديموکراتـانو دواړو ګوندونو سره دتراو لرونکـو د جرګو غړو نه يــې غوښــتي وو چــې

ددې طرحې په حق کې دې رايه نه وركوي.

همدا راز د دفاع او باندنيو چارو لوړپوړو مشرانو هم د مشرانو جرگې پر غړو غږ کړی وچې ددې طرحې د منظورېد ا مخه دې ونيسي ؛ کـه ددې طرحې مخه ونه نيول شوه او د سعودي پر ضد کومه جدي قانوني کړنه تر سره شوه نوورسره به د امريكا ديپلوماتيک او اقتصادي حالات خراب شي.

خوداچې دايواځې نمايشي خبرې وي نوځکه يې هيڅ اثر نه و.

هغه مهال سعودي عربستان هم امريكا ته د سخت عکس العمل ښکاره کولو اخطار ورکړی و؛ واشنگټن ته د سفر پر مهال د سعودي عربستان د باندنيو چارو وزير عادل الجبيرد امريكادولتي چارواکو ته په روښانه ټکو ويلي و چې که امريكا د سعودي پر ضد د کوم اقدا م اراده وکړه نو سعودي به په امريکاکې خپلې ټولې شتمنۍ وپلوري .

ددې اخطارله لارې د سعودي دولت د امريكا پر ضد سخت موقف ښکاره کړی ونواوس چې داطرحه دواړو جرگوتصويب کړه معلومه نده چې سعودي به ربښتيا هم داسې اقدا م وکړي؟ او که د کولو اراده يې ولري نو آيا وبه توانېږي ؟ دا به هغه وخت معلومه شي چې له دواړولوروعملي اقدامات پيل شي .

د۱۱ ستمبردپېښې سره دسعودي ددولت هيڅ تړاونشته خوبيا هم دسعودي ددولت پرضداقدامات او دسعودي دملي خزانې نه دپېښې قربانيانو ته تاوان ورکول قانوني کارګڼل کېږي نو

په افغانستان کې دبې گناه سونو زروشهيدانوشويومسلمانانو کورنيوته هم بايدحق ورکړی شي چې دامريكا اونوراتحادي هېوادونوپرضد محاکموته رجوع وکړي اودخپلو شهيدانو ديت وغواړي ؛ آيا امريكا، برتانيه اونوريرغلگرهېوادونه به افغانانو ته داحق ورکړي ؟

پرعراق دامريكا دروميني يرغل په جريان کې په سونو زره عراقيان شهيدان شول ؛ دجنگ نه پس پرعراق دلگېدليو اقتصادي بنديزونوپه پايله کې دنړيوالو ادارودورکړل شويو راپورونوله مخې دپنځو لکونه زياتو کوچنيانو ددوا اوخوراکي موادو دنشتوالي له امله خپل ژوند له لاسه ورکړ .

امريكا اوپه لسگونونورډنړۍ نا اسلامي هېوادونه داتومي ځواک دجوړېدلو اوله ځانونوسره دزرونو اتوم بمونوساتلوحق لري خوداسلامي نړۍ نه داحق سلب شوی نوامريكا ،برتاني اونوروصليبي هېوادونوپه عراق کې داتومي وسلوشتون پلمه کړاوپه ۲۰۰۳م کې وربانديې يرغل وکړ چې پخپله دلويديځوالوادارو له لورې دخپروشويو راپورونو له مخې ديرغل نه تر اوسه پدې هېوادکې کابو يونيم مليون عراقيان وژل شويدي ؛ امريكا پخپله اعتراف کړيدی چې دعراق سره دکيمياوي موادو دشتون ټول راپورونه دامريكا دجاسوسي ادارې له لورې په جوړوشويو دروغو ولاړ وو.

پرعراق دحملې په اړه دبرتانې ددولت له لورې ټاکل شوي څېړنيز هيئت کابومياشت وړاندې اعلان وکړچې دهغه مهال دبرتانې لومړي وزيرټوني بلير په عراق کې دعامه وژونکو وسلودشتون په اړه ملت دروغ ويلي وو .

دلته خودامريكا ،برتاني يا نورويرغلگروهېوادونو ځوداسې افرادوياداسې تنظيم داعامه وژنې ندي کړي چې دخپلوهېوادونو ورسره هيڅ لاس نه وي بلکې داعامه وژنې پخپله دولتونوکړيدي نوآيا دا دولتونه به ددې وژل شويوملیونونو بې گناه انسانانو

کورنيوته دا اجازه ورکړي چې دمحاکموته رجوع وکړي اودخپلومظلوموقتل شويو خپلوانو ديت وغواړي ؟

نه هيڅکله هم نه !

ځکه چې په عراق ، افغانستان اونوراسلامي هېوادونو کې دامريکا ،برتانې اونوروصليبي يرغلګروپه لاس وژل شوي ټول وګړي دمسلمان ملت بچي دي؛ هغه ملت چې دوئ يې پرضد صليبي جنګ اعلان کريدی ؛ دمسلمانانو قتل عام ؛ دخپلو کورونونه يې بې کوره کول ؛ آبادښارونه يې ورانول اقتصادونه يې تباه کول دولتونه يې ړنګول ؛ په داخلي جنګونويې اخته کول اوهېوادونه يې تجزيه کول ددې جنګ نه جداکېدونکی برخه ده .

داهغه وخت دی چې امريکادټول بشردغلام ګرځولوخوبونه ويني نودنړۍ ټولې پرېکړې پخپله کول اودخپلوموخواوګټوتابع کول غواړي ؛ قاتله هم پخپله ده ؛ قضاوت هم پخپله کوي اودټولې نړې په باره کې پخپله خپل ځان ته دپرېکړوحق هم ورکوي .

خوافسوس دملګروملتونوپه اداري، دجنېوا پرکنونسيون ادلويديځو هېوادونو دټولوهغو ادارو پرحال چې دبشردحقوقو د اعادي اوتامين لويې دعوې کوي خودبشريت پرضد دداسې لويوظلمونوپرمهال چوپه خوله وې اوخپل يوفيصد مسئوليت هم نه اداکوي .

خوددې نه هم زيات افسوس دهغه اسلامي هېوادونوپرحال چې لا يې هم امريکاته ددوستۍ لاسونه ورکړيدي او دداسې پېښونه هيڅ عبرت نه اخلي.

دياداوونې ده چې ددې طرحې درامنځته کېدونه لا لږه موده وړاندې هم دسعودي اوامريکا په روابطوکې درزونه رامنځته شوي وو؛ دايران د اتومي پروګرام په اړه د امريکا او ايران تر منځ د توافق رامنځته کېدو، پر ايران د لګېدلو اقتصادي بنديزونو د لرې کېدو او د يمن د ستونزې په شمول په ځني سيمېزو مهمو مسايلو کې د سعودي عربستان د پاليسی نه د امريکا نه حمايت لادمخه دسعودي عربستان او امريکا اړيکې دومره خړې پړې کړې چې په رسنيو کې يې هم اثرات ښکاره شول او خبره د يو بل پر ضد دخرګندونويا لفظي شخړی ترحده ورسېده .

د ايران او سعودي عربستان خپلمنځی روابط اوس تر بل هر وخت زيات تر ينګلي دي.

په سعودي کې چې شيعه ملا شيخ نمرالنمر ته دمرګ سزا اوبياپه تهران اومشهدکې دسعودي پرسفارت اوقونسلګرۍ دايراني مظاهره چيانودحملې نه پس دسعودي عربستان او ايران ترمنځ ديپلوماتيکي اړيکې پرې شوې نو سعودي تمه لرله چې پدې سخت حالت کې به يې امريکا تر شاودرېږي او پر ايران به د امريکا او نورلويديځ فشارونه زيات شي خو د سعودي د تمې خلاف امريکا نه يواځې دا چې پدې لانجه کې د سعودي تر شاوندرېدله بلکې د ايران سره يې دخپلو روابطو دښه کولوسفر جاري وساتلو .

همداراز سعودي غوښتل چې په شام کې دبشارالاسداوپه يمن کې دحوثيانونه په حمايت کولودې لويديځ اوپه سرکې يې امريکا ايران ته سزا ورکړي يادې لږترلږه دومره فشار ورباندې راولي چې دبشارالاسد اوحوثيانودحمايت نه لاس واخلي خو دسعودي دې يوې غوښتنې ته هم امريکا اونورلويديځ نه يواځې داچې التفات ونکړبلکې برعکس دايران اولويديځ روابط ديوې نه بلې ورځې ته په ښه کېدوشول.

د اتومي لانجې په اړه يې د ايران سره توافق رامنځته شو او د لويديځ اوملګروملتونوداداري له لورې پر ايران د لګول شويو اقتصادي بنديزونو د لرې کولو په اړه يې رضامندي هم ښکاره کړه چې پدې سره د سعودي او امريکا تر منځ روابط مخ په خرابېدو شول او د خرابېدلو تر هغه سرحده ورسېدل چې له امله يې په رسنيو کې د يو بل پر ضد څرګندونې هم وکړې .

نو دا رښتيا ده چې سعودي عربستان دايران په اړه دامريکا دريځ نه ناراضه دی چې څه موده دمخه دسعودي ددولت يوعالي رتبه غړي خپل دا نارضايت ښه په روښانه ټکوښکاره کړی هم و اوويلي يې و چې ايران هرڅه کوي امريکا يې په مقابل کې هيڅ نه وايي اوپه پټه خوله وروسته کېږي ؛موږ ددې هيڅ پروانه لرو چې امريکا په څه غصه کېږي يا خفه کېږي ؛ داسمه ده چې موږدسپيني ماڼۍ موقف ته دقدرپه نظر ګورو خودخپلو ګټودتحفظ لپاره موږ دتهران پرضدهر ډول اقدام کولوته تيار يو.

سعودي پدې عقيده دی چې د منځني ختيځ په اړه د امريکا سياست کې بيخي بدلون راغلی د ی ،امريکا په ښکاره مصر ،سعودي عربستان ،قطر، کويت،اردن،او نور عربي هېوادونه خپل اتحاديان بولي او د دې هېوادونو سره خپلې ديپلوماتيکې اړيکې هم ښې ګرمې ساتي ؛په خوله ايران ته ګواښونه کوي خو په پټه يې لاسونه ايران ته وراوږده کړيدي او غواړي چې ايران د سيمې يواځنی ځواکمن هېواد وګرځي ؛ د سيمې ټول هېوادونه ورباندې د تل لپاره تهديد کړی او دا هېوادونه خپل ځان ته له همدې لارې سخت محتاج وساتي نو ځکه يې د ايران د اتومي پروګرام په سر توافق وکړ، اقتصادي بنديزونه يې ورنه لرې کړل ، په امنيت شورى کې د ايران د اقداماتو حمايت کوي او ايران چې دتوغندو نوې ازموينې وکړې او د روسې نه تر لاسه کړی ايس٣٠٠ توغندو تشهير کوي، حزب الله او حوثي ملېشو ته وسلې ورکوي او د بشارالاسد د ادارې حمايت کوي نو پدې هر څه امريکا سترګې پټې کړيدي او يواځې پدې يې توجيه کوي چې ايران ددې مسائلو د حل کولو هڅې کوي.

امريکافکرکوي چې د ايران سره د روابطو په ښه کېدو امريکا ته د تېلو متبادله داسې ښه منډۍ په لاس ورغله چې ورنه خپله ټوله اړتيا پوره کولای شي نو ځکه يې د سعودي نه مخ اړول پيل کړل او پر ايران يې مهربانۍ مخ په زياتېدو شوې.

خوځبره يواځې دتېلو نده ؛ څوک چې دسيمې حالات له نږدې څاري هغوئ ټول پدې پوهېږي اوواېي چې اوس په ټولې سيمې کې د امريکا د اميد سترګې يواځې د ايران پر لور دي.

که رښتيا ووايوامريکا ته په ټولې آسيا کې له ايران پرته بل يو داسې هېواد هم نه ښکاري چې د خپلو موخو لپاره يې وکاروي او يا يې د خپلو مخالفينو پر ضد استعمال کړي ، په آسيا کې د امريکا د اتحاديانو اکثريت په فوځي لحاظ د کمزورو هېوادونو دی ؛اوکه کوم هېوادپکې په فوځي لحاظ ځواکمن دی نو د هغه پاليسي بيا داسې نده چې کوم ځواکمن هېواد سره د ځان لپاره کومه ستونزه وزېږوي او يا د امريکا د موخو لپاره ځان خطرونو سره مخامخ کړي خو برعکس د ايران دريځ کې سختوالی زيات دی او په تېرو وختونو کې يې تل د خپل ځان نه ډېرو لويو ځواکونو ته ګواښونه کړي او اخطارونه يې ورکړيدي نو ځکه يې امريکا په اړه دا کلکه تمه لري چې که په فوځي لحاظ ښه ځواکمن شي نو نه يواځې د سيمې کمزوري هېوادونه

بلکه د چین،پاکستان ، روسي او هندوستان په څېر څواکمن هېوادونه پرې هم تریوحده په اسانی تهدیدولای او د دوئ پر ضد ترې په اسانی کار اخستلای شي.

داچې داسلام اومسلمانانو پرضد دامریکاله لورې په پیل شوي صلیبي جنګ کې شیعه ګان نه یواځې داچې دامریکاپرضد دمسلمانانوپه پیل شوي مقدس جهادکې شریک نشول بلکې برعکس واک ته درسېدلو په موخه یې په افغانستان اوعراق کې یې دامریکا اونورو اتحادي اشغالګروسره لاسونه یوکړل نو دامریکا اونورلویدیځ دېراعتماد یې ترلاسه کړاو ورته یې په عمل کې ښکاره کړه چې دلویدیځوز برځواکونودهر اشغال لپاره ډېرښه خدمتګاران ثابتېدای شي.

زما هدف داندی چې ایران به ګینی په غیرشعوري توګه دامریکا دګټولپاره استعمال شي ؛ ایرانیان دومره بې شعوره خلک ندي چې پرځان به نه وي پوه اودنورودګټولپاره به استعمالیږي ؛ بلکې ایران خپلې موخې لرې اوډېرې زیاتې هڅې کوي چې دروانوحالاتو اودامریکا داقداماتو نه دخپل ځان لپاره ګټه پورته کړي ؛ قرائنو ته چې وګورونودمنځني ختیځ په اړه اوس دایران پالیسي دا ده چې باید نفوذیې توله سیمه ومني ؛دایران دپالیسی ددې تسلسل پټ ساتل ایران اړین ندي ګڼلي اونه یې دپټ ساتلوهڅې کړیدي ځکه چې ایران دمنځني ختیځ دکوم هېواد پروانه ساتي اونه یې په نظامي لحاظ دځان سیال بولي اونوره نړۍ خویې هسې هم ددې تسلسل دجاري ساتلو طرفداره ده.

دتېرکال په وروستیو میاشتو کې چې حوثي باغیانو په یمن کې پرمختګونه وکړل اوپه شمالي برخوکې یې دایران بیرغونه پورته کړل نوځوځلې دایراني مشرانوله خولو نه په ډېرافتخارداخبره راووتله چې دبغداد ،دمشق اوبیروت نه پس اوس صنعاء هم زموږ دنفوذ سیمه وګرځېدله.

څه موده وړاندې خودعلی یونسي– په نوم دایران یوپخواني وزیرپه تهران کې یوسیمینارته دویناپرمهال تردې حده وړاندې ولاړ چې ویې ویل ,,ټول منځنی ختیځ زموږدنفوذ سیمه ده اوموږدشرقي رومیانو، عثماني ترکانواوعربو سلفیانوسره په یو وخت کې دجنګ کولو توان لرو .

شنونکي پرځای وایې چې په عربي نړۍ کې داوسنیو ګډوډیوټولو ګټه امریکاته رسېږي خودامریکا نه پس چې ترې ترټولوزیاته ګټه پورته کړه هغه ایران دی ځکه چې دجنګونواوګډوډیوپه نتیجه کې دسیمې دهېوادونودکمزورې کېدلوله امله ایران اوس دپېړیوپخواني دفارس دسلطنت دبیا احیاخوبونه ویني اوپه ړومبي ځل ناعربي قوم ؛ بل هېواد اوبل تهذیب (ایران) دعراق ،شام ،لبنان اویمن په څېرمشهورو عربي سیموکې ترسترګو کېږي .

دایران له مقتدروحلقونه اوس دا ناري هم اورېدل کېږي چې پرحرمینودسعودي خاندان دقبضې دله منځه وړلو اوددې خاندان دخاتمې وخت رارسېدلی دی.

ماته دا اندېښنه بېځایه نه ښکاري خوځه فکر کوم که داسې اراده موجوده هم وي عملي کېدل یې ناشوني دي اوپه دې امریکااونور لویدیځ هم ښه پوهېږي چې په ټولیزه توګه دشیعه ګانواوپه ځانګړې ډول دایران پرضد په سني عربانوکې ډېره زیاته کرکه شتون لرې اوورته په سیمه کې دشیعه ګانو حاکمیت هیڅکله هم دزغم وړندی چې عراق یې ښه بېلګه ده امریکاډېرې هڅې وکړې خودمالکي شیعه اداره یې کامیابه نکړای شوه اونه امریکا اودبغداد اداره پدې وتوانېده چې دلته دسني مجاهدینو روان جهادي بهیرکمزوری کړي .

هو! دایران دمداخلو پراخول او پـه مـداخلو سـترګي پټـول بـه روان وي خوددې هیلی سره نه چې ټوله سیمه يې ترنفوذ لاندې راشي بلکې هـدف بـه لـه دې لارې دلتـه دفرقـه ایـزو منـافرتونو زیاتوالي ته لاربرابرول اوبیا ټوله سـیمه دجنګ په بګربدلول وي.

دمنځني ختیځ په اړه دامریکا په پالیسی کې دهمـدې بـدلون لـه املـه سـعودي دامریکـا اونورلویـدیځ نـه سـخت نـاهیلی شـوی اوخپلـه ټولـه توجویې اوس عربي نړۍ ته را اړولـی ده ؛ اوس ددې لپـاره ډېـرې زیـاتې هڅې کوي چـې دټـولې عـربي نـړۍ حمایت ځان ته راجلـب اوپرځـان یـې راټوله کړي .

سره لـــه دې چــــې دســــعوي اوامریکــــا روابــــط خــــراب شــــوي وخوګومان کېدلوچې تاو تریخوالی به ترهمدې حده وي اوله لفظـي شـخړې به وانوړي څکه چـې د یـو بـل نـه د ګیلو ناندرو یا لفظي شخړې اخوا د یو بل پرضد اقـدام هیڅـا ګټورنـه ګڼلـو خوسعودي تـه د امریکـا دولسمشرـ اوباما د سفر پر مهال معلومـه شـوه چې خفګان زیات اوپـه روابطـو کـې رامنځته شوي درزونه لوی دي .

هو! د روان کال د اپریل میاشـتې په ۲۰ مې نېټې چې د امریکا ولسمشرـ بارک اوباما سعودي عربسـتان تـه پـه دوه ورځني سـفر راغلـی و د شـهزاده خالد پـر هـوايي ډګـر دشـکته کېـدو پرمهال یې هغسـې هرکلـی و نـه شـو څنګه به چې په تېرو وختونو کې پـدې هېواد کې د امریکا د ولسمشر کېدلو.

دې هېواد ته د امریکا د ولسمشر د راتلو په اړه د سـعودي دولـت هـیڅ جوش او جذبه ښـکاره نکـړه او د دې پر ځای چـې اسـتقبال تـه یـې باچـا سلطان بن عبدالعزیز تر هوائي ډګـره ورغلی وای هغه ورنغلو بلکې د ریاض والي شهزاده فیصل بن عبدالعزیز او د باندنیو چارو وزیر عادل الجبیر یې پر هوايي ډګر هرکلی وکړ.

د شهزاده خالد پر هوائي ډګـر د طیارې نه د اوباما د راکوځېدو سـحنه سعودي رسنیو د یو عادي خبر یایوې عادي پېښې په څېر خپره کړه او نـور یې ورته هیڅ توجو ونکړه.

د امریکا ولسمشر د هوايي ډګـر نه نېغ دباچا قصر ته ولاړ ؛ یو بل سره د لیدلو پر مهال دواړو مشرـانو خپلـو کـې سره دوه سـاعته اوږدې خـبرې وکړې خو ددې لېدنې کومـه کـوچنی لمحه هم په برقي رسنیو کـې نشرـ نـه شوه او نه د دواړو مشرانو تر منځ د خبرو داجنډا په اړه څه وویل شول.

خـودا چــې تراوســه امریکــا اوسـعودي دواړو کـې یـو هـم دبـل پرضد تېزه لهجه نه وه کارولې نو لـه یو لوري هم کوم عمـلي غبرګـون نـه وښودل شوی او تمه کېدله چـې د دې دواړو هېوادونو روابط به بېرته عـادي حالت ته وروګرځي خو په تېرو ورځو کې چې د امریکـا دمشرـانو اوولسي- دواړوجرګویاده طرحه تصـویب کـړه اوپه مقابل کې یې سعودي دامریکانـه دخپلوشتمنیودراویســتلوخبره وکــړه نواوس تمه نه کېږي چې دا روابط به بېرته عـادي شي بلکـې لا بـه پسـې خراب شي .

هو ادسعودي لپاره په هرلحـاظ داخــبره ګټــوره ده چـــې دصـــلیبي لښکرودسرلښکر،دملیونومسلمانانوقاتل امریکاسره دوستی تـه دپـای ټکـی کېږدي ؛ نه یوازې عربي بلکـې ټـولې اسلامي نـړۍ تـه خپلـه ټولـه توجـو راواړوي؛ دنورو خلکونـه پـه راتیـول شویوطیارو ، وسلواومادي وسایلوونه غولېږي اوديو اسلامي هېـوادسره هـم په جنګ کې ځان اخته نکړي.

هغـه اسـلامي هېوادونـه چــې دامریکا په دوستی خـوښ اومطمـئن دي ؛ پرې دخوښی اظهارکوي دهغوئ لپاره ډېر دعـبرت مقـام او ددې ښـه موکه ده چې دامریکا په دوستی بیا له سره غــوروکړي اوپــدې پــوه شي دامریکا هیڅ هم داعتبار وړ ندي .

داسلامي نړۍ ثقه عالم مولانا سید ابو الحسن علي ندوي ژ: ابوظهیر لومړۍ برخه

دلویدیځ د نړیوالتوب

او دجدیدیت ځپلو لاملونه او دهغو درملنه

دislam in modern history کتاب مصنف (w.c. smith) هغه څوک دی چې په اسلامي هېوادو کې د مختلفو کارکوونکو د میلانو اود جلا بلو تېلو په باب نوي معلومات لري ، نوموړي د اسلامي هېوادودننه دنوي غربي تعلیمي نظام او دغربي تعلیمي مرکزونو دژور ذهني اثر رلوا عتراف کړی ، موصوف اسلامي هېوادو کې دازادۍ خوښوونکو (Liberalism) په اړه وايي:

اسلامي هېوادو کې د ازاد خیالۍ او حریت پالنې په نوم کوم خوځښت روان دی، یو قوي لامل او اهم عامل (FACTOR) یې هلته دلویدیځ نفوذ دی، اروپا کې دازادۍ خوځښت دنولسمې پېرۍ له وروستیو نیولې ترلومړي نړیوال جنگ دعروج په وروستۍ مورگه و او داروپا دترقۍ او تفوق یوعمده لامل دا هم دی چې ډېرۍ مسلمان ځوانان دزده کړو لپاره لویدیځ ته سفرونه کړي هغوی هلته داروپا د نویو پرمختیاوو او دهغه ځای له ارزښتونو سره اشناکېږي اوپه ډېره لالهاند ی سره یې دمندلو کوښښ کوي په خاصه توگه پر هغو زده کوونکو زیات اغیز فریباسي چې داروپا په پوهنتونو کې زده کړو بوخت دي ،د هم هغوی له لارې گڼ اروپا یې توکي اسلامي نړۍ ته راغلل او هم هغه ښوونیزې اداړې په دې ډگر کې وراندې دي چاچې یو پوره نسل روزلی او بیا یې دلویدیځ غیرې ورسپارلیله لویدیځه په راغلو ځېزونو کې هغه یوشمیر نوي اندونه او نازک ،نرم اوخام ذهني اتکلونه هم شتون لري چې خپرول یې بیلابیل تعلیمي مسؤلیتونه لري اوپه پردې علاوه دلویدیځ نور قانوني، سیاسي اجتماعي او د نویو اداروپرمخ زیاتیدونکی نفوذ دی چې ځیني په جبر سره مسلط کول غواړي او دځینو لپاره کوښښونه کړې مسلمانانو دځینو مقابله وکړه او دځینو یې هر کلی وکړ، اوځینو ته یې هم هغه روزنه ورکړه او ځینو په تدریجي توگه هغوته ښه راغلاست ووایه په نتیجه کې ډېری مسلمانانو دغه نظریات او اداري رښتیني اوگڼلې اوپه دې سره دمغربیت په پراختیا او خوندیتابه تیزې راغله.

دځو مستثنی شخصیتونو (لکه اقبال ، محمد علي جوهر اونور)پرته چې ابراهیمي فطرت او یا د ځینو خارجي پیښو او اغیزې د ایماني نور او اسلامي فهم ساتنه وکړه چې له امله یې دهغوی دننه دغربي فکر او تهذیب په ضد سخت غبر گون را وتوکید په عمومي توگه دعربي او عجمي هېوادو ذهين ځوانان (څوک چې دخپل ولس گرانبیه سرمایه ده) همدې تعلیمي نظام داسې بدل کړل چې نه په سهي شکل اوصورت اسلام دهغوی په ذهن کې کیناست اونه په عامه اسلامي تولنه کې کولی شول دعلامه اقبال په وینا:

فرنگی شیشه گر گی فن سی پتهر هوگی پانی.

په دې خبره اصرار چې اسلام دهر چا شخصي معامله ده، چې په سیاست او حکومت کې یې دخایولو حق نلري له اسلام سره هم مسیحي کلیسا ته ورته معامله کول غواړي،

ددين او سياست دبيلتون مفکوره خورول غواړي اسلامي علماء دمسيحي کليسا دهغو استازو په صف کې درول چې په منځنيو پيړيو کې مطلق العنان واکمن ول ميرمن دنارينه سره له هره پلوه مساوي ګڼل او دژوند په ټولو ډګرونو کې او مندوترږو لپاره يې اهل ګرځول پرده (که په هر شکل وي) دختيځ پخواني حرم يادګار او دنارينه وو دصنفي استبداد نښه ګڼل او دله منځه وړل يې دترقۍ او اصلاح په لړ کې لومړی ګام ګڼل د ميراث په اړه اسلامي قوانين او ضابطه ،نکاح، طلاق دمنځنيو پيړيو داسلامي فقهاوو ا و د محدود دورې د ټولنې نتيجه ګڼل کومه چې په اتمه مسيحي پيړۍ کې جوړوه، په هغه کې دبدلون ، ترميم او له غربي اصولو اومعيارونو سره سم يې جوړول دوخت مهمه فريضه ګرځول ، سود ، شراب ،قمار، جنسي- اړيکو کې ازادې اوبې قيدې معيوب نه ګڼل او پرې سترګې پټول دپخوانيو(اسلام څخه وراندې) کلتورونو او ژبو د را ژوندي کولو جذبه او لاطيني رسم الخط (ليکدود) ګټورتوب او او اهميت بيانول او داسې نور ګڼ شمير رجحانات (چې ددې نوي باسواده نسل په اند) دحقايقو او مسلماتو درجه لري او د روڼ اندۍ او پرمختيا علامت يې بولي مغربي تعليمي نظام (او محمد اسد صاحب په وينا) دهغه ذهني او فکري چاپيريال او فضاء او دهغه دتاريخي ورثې نتيجه ګرځول .

تاسوته چې له اندونيزيا څخه واخله تر ترکيې پورې داسلامي هېوادو څومره مشران په نظر شکاري ،ټول دهمدې غربي تعليمي نظام زيږنده دي، په دوی کې ځينو ته مخامخ په لويديځ کې دزده کړو فرصت ياچانس په لاس ندی ورغلی هغوی پخپلو هېوادو کې دهمدې تعليمي نظام له مخلصانو او استازو څخه ګڼه پورته کړې چې يوشمير دهغوی نه په پوځي ښوونځيو او ليسو کې يې زده کړې کړېدي چيرې چې په پوره توګه غربي تعليمي نظام لوستل کېږي .

همدا لامل دی چې نن سبا په اسلامي نړۍ کې د دوه ذهنيتونو، دوه فلسفو، دوه معيارونو، او دوه لوريو ترمنځ کشمکش روان دی کوم چې په عمومي توګه تل ديوې خواکمنې، وسلوالې او په واک باندې دقابضې ډلې په برې باندې منتج کېږي داکه هر څومره دافسوس ورده خو دتعجب ورنده ځکه تعجب هغه وخت و چې کله د جديدت او دمغربيت په لوريد ذهني ميلان نه وای.

په خواړوکې زهر

ددې درملنه(که هرڅو ګرانه او ځند غواړي) په بل څه نشي کېدای چې په تعليمي نظام له سره بيا کتنه او ارزونه و نشي او دمسلمانو ولسونو دعقايدو ، مسلماتو، مقاصدو اوله اړتياوو سره سم جوړ نشي- او دټولو علومو او فنونو څخه يې دماده پرستۍ خدابيزارۍ، اخلاقي او روحاني اقدارو څخه دبغاوت او جسم پا لنې روح وويستل شي اوپکې دخدا پرستۍ خدا طلبۍ او دانسانيت روح پو کړای شي دژبې او اداب څخه نيولې تر ترفلسفې او اروا پوهنې پورې او له عمراني علومو څخه واخله تر اقتصادياتو اوسياسياتو پورې ټول يونوي قالب ته واچول شي مغربي ذهني واکمنې لري شي او دمعصوميت او او قيادت نه يې انکار وکړای شي او هم په علومو او نظرياتو يې دازازدانه تنقيد او جرئت مندانه تشريح لپاره ګام پورته شي دلويديځ دبرترۍ او سيادت څخه انساني نړۍ ته چې کوم ستر زيانونه رسي هغه په ګوته کول غرض داچې دمغرب په ستر ګو کې سترګې اچول او بيا يې علوم اوفنون لوستل اوله علومو او تجاربونه دخامو موادو(RAW MATERAL)په حيث کار اخستل اود هم دخپلو اړتياوو ، عقيدې او ټولنې سره سم يې چارې پرمخ وړل .

نوربيا...

جنـــرال دوستـــم؛
بازیچـه دست وحـدت مـلی!

ابوصهیب حقانی

جنرال دوستم که تاریخ نامناسب و بسیار وحشتناک در افغانسـتان دارد همیشـه بـه صـورت مصرفـی از او استفاده شده است مخصوصا پـس از روی کـار آمـدن حکومت نام نهاد وحدت ملی (که جنرال دوستم من حیث معاون اول حکومت) با شریک شدن داکتر عبدالله به حیث قدرت دوم وحدت ملی، تمام صلاحیت و اختیارات معاونیت اول او تحت الشعاع قـرار گرفت و بـه حیث یـک نماد کـاملا فرسایشی در بدنه ای فرسوده وحدت ملی درآمد.

از بی سوادی، کم عقلی، جهل و نـادانی، عـدم درک و دانش سیاسی و یا از سادگی و ساده دلی جنرال دوستم، اعضـای وحـدت ملـی سـوء اسـتفاده کـرده و او را بسیار زیرکانه از تمام مسائل ریز و درشت ارگ و مسائل پایتخت دور نگاه داشتند؛ اشرف غنی که روزی خود جنرال دوستم را یک دیکتاتور محلی می خواند فقط در موقع انتخابات به رای قوم ازبیک با استفاده از جنرال دوستم ضرورت داشت که تا حدودی در وقت انتخابات به این هدفش رسید و پس از آنکه در ارگ بـر تخت تکیه زد؛ و بـاز وقتـی شریـک نـو و دور از انتظار (داکـتر عبدالله)، توسط امریکایی ها در بغل وی تراشیده شد دیگر ضرورتی به جنرال دوستم ندیـد؛ و حتـی بـا همدسـتی داکتر عبـدالله و مشاورین خارجی و داخلی اش سعی در دور زدن و دورنگاه داشتن جنرال دوسـتم از مسائل مملکت داری و سیاست های ارگ کرده و او را با چند کلمه ای دروغین فریب داده یونیفرم نظامی بـه تـن او کـرده و وی را بـه میـدان های جنگ گسیل داشت چیزی که در اوائل دوستم با علاقه مندی قبول کرد؛ اما رفته رفته وقتی از سیاست های مکرآمیز ارگ نشینان آگاه شـد (و از آنجا که سواد سیاسی و توان فکری اداری و استفاده از چوکی نـام نهاد که به نامش کرده بودند را نداشـت یـا اصلا بـی صلاحیت بـود کـه خودش نیز در یک اظهار نظر صریح به این موضوع اعتراف کرد) کار از کار گذشته بود؛ گاهی تعصب کرده چندین ماه به ترکیه پناه برد؛ گاهی چند صباحی در کابل دست به شکایت بازی از طریـق رسـانه هـا زد و ... امـا هـیچ کـدام بـه حـالش فایـده نکـرد؛ و اشرف از وی هـمان کـاری را کشیده و می کشد که به سود او و تـیم هـم فکـرش باشـد نـه بـه نفـع جنرال و دار و دسته اش!؟

اما این جنرال بی سواد و در عین حال نادان بازهم ندانسـته؛ چـون هرگاه فشاری از سوی طالبان بر سر نیروهای شکست خورده حکومت در مناطق شمالی کشور پیدا می شود؛ هوشیارهای ظاهرا زیرک وحدت ملی،

فوری او را یونیفرم نظامی پوشیده و با شاباس و آفرین، چکچک و هوراء، به میدان جنگ می فرستند؛ اما سوال اینجاست که از رفتن جنرال به میدان جنگ چه سود؟

آن هم میدان جنگی که بارها جنرال دوستم در آن شکست خورده و ذلیل و ناکام برگشته و جز چند عکس فیسبوکی و نمایش در صفحات اجتماعی دیگر کدام دست آورد نداشته است؛ با آنکه بارها لاف تصفیه مناطق شمال از وجود طالبان را داده است؛ اما جز آنکه خودش و ملیشه های تحت امر خود را به کشتن و تصفیه شدن داده، و دها عراده جات نظامی را سالم از دست داده و به تعداد زیاد تجهیزات نظامی را در نبرد با طالبان از بین برده کمترین چانس پیروزی هم نصیب اش نشده است و ذلیل و خوار، تباه و برباد، شکست خورده و از هم پاشیده باز به کابل برگشته و خسارات هنگفتی را روی دست وحدت ملی

اما افسوس به حال آن مردمیکه بچه های نازنین خود را تحت فرمان شخص جاهلی مثل جنرال دوستم که از ظلم و جنایات وی کل ملت (بالاخص در صفحات شمال) در ستوه است به کشتن داده و به فرزندان خود رحم نکرده ...

گذاشته است؛ اما وحدت ملی این زیان های جنرال دوستم را نادیده گرفته و تحمل می کند؛ چون وجود او در کابل و در لباس شخص دوم مملکت را بیشتر به زیان خود می بیند؛ لذا همچنان او را با دادن القاب دروغین و خیالی مورد تمجید و ستایش قرار می دهند.

تعجب اینجاست که مگر از حماقت یک انسان، انسان های استفاده جو چندبار می توانند سوء استفاده کنند؛ که این همه استفاده توسط حلقات خاص ارگ از جنرال دوستم می شود و آیا واقعا دوستم که خودش پاک بی سواد است چهار مشاور با سواد خارجی و داخلی در اطرافش نیستند که او را از خواب حماقت بیدار کرده و بفهمانند که جز آنکه بازیچه ای دست وحدت ملی گردیده و در دام القاب و القاءات دروغین ارگ نشینان گیرمانده؛ اصلا برای سران وحدت ملی، حیات و حیثیت او مهم نبوده و دور کردن دوستم از ارگ کاملا یک دسیسه سیاسی و عمدی است؟!؟

اما افسوس به حال آن مردمیکه بچه های نازنین خود را تحت فرمان شخص جاهلی مثل جنرال دوستم که از ظلم و جنایات وی کل ملت (بالاخص در صفحات شمال) در ستوه است به کشتن داده و به فرزندان خود رحم نکرده و با اینکه از قبل، جنرال را بازنده اصلی و شکست خورده اول و آخر میدان های نبرد با طالبان می دانند باز هم در مسیر غلط او جگرگوشه های خود را تلف کرده و به حال خود و آینده شان رحم نمی کنند.

به امید شکست روز افزون پیروان باطل در تمام میادین حق و باطل.

د برما
دوامداره غمیزه او ویده امت!

ناتح کاروان

پرون ورځ یې د اکتوبر په ۱۸ مه د برما د بودایي حکومت لخوا د روهنګیا د مسلمانانو پرضد پراخ عملیات پیل شوي چې تر دې دمه پکې له سلو تنو زیات مسلمانان په شهادت رسیدلي او ګڼ شمېر نور ټپیان او بې کوره شوي دي، هسې خو هلته هره ورځ ظلم او وحشت روان وي مګر د پرونۍ پېښې په څېر کله کله برما د رسنیو د توجه سبب وګرځوي

ظلم د نړۍ په هر ځای کې شروع دی خو د برما مسلمانان د داسې سختو ظالمانو د ظلم سره مخ دي چې تش په لیدو یې د هر با احساسه مسلمان له سترګو بې اختیاره اوښکې ځي، د برما مسلمانان د څلور لسیزو را په دې خوا د ډېر بد حالت سره لاس او ګریوان دي، د ۲۰۰۷ میلادي کال را وروسته د برما او بیا په ځانګړي ډول د اراکان ولایت مسلمانان د بودایي لېوانو د داسې زړه بوږنوونکو مظالمو سره مخ شول چې د بشریت په تاریخ کې یې ډېرې کمې بېلګې موندل کېږي، هو هلته د بمونو باران نشته هلته حالت بل ډول دی د برما بودایي رژیم د دې هېواد بودایانو ته عام او تام اجازت ورکړی چې په هر ډول او هره لاره چې کولای شي مسلمانان دې قتل عام کړي او د همدې فرمان په اساس د بودایي راهبانو په غوښتنه برما کې د مسلمانانو عام وژنه دوام لري، ټولې نړۍ ولیدل چې څه ډول بودایي درنده ګانو د برما د مسلمانانو کورونه وران کړل، پر تور سرو یې جنسي تیري وکړل، ځوانان یې په عامو ځایونو کې په چړو، برچو، تورو، لرګیو، بېلچو او تبرونو ټوټې ټوټې کړل، د دې مظلومو مسلمانانو ماشومانو یې را و نیول او بیا یې د اوسپنې څادرونه ورته په اور تاوده او دا معصوم ګلان یې پرې وریت کړل خو، نړیوالو څه وکړل؟

هېڅ او یوازې هېڅ، دا اوس یو معمول جوړ شوی چې په امریکا کې څو لوطیان د لواطت په حالت مرداریږي ټوله نړۍ پرې غبرګون ښایي، دوه اسرائیلي یهودیان په تل ابیب کې وژل کېږي د نړۍ کفار پرې د ډېرې غصې د لاسه له خولو زړونه غورځوي، لس کافران پدې جرم وژل کېږي چې د اسلام د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په شان کې یې ګستاخي کړې وه د نړۍ له یو سر نه تر بل سر پورې د جهاد او مجاهدینو پرضد د کفارو او منافقانو جلوسونه راوځي او په انتقام اخیستو عملي اقدام کوي!

په همدې فرانسه کې څو شيطان پرستان د شرابو په نشه کې مست د زنا او همجنس بازۍ پر مهال وژل کېږي د نړۍ له کفارو ډېر پرې تش په نامه اسلامي رياستونه، مدني ټولنې او د بشر د حقوقو سازمان د خفګان څرګندونه کوي آن تر دې چې د کابل د دوه سري رژيم مشر اشرف غني فرانسويانو ته خپله غمرازي ښکاره کوي او پورته کړنه د بشريت سره دښمني نوموي خو...!!

دا هره ورځ چې په سلګونو مسلمانان په شهادت رسول کېږي، دا يو نيم ميلياردیز اسلامي امت ته چې توهين او سپکاوې کيږي نړۍ ولې پرې ګونګه خوله ده؟!!

په تل ابيب کې يو يهودي ټپي کېږي نو له قهره نړۍ په لړزه راځي خو په برما، عراق، سوريه، پاکستان، افغانستان، صوماليا، فلپين، نايجيريا، کشمير، فلسطين او...

هره ورځ د مسلمانانو د وينو ويالې روانې دي نړۍ او نړيوال يې يواځې تماشه کوي آيا انسانيت د نړۍ په خلکو کې ختم شوی؟

آيا مسلمانان د ژوند حق نلري؟ آيا د رحم او عاطفې په نوم اوس څه عمل شتون نلري؟؟

دا څه معنی لري چې امريکايان د برما بودايان حمايه کوي، د اسرائيلو يهوديان پر شا ټپوي او دلته په افغانستان کې د بشر د حقوقو ډنډورې غروي او بيا هم امت مسلمه پرې ګونګه روژه نيولې؟!!

ګيله له کفارو نه، له خپلو مسلمانانو کيږي چې دوی پخپلو کې سره اړم دي هلته په برما کې ژوندي مسلمانان په اور کباب شول، په حلب کې د اور او وينو پرته بل څه نشته، په عراق کې د امت مسلمه تاريخ او وجود و ننګول شو او لا هم زموږ مسلمانان په تنظيمي، مذهبي، سمتي او قومي اختلافاتو کې سره يو بل ته ګوته په ماشه دي!!

سعودي عرب خپل زور په عراق او يمن ازمايي، پاکستان خپل اټوم د وزيرستان په مظلومو پښتنو استعمالوي، اسلامي کانفرانس يواځې نمايشي-ناستې کوي، قطر او متحده امارات ناټو او امريکا ته د جنګ د مصارفو په ورکولو بوخت دي، د کويټ شيخان د دريو او څلورو ودونو څخه اوزګار نه شول، سوډان پخپل ناسور اخته دی، ايران خو هسې هم دوهم اسرائيل دی اخر د دې امت برخليک به څنګه کيږي؟؟

امريکا مخکې او د اسلامي نړۍ فاسد، شرابي او پست ترين مشران ورپسې دي، ملګري ملتونه در ګرده کفارو ته د مسلمانانو د قتل عام اجازت نامې ورکوي او عرب ليګ، اسلامي کانفرانس او د اسلامي هيوادونو مشران پرې د رضايت امضاګانې کوي نو څنګه به امت نه بې سر نوشته کيږي؟؟

د برما غميزه د اسلامي امت پرمخ هغه کلکه څپېړه ده چې بودايانو وار کړی ده خو تر اوسه يې لا چا ځواب ندې ويلې!

اې اسلامي امته! راځه چې سره متحد شو او يو ځل بيا نړۍ ته خپل تاريخ، هويت او ميرانه په اثبات ورسوو او که همداسې د ځانځانۍ او نفاق په ګرداب کې ډوب پاتې شولو نو تر دې به د سختو او بدو عواقبو سره مخ شو، هغه وخت به بل څوک نه بلکې خپل ځان او خپل اعمال زموږ د ذلت سبب وي.

د نړيوال کفر د بشپړ شکست او د اسلامي نظام د قيام په هيله

روز نحس با عشوه گری زیبا!

محمد نذیر تنویر

بمناسبت پانزدهمین سالروز تجاوز امریکا بر میهن ما 7 اکتوبر 2001

آغاز شب ۱۵ میزان ۱۳۸۰، آغاز یکبار دیگری سیاهی در تاریخ کشورما!

کشوری که تاهنوز زخم های «تجاوزگر شوروی» از وی التهام نیافته بود، و مردم اش؛ در بی کسی و انزوای جهانی، تازه نفس راحت «غیر وابستگی» را می کشیدند که توطئه جدید بر ایشان رقم خورد!

روز نحس با عشوه گری زیبا!

بلی! روز نحس با عشوه نمایی های زیبا، دوباره دروازه های وابستگی را به روی مردم مظلوم این خطه گشود.

بازهم!

یقیناً بازهم، روشنفکرنماها، پلی از برای ورود متجاوزین، به مهین آزاده ی ما گشتند.

به غربت اش، به بی کسی اش، به قحطی اش، به تعزیرات اقتصادی اش، به ساده زیستن دولتمردان اش، به شکم های نیمه پُر و به پاهای برهنه مجاهدان این خطه دل نسوزاندند، و در رکاب تجاوزگر امریکا، داخل این خطه ای آزاده گشتند.

ای وای برشما!

دیگر معلوم نبود که به چه مقیاس؛ روز و شب بر سر این ملت مظلوم بمب می ریختند، و طیاره های ناپیدا؛ با مدرن ترین سیستم های جنگی عصر، بر هر جنبده ای بی رحمانه حمله ور می گشتند؛ در حالی که روشنفکر نماها و «ملیشه های» کمین زده از برای قدرت، ناظر، تماشاگر و مشوق آن بودند.

بلی! تاریک فکران روشنفکرنما، «ائتلاف بدون سرحد» را با انواع جنایتکاران و خنثی مشربان شکل دادند. هسته و محور اصلی این ائتلاف که همان قاتلین چپی (روسی و چینی) بودند، در آنطرف مرز های شمالی و غربی، به متجاوزین چراغ سبز نشان می دادند.

متجاوزین در عالمی از کبر و غرور، بر عملی ساختن اهداف شان به شدت مصروف بودند. ترس و واهمه چنان بر این کره خاکی مستولی شده بود، که کسی حتی جرأت بیطرف ماندن را نمی توانست اختیار کند.

بوش «پسر»، با تکبر و غرور فریاد سر می داد که: «یا با ما، ویا برضد ما»!

دیگر «عقل ها» منجمد و انجنیران جهان مُهر سکوت بر دهان زده بودند، تا فریاد سر دهند که ۱۱ سپتامبر یک درامه بیش نیست! بخصوص که امریکا خود، تجربه عملی از برخورد (بی ۲۵) بر آسمان خراش «امپایر ستیت» نیویارک را در سال های ۱۹۴۵ داشت، که به جز همان طبقه، تعمیر به خاک یکسان نشده بود، آنهم بطور عمودی!

اما چرا افغانستان!؟

شب و روز بر سرزمین ما بمب می ریختند، و ائتلاف «قاتلین بدون سرحد»، جشن و پای کوبی «برگشت دوباره» شان را در تاجکستان، ازبکستان و ایران براه انداخته بودند.

میدان های ملکی کشورما، به خاک یکسان گشتند و تمامی طیارات ملکی نابود شدند. زنان و اطفالی که از زیر آوار ویرانه ها بیرون آورده می شدند، نشر تصویر شان جرم پنداشته می شد. زمانی که «تیسیر علونی» خبرنگار شجاع الجزیره همچو گزارشی را به بیرون انتقال داد، چند لحظه ای نگذشته بود که دفتر مرکزی الجزیره در کابل با

ژورنالیست هایش به خاک و خون کشانده شد.

دیگر نه از حقوق بشری خبر بود، و نه از آزادی بیان و مطبوعات!

آنها فراموش کرده بودند که عاقبت امور در دست خالق هستی ست (وَإِلَى اللَّـهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ)؛ و اینکه برای انسان ها مهلت داده می شود، از برای «من و تو» ست تا جایگاه خود را نزد الله (ج) تثبیت بداریم!

۷۲روز وحشت به فجیع ترین شکل اش ادامه داشت. اما امریکای تجاوزگر با مؤتلفین اش، نتوانستند که «یک انچ» در سرزمین آزادگان افغان، نفوذ کنند!

بلی! اینجاست که خائنین ملی؛ از شاه سابق تا رهبران مجاهدنما، از قاتلین خلق و پرچم تا ملیشه های دوستم، از مائویستهای «راوا» تا تکنوکرات ها، از سیکولر های بی دین تا رافضی های اسلام نما، از ناسیونالیست های زبانگرا تا نژاد پرستان کینه توز، ووو.... خلاصه تمامی این نیرو های «شر و فساد» که اقلیت کشور را تشکیل می دادند، زیر چتر ائتلاف شمال (ستون دومی متجاوزین) به تحرک آمدند.

دیگر غرور امریکا در حال شکستن بود، و قدرت نظامی اش زیر سوال می رفت که این ائتلاف نحس (ائتلاف شمال)، دوباره آنرا اعاده ساخت. آنها در حالی که «کروکی» محل را برای اشغالگران مخابره می نمودند، با اثابت بمب های دوهزار کیلویی بر محل،خوشی و سرور سر می دادند و در برابر کمره های خبرنگاران (ستون سومی متجاوزین)، فخر فروشی براه می انداختند. یقیناً که وطن فروشان جدید، به وطنفروشی شان فخر می ورزیدند، و «غیر وابستگی» را از اعوامل عقب ماندگی می دانند!

بلی! همین ائتلاف نحس است که امروز برای ما درس وطندوستی و مجاهدت را می دهد!

آخر «بی شرمی» و «بی حیایی» از خود حدود و سرحدی دارد:

ϖآنها (متجاوزین) می کشند و روزهای نحسی را در تاریخ کشورما رقم می زنند،

اینها (ائتلاف نحس) با عشوه نمایی های شان، آن را برای ما زیبا جلوه می دهند؛

ϖآنها، دزدان و آدمکشان شان را برای ما قهرمانان معرفی می دارند،

اینها ایشان را برای ما تاریخ سازان و الگو های جهان جلوه می دهند؛

ϖآنها قاتلان و متجاوزگران خودشان را قهرمان، و قهرمانان و آزادی خواهان ما را قاتل معرفی می دارند،

اینها در پخش و نشر اش، بی شرمانه مباهات ورزیده، حتی به گذشتگان این خطه نیز می تازند(سلطان محمود، احمدشاه بابا ووو...)؛

ϖآنها قاتلان و دزدان کشور خودی ما را قهرمان می سازند،

و اینها آنرا با رأی های جعلی، سردار و حاکم ما می گردانند؛

ϖآنها گرگان و جانیان را، مدیران امن و رفاه مردم ما می گردانند،

و اینها به آن لبیک گفته و ایشان را فرزندان رشید این خاک دانسته، جاده ها و جای های عامه را به اسم ایشان نامگذاری می نمایند؛

ϖآنها مجاهدان و آزادی خواهان ما را تروریست و متحجر می نامند، و تروریستها را آزادی طلب،

و اینها با ایشان همصدا شده و طلب محکمه آنها را نیز می نمایند ووو...

و بیاید، ازین گل نو پیوند کنید!

این همه قتل و جنایت متجاوزین در طول ۱۵ سال؛ با یک وعده منافقانه «اوباما» سفید گشت، و با اعلان خروج نیروهایش، چنان به وی اعتماد کردیم که جهاد و مبارزه یگانه نیروی مقاومت کشور خود را (امارت اسلامی)، به «برادر کشی» شکل دادیم!

پس هنوزهم آزمایش ادامه دارد:

وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّىٰ نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ ﴿۳۱﴾

ما همه ی شما را (با وجود آگاهی از اعمالتان) قطعاً آزمایش می‌کنیم، تا معلوم شود مجاهدان (واقعی) و صابران شما کی ها هستند (و مجاهدنماها و ناشکیبایان سست‌عنصر کی ها هستند). و گزارش‌های شما را رسیدگی و برملا کنیم.

و نباید در دقایق اخیر، جهاد خویش را از دست دهیم:

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۳۹﴾

و (در انجام فرمان هایِ حق و در جهاد با دشمن) سستی نکنید و (از پیش آمدها و حوادث و سختی هایی که به شما می رسد) اندوهگین مشوید که شما اگر مؤمن باشید، برترید.

و نباید فراموش کنیم که این همه مصیبت و آفتی که بر سر کشور و مردم ما آمده و تاهنوزهم ادامه دارد، دستآورد روز هفتم اکتوبر ۲۰۰۱ می باشد!

روز نحس با دستآورد ۴۰۰ هزار کشته و معلول، چهار میلیون معتاد و میلیون ها فاحشه و فاسد؛ با عشوه نمایی دمکراسی و حقوق انسانی!

یقیناً! روز نحس با عشوه گری زیبا!

افغانستان

او مثلي جنسپال

لطف الله خیرخوا

سرې دوو کې حیران شي، چې ویې وایي که نه؟ که یې وایي د خلکو ورپام کیږي او که یې نه وایي، مهمه خبره بې ځوابه پاتې کیږي، خو که یې نه وایي هم سرې یې له غمه وایي. درې ورځې پرله‌پسې بي بي سي پښتو راډیو او تلوېزیون د مثلي جنسپالو په اړه راپور او مرکې خپرې کړې. په راپور او مرکو کې د مثلیانو غږونه نه شته، د بي بي سي د خبریالانو غږونه دي، خو وایي چې دا پلانی مثلي دی. که فکر وکړو، چې افغانستان کې د دوی غږ ته انعکاس ورکول څه معنی لري؟ رښتیا هم افغانستان کې داسې څوک شته؟

راپور ښیي، چې افغانستان کې په تمامه معنی مثلیان نه شته، بد فعلي به وي، خو داسې چې خپل ژوند دې د مثلیانو په څېر تېر کړي، داسې څوک نه بریښي او ښځو کې بیخي نه بریښي.

یوه خبره امکان لري چې غرب کې زېږېدلي افغانان یې راوستي وي او په دې ډول یې ښکاره کړي، لکه نرښځی نعمت سادات، چې د مفکر د کاندیداتورۍ وخت کې یې د افغان مثلي جنسپالو په استازیتوب د ده ملاتړ اعلان کړی و. د دوی خپل راپور وایي، چې افغانستان کې د دوی ځای نه شته، خو د خپلو حقونو لپاره به هلې ځلې کوي. په راپور کې، چې د مثلیانو وینا ویل کیږي، یو مفعول نرښځی د خپل احساس په اړه ډېرې پرېوتې خبرې کوي، دا نرښځی نعمت سادات دی. ما ته له دې معلوم شو، چې راپور کې یې ژورنالیست په اړه وایي، چې د افغانانو ساده سینګار مې نه خوښیږي، زما تېز رنګونه خوښیږي. تاسې نعمت ګوګل کې ولټوئ، چې پر شونډو او مخ یې څومره تېز رنګونه کارولي. بله دا چې همدغه مفعول نرښځی په پټ مخي راپور کې وایي، چې دا یو واقعیت دی او زموږ انتخاب نه دی او نعمت دا خبره «د فکر لارې» پروګرام کې مستقیما کوي. داسې بریښي، چې بي بي سي په لوی لاس غواړي، دې موضوع ته د خلکو پام ورواړوي او افغانستان کې نرښځیتوب مثلیت ته رشد ورکړي.

په راپور کې او د نرښځي سادات په خبرو کې څو خبرې ډېرې ګواښمنې وې. یوه خبره دا ده، چې دی وایي «مثلیت» یو واقعیت دی، زموږ انتخاب نه دی. موږ الله (جل جلاله) داسې پیدا کړي یو، نو ولې په شریعت کې زموږ سزا مرګ دی؟

دوی فکر نه دی کړی، چې غلا هم یو واقعیت دی، قتل هم یو واقعیت دی، نشې او مخدرات هم یو واقعیت دی، ځانوژنه هو یو واقعیت دی، په غرب او اروپا کې د انسانانو خرڅول هم یو واقعیت دی. اوس به څه کیږي؟ هر څه چې یو واقعیت دی، اجازه لري؟ که غل، قاتل، نشه‌یي راپاڅیږي، چې دا زموږ انتخاب نه دی، دا یو

واقعیت دی، موږ الله(جل جلاله) دغسې پیدا کړي یو، موږ ته باید د غلا، قتل او نشې اجازه راکړی شي، منځ یې ورسره؟

که ځانوژنه د ډیرېشن یا نفسیاتي مرض له امله کیږي، نشه مرض وي، څنګه هغه انسان روغ دی، چې د انساني فطرت خلاف طبیعت لري؟ نر په طبیعت کې ښځې ته میلان لري، همدا ډول ښځه په طبیعت کې سړي ته، اوس که سړي او ښځه کې نوموړی طبیعت نه وي او دواړه د فطرت خلاف خپل مثل ته میلان لري، څنګه مرض نه دی؟

زه دې موضوع پسې ولټېدم، چې ډاکتران په کې څه وایي. په ریاض کې د ډاکتر عبدالله السبیعي په نوم یو نفسیاتي ډاکتر وایي، چې نړیدې ټول سایکاترستان پر دې یوه خوله دي، چې مثلیت مرض دی. د دوی په اصطلاح د هرمونونو د ایجابیت او سلبیت مخالطې نه دا مرض پیدا کیږي. دی وایي، دې مخالطې ته دوی د طبیعت نوم ورکړی، چې په سلو کې یو فیصد هم نه تشکیلوي!!

قرآن کریم کې د لوط علیه السلام د قوم کیسه موږ ته د دې خلکو نفسیات ډېر ښه روښانوي.

دوی، چې د خپل طبیعت خبره کوي، دا لومړی ځل نه دی، بلکې له دوی ډېر مخکې د لوط علیه السلام قوم دا خبره کړې. په راپور کې نرښځې سادات وایي، چې موږ خدای(جل جلاله) داسې پیدا کړي یو، مخالف جنس ته مو هیڅ میلان نه شته!!

کله چې د عذاب ملایکې د لوط علیه السلام کور ته راغلې، ډېر وغمېده، چې قوم به مې مېلمنو ته وشرموي. قوم یې خبر شو، چې لوط علیه السلام کره ښکلي هلکان راغلي، قرآن کریم د دوی د عکس العمل عجیب تصویر کاږي. وایي : {وَجَاءَهُ قَوْمُهُ يُهْرَعُونَ إِلَيْهِ}. قوم یې ورته راغی، ګېرې نیولی راروان و. دا خلک ګېرې نیولي ول، نورمال نه ول، منډې یې راوهلې. لوط علیه السلام ورته وویل. ګورئ! مېلمنو ته مې مه شرموئ. دا زما لورګانې دي، نکاح یې کړئ، دا پاکیزه کار دی، هغوی ورته وایي : {قَالُوا لَقَدْ عَلِمْتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنْ حَقٍّ وَإِنَّكَ لَتَعْلَمُ مَا نُرِيدُ} ته ښه پوه یې، چې موږ ستا لورګانو ته هیڅ رغبت نه لرو او ته ډېر ښه پوهېږې، چې موږ څه غواړو.

دا عینا همغه خبره ده، چې اوسني مثلیان یې کوي. قرآن کریم د دوی دې میلان ته «فاحشة» هم ویلي، «سیئة» یې هم ورته ویلي او د دې فحشاء په ارتکاب یې جاهلان او مریضان ګڼلي. {وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِنَ الْعَالَمِينَ}. او لوط علیه السلام چې خپل قوم ته وویل تاسې بدکاري کوئ، چې هیچا نه ده کړې. علماء وایي، چې په { مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِنَ الْعَالَمِينَ } کې دې ته اشاره ده، چې دا کار د طبیعت خلاف دی، د انساني فطرت خلاف دی، هیڅ مخلوق یې نه کوي. په {مِنْ أَحَدٍ مِنَ الْعَالَمِينَ} کې دې ته اشاره ده، چې یوازې انسانان نه، بلکې د نړۍ پر مخ هیڅ ژوی یې نه کوي.

بل ځای کې هم دې ته ورته اشارې شته، چې دا کار د فطرت خلاف دی، وایي : {إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ}. تاسې سړیو ته د شهوت له کبله ورنږدې کیږئ، ښځو ته نه، تاسو له حده جاروتي خلک یاست. بل ځای ورته وایي : {بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ}. تاسو جاهل خلک یاست.

علماء وایي، رجال کې دې ته اشاره ده، چې تاسې داسې چا پسې نښتي یاست، چې سبا بله ورځ د کتو هم نه وي، شهوت خو لا پر ځای پرېږده. دوهمه دا ده، چې ستاسې دا کار یوازې شهوت پالنه ده، که نه نو نکاح خپل اهداف لري، مقاصد لري، چې په دې مثلیت نه تر لاسه کیږي؛ یوازې شهوت نه دی.

اوس د ایتونو تناظر کې د دوی د مثلیت اهداف وګورئ. که سړی یې وپوښتي، چې ښځې سره نکاح د نړۍ د ابادۍ سبب دی، ځکه چې په دې تواصل او پای تناسل باندې نسلونه جوړېږي. تاسو څه هدف لرئ؟ ښځې سره نکاح باندې د انسانانو تر مینځ عواطف زیږي. ښځه او مېړه. پلار او زاړه، مور او زاړه. ماما او خوریونه. کاکا او وریرونه. عمې او وریرونه، ترورګانې او خوریونه. د تره زامن، د ترور زامن. تاسو ترې څه جوړوئ؟

ښځې سره نکاح باندې د انسانانو د تربیې دود پایي. د کور ساتنه، د کور اداره، د اولادونو تربیه او تعلیم، چې د نړۍ ابادي ده، تاسو څه کوئ؟

اصلا دا د نړۍوال کفر د شامل یرغل فکري کړۍ ده، چې پر مخ یې بیایي. دا چې بي بي سي هم دا تبلیغات «د فکر لارې» پروګرام کې پر مخ بوځي، صراحتا د فکري یرغل یو صورت دی، چې زموږ د مسلمان ولس پر ضد پلی دی.

د کابل ضعیفه اداره

خالد منهاج

د کابل د حکومت ضعف اوج ته رسېدلی دی ، چورلټو دروغو او بې بنسټه افواهاتو ته یې مخه کړې ده ، مرال بایللي عسکر یې هره ورځ سلګونه کسان له ټانګونو او موهماتو سره طالبانو ته تسلیمیږي ، د غني او او عبدالله تر منځ د واک اختلافات د پخوا دوه برابره شوي دي ، دوستم هم د عبدالله هغه ادعا چې دوستم زخمي شوی دی بې بنسټه او دروغ ګڼلې وه او سره مځغې په مځغې دي ، عطا محمد نور په عربستان کې د دې پر ځای چې قدر یې وشي د لویې ډلې عربانو او عبدالله په مخکې ښه بې عزته شو.

نو همدا وجه ده چې کله وایې د طالبانو مشر روسیې ته سفر کړی ، کله وایې ۷۰۰ دواعش راځي ، کله وایې جګړه پاکستانیان پر مخ وړي.

وروستی او خندونکې یې دا وه چې د افغانستان د دې اوږدې پېچلې مسلې د حل تراو یې تر ګاردین ورځپاڼې پورې ورکړ او اوازه یې خپره کړه چې ګواکې طالب مشرانو د ګوداګي ستانکزي سره په دوحه کې لیده کاته او د سولې اړوند مذاکرات کړي دي.

په داسې حال کې چې د ګوداګی ادارې ټول چارواکي د غني په ګډون د دې مذاکراتو څخه چوپ او بې خبره دي.

آن تر دې چې هغه د سولې د شوراګانو او کمېسونونو غړي هم حیران دي چې مذاکرات چا او چیر ته کړې.

طالبان خو دې مسلې زیات التفات ځکه نه کوي چې د هغوی دریځ په دې برخه کې واضح دی او په څو څو ځله یې داسې بې بنسټه انګازې د دښمن تبلیغات ګڼلي.

حقیقت دا دی چې ګوداګی حکومت په دې وروستیو کې ډېر ضعیفه شوی او د سختې ماتې او رسوایی سره مخ دی ؛ غواړي چې په داسې کړنو سره خپل ضعف او ماته پټه کړي او د افغان ولس پام بلې خواته واړوي.

ګلمجمي ښځينه مليشې

عصمت الله عزام

تېره ورځ په رسنيو کې داسي خبرونه خپاره سول چې د افغانستان په شمال جوزجان او فارياب ولايتونو کې د جنبش ګلمجمو مليشو لخوا د طالبانو په خلاف په ازبکو ښځو باندي وسلي وويښل سوي تر څو د طالبانو مقابله پري وکړي، هېره دې نه وي چې څو ورځې مخکې د ګلمجمو مشر ـ دوستم فارياب ولايت ته ولاړ او د خپلو ګلمجمو مليشو سره د غورماچ ولسوالۍ د نيول لپاره په لاره کې د طالبانو په کمين واوښتل، چې دوستم يې سره د ګلمجمو کلک محاصره کړ، چې په ترڅ کې يې دوستمي مليشو ته درانه تلفات واوښتل او د دوستم پنځه خاص کسان مړه او خپله دوستم تېښې سو او محاصره يې د اشغالګرو د چورلکو په مټ ماته کړه، او همداشان دا يې دريم ځل دی چې دوستم په فارياب کې د طالبانو سره په جګړه کې ماتې خوري. نو دا چې دوستم ماته وخوړله، اوس يې يوه بله بې شرمه تبلغاتي حربه وکاروله چې په ښځو يې وسلې وويشلې، نو ددې خبر په اوريدلو سره ما ته د نبی کريمﷺ د وخت د غزا يوه واقعه رايادە سوه.

حضرت خالد بن وليد رضی الله عنه د روميانو مقابلې ته ولاړ روميانو غوښتل چې د مسلمانانو سره جنګ ونکړي، نو روميانو اول مسلمانانو ته د خپل طاقت خبري شروع کړي چې موږ د هغو نورو مشرکينو په رقم کمزوري نه يو موږ ډېر غښتلې يو، خو حضرت خالد رضی الله عنه ورته وويل (يا کلب الروم) ای د روم سپيه ته موږ ته قاصد راغلی يې که موږ ته نصيحت کوي، نو بيا روميانو ددې نه وروسته مسلمانانو ته د جنګ پرېښودلو لپاره د پيسو وړانديز وکړ خو د خالد رضی الله عنه لخوا رد کړل سو نو په اخيره کې روميانو د مسلمانانو د جنګ پريښودلو لپاره د ښځو حربه په کار واچوله چې ښايسته او فاحشې ښځې يې مسلمانانو ته راوليږلې تر څو مسلمانان پري مشغوله کړي او جنګ پريږدي، خو تر هغو صحابؤ قربان سم چې په خطا کې يې هم کله ورته ونه کتل او قصداً خو سوال نه پيداکيږي چې ورته وګوري، نو همدارنګه صحابه کرام له فتنې څخه خلاص او پخپل ځای ثابت قدمه پاتې سول، نو اوس هم طالبان د صحابؤ په لار روان دي لکه څنګه چې صحابه په امتحان کي کامياب او کفار نامورالە سول همداشان د ګلمجمو مليشي به هم په دي بي شرمې حربي کي نامورالە او ناکامه شي او طالبان به د الله ﷻ په نصرت سره فاتحان او بريالي وي.

ابدي تسليمي

زاهد جلالي

اسلامي نړۍ له نږدې دوه سوو کلونو راپه دې خوا د بقا په جګړه بوخت ده. که دغه ډول جګړې د نورو تمدنونو پر وړاندې ترسره شي، ستونزمنه ده چې دومره دې دوام وکړای شي. په دغه خطرناکه او څو جبهه ییزه جګړه کې مسلمانانو ډېر څه له لاسه ورکړل. د مسلمانانو نظام په کې له منځه لاړ، چې په نتیجه کې یې اسلامي نړۍلید یې له سوال سره مخ کړ، او د دې په نتیجه کې بیا اسلامي هویت د له منځه تلو له ګواښ سره مخ شو، خو مسلمانان لا هم تسلیم نه دي.

په اسلامي نړۍ کې د استعمار له دورې وروسته د تهدیدونو پر وړاندې طبیعي ځوابونه راپورته شول. په مصر کې رفاعه طهطاوي، په هند کې سید احمد خان، په مصر او نوره اسلامي نړۍ کې محمد عبده له ریفارمرانو څخه وو. دوی غوښتل د اسلامي نړۍ دودپال رویه بدله کړي او له نوې نړۍ سره یې د تعامل جوګه کړي. هغه مهال دودپالنه یا ټرډېشنلېزم د ځپل کېدو په حال کې و؛ ځکه مسلمانانو، یا لږ تر لږه مسلمانو مصلحینو ګومان کاوه چې د اسلامي تصور له بدلولو او عصر سره یې له عیار کولو پرته بله چاره نه شته.

استعماري بادارانو (Colonial Masters) د دودپالو او اصولي نویتوب پالو په پرتله د سید احمد خان په څېر مصلحین خوښول؛ ځکه دوی مسلمانان وو او په ټولنه کې اغېزمن خلک وو–که به نه وو، استعمار به یې اغېزمن کولو کې مرسته کوله- او دوی د مسلمانانو زړونو کې د استعمار پر ضد د مقابلې پر ځای له دوی د زده کړې او شاګردۍ لاره غوره کوله. سید احمد په هند کې الیګړ کالج جوړ کړ او په لومړي وار یې مسلمانانو ته په غربي طرز زده کړې شروع کړې. محمد البهي وایي چې په هند کې د استعمار د شتون د توجېه په تړاو د سر سید د هڅو په پایله کې د قادیانیت او احمدیت په نامه نوي دینونه رامنځ ته شول.

استعماري بادارانو ځکه د مصلحینو ملاتړ کاوه چې هغوی پوهېدل چې اصلاحي حرکتونه به مخکې ځي او د هغې پروژې مورثین به جوړېږي چې دوی د استشراق په نامه کلونه وړاندې شروع کړې وه. محمود شاکر، چې د غرب او اسلام د اړیکو جدي څېړونکی دی، په خپل کتاب «الطریق الی ثقافتنا» کې لیکي چې استعمار په درې جبهو کې د اسلامي نړۍ پر ضد جګړه پیل کړه: صلیبي جګړې، تبشیر یا تنصیر او استشراق. صلیبي جګړو د مسلمانانو ډېره ځمکه ونیوله کړه او تبشیر، یا د مسلمانانو مسیحي کولو هم په ځینو ځایونو کې مثبته پایله لرله. خو استشراق، یعنې ختیځ پوهنه، ډېر مهم و؛ ځکه ځمکې د تاریخ په اوږدو کې ډېرنیول شوي او بایلل شوي. یو مهالې د چنګېز خان لمسیان هم د نړۍ پر ستره برخه واکمن شول، مګر تر څو چې مخالف له فکري اړخه نه وي مات شوی، پر ځمکې واکمني یقیني نه ده. رښتیني بریا د فکري غلبې په صورت کې رامنځ ته کېدای شي. د اسلامي سترو واکمنیو د دوام ستر لامل د مسلمانانو فکري قوت و.

محمود شاکر وايي چې د استشراق موخه دا وه چې مسلمانان په غرب کې جاهل قوم معرفي کړي او خلک داسې وپوهوي چې دوی ساده خلک دي، له دښتو راپورته شوي او د محمد په نامه يوه سړي له يهوديت او مسيحيت څخه څه زده کړي او د دې له مخې يې د پيغمبرۍ دعوه کړې او د دوی پر وړاندې جګړه د جهالت پر وړاندې مبارزه ده. وروسته استشراقي هڅې پراخې شوې او د اسلام په اړه د مسلمانانو مشکوک کول هم د غې پروژې برخه وګرځېده. دوی د رسول الله خبرې د شک وړ وبللې او د قرآن نص يې د انسانانو له لورې جوړ شوی وباله .

لنډه دا چې استشراقي حرکت پر هغو بنيادونو بريد وکړ چې اسلام پرې ولاړ و او د نړولو هڅه يې وکړه. دوی به د غربي لوستونکو ذهنيتونه د مسلمانانو په تړاو خراب کړي وي، خو په مسلمانه ټولنه کې د مستشرقينو کتابونه يوازې محدودو علمي مرکزونو کې لوستل کېږي. د عامو مسلمانانو پر وړاندې مستشرق عالم او صليبي جنګيالی ډېر توپير نه لري؛ ځکه خو په شرقي ټولنو کې د دغه حرکت اغېزه هم ډېره نه وه.

له همدې کبله استعماري بادارانو په اسلامي نړۍ کې د اصلاح په نامه موډرنېستان يا نويتوب پالان ښه استقبال کړل. د دوی کمال دا و چې د مسلمانانو بچيان وو، د دوی په څېر رنګونه يې لرل، هماغه شان جامې يې پر تن وې، په يوه ژبه سره غږېدل او د يوه درد د لرلو ادعا يې کوله؛ ځکه خو د دوی اغېزه نسبتا زوروره وه.

غربي واکمن پوهېدل چې دغه ماډرنېستان يوازې د غربي درسي طرز په اخيستلو بسنه نه کوي، بلکې د اسلامي رويې او آن د اسلامي تصور د بدلولو پلان د دوی مهم هدف دی او دغه پلان کې به هره ورځ مخکې ځي او نوی فکري طرز به وړاندې کوي او لا به پر اسلامي اصولو پښې ږدي. په مصر کې، چې دغه حرکت په کې ډېر زورور و، د طه حسين په څېر خلک رامنځ ته شول چې د يهودي مستشرق، ډېوېډ مرګليوت خبرې يې کټ مټ نقولې او د قرآن په حقانيت کې يې شکونه ښکاره کړل. د طه حسين پروژې ځکه ډېر مخالفين راپورته کړل، چې مستشرقينو ته ډېر ورته و او د هغه پر مسلمانۍ هم ډېر مشکوک وو.

دغه استشراقي پروژه هغه مهال ډېره خطرناکه شوه چې لوبغاړي يې د مخلصو مسلمانانو په شکل کې ښکاره شول. اوس په مصر کې جمال البنا (د مرحوم حسن البنا ورور)، فرج فوده، حسن حنفي، نصر- حامد ابو زيد، الجزاير کې محمد ارکون، په هند کې وحيد الدين خان، په ايران کې عبد الکريم سروش او نور د همدغې استشراقي پروژې پرمخ وړونکي دي .

عجيبه بيا دا ده، چې دغو ماډرنېستانو يوې ستړې ډلې په شرق کې زده کړې کړي. غرب ته يا اصلا د زده کړو له پاره نه دي تللي او يا يې لږه موده په کې زده کړې کړي. دوی بيا تر ټولو ډېر د عصر د بدلېدو خبرې کوي او د وخت چلنجونو ته ګوته نيسي، په داسې حال کې چې دوی له غربي ټولنې ژور فهم نه لري او د هغوی له ستونزو نه دي خبر. بلې خوا، د حسين نصر- په څېر مفکرين چې ټولې زده کړې يې غرب کې کړي او د هغې ټولنې له ستونزو ژور خبر دي، په ډاګه وايي چې ماډرنېزم د مسلمانانو ستونزه نه شي حلولای. هغه خپل ځان ټرډېشنلېسټ، يا دودپال بولي او په هغې لارې تلل غواړي چې پخواني اسلامي تفکر پرې اوږد مزل کړی.

دغه لنډه مقاله کې د ماډرنېزم په نامه استشراقي پروژې د پرمخ وړونکو ټول افکار نه شي څېړل کېدای، خو يوازې د دوی ځينو افکارو ته اشاره کافي ده او د قرآن په اړه د دوی د موقف ته يو نظر اړين دی. په ډېر لنډ شکل، په اسلام کې د سياسي نظام او لارښوونو نشت، له سود سره د مخالفت کمرنګه کول، اسلامي حجاب عربي رواج

بلل، د ځوانانو او پېغلو ترمنځ شکلول روا بلل، د ښځو او ټولنې د غربي-رنګه آزادۍ له پاره هلې ځلې... د دوی له فتواګانو او اهدافو څخه دي. عموما د دوی تر ټولو ستره هڅه دا وي چې اسلام له غربي ارزښتونو سره ټکر کې رانشي او که راځي، باید اسلام صیقل او له غربي ذهنیت سره برابر شي.

ځینې نویتوب پالان دومره افراطیان دي چې د دوی یوتوپیا –یا له اسلامه خیالي فهم- کې اسلام داسې جامه پر تن ده، چې د رسول الله له دورې راونیولې، تر اوسه پورې هېڅ مسلمانان وروسره آشنا نه و. د دوی له نظره تېرو څوارلس سوو کلونو کې د اسلامي فهم په اړه ټول لیکل شوي مطالب د اسلام سم تفسیر نه شي وړاندې کولای.

د دوی اکثریت د اسلامي تمدن پر ډېر مهم بنیاد، قرآن، برید کوي او غواړي د دې ارزښت سطحي وښيي؛ په داسې حال کې چې د مسلمانانو او اسلامي ثقافت د بقا تر ټولو ستر لامل همدا قرآن دی. په ډېر خلاصه شکل، د قرآن په اړه چې کوم نظر عبد الکریم سروش لري، د دې په پایله کې به د اصول الفقه هېڅ اړتیا نه لیدل کېږي، د قرآن تفسیرونه به د تاریخي کتابونو حیثیت غوره کړي، اسلامي قانون او د فقهې ټول ستر کتابونه به یوازې د اسلامي ادبي نصونو په څېر لوستل کېږي او خپل دیني حیثیت به له لاسه ورکړي... ځکه سروش قرآن د رسولانه رویاګانو یا خوبونو زېږنده بولي. هغه جبراییل وهم بولي او د خدای له لورې د قرآن له نزوله منکر دی. نو هغه کتاب چې د انساني رویا ټولګه وي، له نورو انساني کتابونو سره ډېر توپیر نه لري، د لاسوهنې امکان یې وارد دی او لکه څنګه چې اوس مسلمانان قرآن ته په کوم ارزښت او مکانت قایل دي، دغه مرکزي حیثیت به نور نه لري.

په دغه صورت کې به قرآن له نورو انساني کتابونو سره ډېر توپیر ونه لري. د عبدالکریم سروش له نظره قرآن او د مولانا رومي مثنوي کوم فرق نه لري. دواړه د یوې الهامي تجربې زېږندې دي او دغه ډول تجربې له نورو ډېرو انسانانو سره هم ترسره شوي او لا ترسره کېدای شي. د دې نتیجه دا ده، لکه څنګه چې مخکې مو وویل، چې د قرآني نص د پوهېدو له پاره چې د تفسیرونو، اصول الفقه او د فقهې په کتابونو کې کومه هڅه شوې، دا به خپل ارزښت له لاسه ورکړي او د دې په نتیجه کې به د اسلام تېر څوارلس سوه کلن علمي میراث بې ارزښته او ضایع شي. دا ځکه، چې قرآن په اسلامي علمي میراث کې د مرکز حیثیت لري او ټول علوم ترې مشروعیت اخلي او پر محور یې څرخېږي. کله چې قرآن خپل حیثیت له لاسه ورکړي، پاتې اسلامي علوم پخپله مري. پر دې اساس، پر قرآن برید، د اسلامي تمدن پر زړه د غشي منډل دي.

د اسلامي نړیوال-لید او تېر اسلامي ثقافت په اړه د دغو نویتوب پالو د تصور له مخې به مسلمانان به له خپل تېر تمدن سره پرې شي، خپل هویت به له لاسه ورکړي او د نورو ناکامو ملتونو په څېر به د غرب لاره څاري. په دغه حال کې مسلمانانو ته د بیا راپورته کېدو هېڅ تمه نه شي پاتې کېدای؛ بلکې دوی به لاس او پښې تړلي د غرب یا بل نړیوال واکمن مخې ته پراته وي او هغوی به یې د تقدیر ټاکلو پرېکړه کوي. زموږ استاد، پروفیسر- عمران احسن خان نیازي د دغه فکر ټول هدف په یوه ډېره مناسبه اصطلاح کې خلاصه کړی. د هغه پر وینا، د دغه معذرتخواهانه منهج څښتنان نړیوال زبرځواک ته د مسلمانانو ابدي تسلیمي «Perpetual Surrender» غواړي.

عسکر ولې تسلیمیږي؟

شبیراحمد عثماني

هسې خو له ډېر وخت نه عسکر او پولیس د غلامې اداري سره په کار کولو خجل او خپل وجدان ته شرمنده دي، وخت په وخت یې له خپلو دندو لاس اخیستی او یا هم له خپلو وسلو سره طالبانو ته تسلیم شوي خو د تیرو دوو میاشتو نه دا بهیر دومره ګړندی شوی دی چې په تیرو دری نیمو لسیزو کې یې ساری نه دی لیدل شوی.

د امریکا متحده ایالات او جرمني هیواد چې په اصطلاح د ملي اردو او ملي پولیسو په جوړښت او روزنه یې ملیاردونه ډالر مصرف کړي هک بک پاتې دي او دیته حیران دي چې د دومره ډیرو لګښتونو سره سره هغه هدف ته نه رسیږي کوم چې د غلام حکومت د ثبات لپاره اړین دی.

امریکایي جنرالان په غرغره وایي چې د ملي اردو او ملي پولیسو سرتیري خپلې دندې خوشي کوي، له دندو تښتي او یا هم طالبانو ته تسلیمیږي.

اصلا حقیقت داده چې د افغان په خته کې اسلامیت او افغانیت اغښل شوی دی. که یو شمیر یې د یو محدود وخت لپاره فریب وخوري دوکه شي، خو پای یې د حقیقت ادراک دی چې خپل اصل ته رجوع کوي.

واقعي مسلمان عسکر اوپولیس په دې ښه پوهیږي چې دوی د څه لپاره رزمیږي او پوهیږي چې رزمیدنه یې د چا د اهدافو لپاره ده په دې هم پوهیږي چې له چا سره جنګیږي. دا چې امریکایان د اقیانوسونو له خوانه دې خوا راځي او د افغانستان په پوځي ارګانونو خپل مالیات مصرفوي ته وا د مسلمانانو د ثبات سره مینه او علاقمندي لري؟

او یا افغانان دومره ورته ګران دي چې د دوی لپاره ملیاردونه ډالر اوبه کوي؟ نه نه دا هیڅ امکان نه لري . بلکې د دې لپاره دا هرڅه کوي چې دلته یو داسې نظام جوړ او وساتي چې د دوی ګټې خوندي کړي او د مسلمانانو په لاس مسلمانان ووژني، د خپلې خوښې نظام قایم کړي چې شریر،مفسد او خائنان خو د دوی د ګټو ساتونکي کسان په واک کې وساتي او موږ دا هرڅه په غړیدلو سترګو وینو.

دې هرڅه ته په کتو یو شمیر عسکر او پولیس چې د ایمان نور یې په سینو کې شغلې خوروي د امریکایانو په وژلو لاس پورې کوي او که دایې د لاسه پوره نه شي په خپلو پوستو او قرارګاوو کې هغه کسان په نښه کوي چې د امریکا ګټو ته وفادار وي او یا هم د خپلو وسلو او مهماتو سره طالبانو ته تسلیمیږي.

ها - دا هم باید ووایو چې تر دې وخته طالبانو د هغو عسکرو او پولیسو تود هرکلی کړی کوم چې پورته یاد شوي کارنامې تر سره کړي.

طالبان چې د غلام حکومت او د دوی د بادارانو پر خلاف یې سنګر نیولی خپل هیواد او اسلام ته د وفادارۍ او ژمنتوب په ډګر کې لکه ستوري ځلیږي.

اولس او اولسي پرګنې هم تر هر چا په طالبانو زیات باور لري او د حکومت څخه سخت ناراضه او هیڅ د باور وړ یې نه ګڼي کرکه او نفرت ترې لري.

نو دا وجوهات دي چې ډلې ډلې عسکر، پولیس او اربکیان د خپلو وسلو سره طالبانو ته تسلیږي او اولس طالب ته په خپله غیره کې ځای ورکوي.

طالبانو ته هم مناسب دي چې اوس خپله اوتوریته او باور نور هم په خپله اسلامي او افغاني تګلاره کې لوړ وساتي تر څو د خپلو ولسونو د امید غوټۍ ګلونه وسپړي.

طالبان

دبل تر اثر لاندې سوله نه غواړي

لیک : م خاموش

ورمه ورځ د ارګ لخوا په یوه خپره شوې اعلامیه کې وویل شول، چې طالبان د ګلبدین حکمتیار د سولې تر اثر لاندې راغلي او یو شمیر د طالبانو دعالي شورا غړي غواړي د حکومت سره سوله وکړي.

دا اعلامیه د ارګ څخه په داسې حال کې خپره شوه، چې د حکمتیار د سولې پر مهال او د سولې وروسته طالبانو پر کندوز، هلمند، فراه، ارزګان او نورو ولایتونو کې جګړو او بریدونو ته زور ورکړ.

که دحکمتیار د سولې اثر لاندې طالبان راغلي وای نو اوس به په هیواد کې ټول وسله په لاس طالبان حکومت ته تسلیم شوی وای ځکه حکمتیار خو د حکومت سره سوله نه ده کړې حکومت ته تسلیم شوی دی.

د دوه کالو راپدیخوا د حزب اسلامي ټول غړي د حکومت په لوړو او ټیټو پوستونو کې مقرر شوي دي د ۲۰۰۵ میلادي کال راپدیخوا د یوه پروګرام له مخې یوشمیر حزبیان کابل ته د حزب اسلامي په نامه ولیږل شول هغوی په حکومت کې ضم شول او پاتې یې د حکمتیار صاحب په مشرۍ د سولې په نامه یوه میاشت دمخه حکومت ته تسلیم شول.

طالبانو کې به یو څه سیاسي کمزوري وي، چې په یو شمیر جهادي مشرانو یې باور لاره، هغه باور دا و چې له یو شمر جهادي مشرانو څخه طالبانو دا تمه درلوده چې د روسانو په څیر دې جهادي مشران د امریکا په مقابل کې هم مقاومت وکړي.

خو په افسوس سره د تمې او هیلې برخلاف یو شمیر جهادي مشران امریکا سره د افغانانو په وژلو او هیواد ورانولو کې ملاتړي شول.

طالبانو چې څومره پر یو شمیر جهادي مشرانو باور لاره همغومره پرې بې باوره شول، ځکه هغوی د امریکایي پوځونو په وسیله د طالبانو د نظام د نسکورولو وروسته د بن دغونډې جوړ شوي حکومت ته تسلیم شول.

که د ارګ خپرې شوې اعلامیې ته وګورو نو بیا خو داسې بریښي چې طالبان دې هم د حکمتیار په څیرحکومت ته تسلیم شي.

حال دا چې طالبانو د امریکا او ورسره د اشر ګړو هیوادونو د پوځونو په مقابل کې خپل دریځ د جګړو او بریدونو په دوام نور هم پیاوړی کړ.

طالبان جګړه نه غواړي سوله غواړي او د یرغلګرو په مقابل کې د خپلې کاملې ازادۍ د ترلاسه کولو لپاره جګړې ته دوام ورکوي.

د طالبانو یو شمیر دعالي شورا غړي نه، بلکې ټول طالبان چې په ټول هیواد کې د بن د غونډې جوړشوي حکومت پرخلاف په جګړه بوخت دي، دا ټول د سولې د پاره جګړه کوي، چې بهرني پوځونه له افغانستانه ووځي، پر ولس شپني عملیات بند شي بیا به په ټول افغانستان کې د طالبانو هیله (سوله) پوره شي.

طالبانو ددې د پاره وسله نه ده راخیستې، چې خپل هیوادوال او یا په پوځ کې خپل افغان ځوانان ووژني.

که طالبان خپل افغانان وژني بیا نو سوله د چا لپاره غواړي؟ او جګړه د څه د پاره کوي ؟

که ارګ دې ته خوښ وي، چې حکمتیار د نظامي او سیاسي زوال وروسته حکومت ته تسلیم شو طالبان به هم تسلیم شي، نو ارګ دې په اعلامیو خپل او د رسنیو وخت نه ضایع کوي.

زما ورور "محمد حقاني"

څنګه شهید شو؟

لیکوال: اسیر انس حقاني

ډیره موده وشوه چه نه می وو لیدلی خو داخل مې په زړه کې ډیره تلوسه وه ډیر مې یادیده ما ویل کله به راځي ؟ سترګې مې تل هغې لارې ته غړولې په کومه باندې به چې راتلو. ورځې تیر شوې ، انتظار اوږد شو اونۍ وشوې. ماذدیګر و لمر د غرونو له څوکو څخه وروستۍ وړانګې ټولولې ژوند په خپل ناول کې د یوې بلې ورځې کیسه کنبله چې د ماشومانو غږ مې واوریدو: زیری مې دربانديې، زیری مې دربانديې....زه نه پوهیدم د غمونو په دې ستر طوفان کې زمونږ په خوا کومې خوښۍ لار راغلطه کړې ده ؟ ایا چیرې مجاهدینو ته الله ج کومه ستره فتحه ورنصیب کړې ده ؟ ایا بیا د صلیبیانو په ځالو استشهادي مجاهدین ورننوتي دي ؟ ایا له ائمة الکفر څخه کوم یو جهنم ته رسیدلی دی؟ څه به شوي وي ......؟

دا انتظار د یوه ماشوم زیري مات کړو ویل یې : انسه زیری به راکوې ګوره زیری به راکوې.. د محمد ځوی پیدا شو.

بس یوه خوشحالي جوړه وه په کلي کې اختر وو همدا ورځ تیره شوه له مابنامه وروسته مو په خپلوانو کې یو سپین ګیری له دې فاني دنیا څخه ابدي دنیا ته په سفر شو د شپې مهال د کورنۍ لرې او نږدې خپلوان ټول له یو بل سره خبر شول ورته یې وویل صبا جنازه په دوه٢ بجې ده ، وختي حرکت راوکړئ که څه هم یو طرف ته خفګان وو بل طرف ته په زړه کې خوشحال وم ما ویل له ډیرې مودې وروسته به محمد ووینم د محمد ټول یاران د محمد په انتظار وو.

صبا ورځ د جنازې وخت راورسیدو مونږ ټول ډیر په بیړه د جنازې په لور لاړو هلته مې هم یوې بلې خواته په ډیر لیوني انداز کې په محمد پسې سترګې غړولې خو په زړه کې نیولی غوندې وم محمد مې و نه موندلو د موټرو غږ به مې واوریدو زما سترګې بیا هم د هر یوه موټر په دروازه د محمد لپاره خښې وې بیا هم نه وو.

ډیر وروسته مې یو موټر ولید چې ورته ومې کتل له مخکې سیټ څخه یې یو ماشوم رابنکته شو وریسې یو سړی رابنکته شو چه سر یې پورته کړو وه مې پیژندو ورمنده مې کړه د ده هم په ما نظر وه لګیدو له ورایه په خندا شو کله چه وررسیدم یو بل ته مو کلکې غیږې سره ورکړې نه پوهیږم دا ولې دومره خوږ شوی وو ؟ زړه مې نه غوښتل چه له ځانه یې لرې کړم له روغبړ وروسته ما ورته د نوي ځوی مبارکي ورکړه محمد ډیر خوشحاله شو راته یې وویل ډیر ورته خوشحاله یم بس په دیدن یې موړ نشوم دا واقعه رامنځته شوه زړه مې غوښتل چه لږ وخت ورسره تېر کړم بیا مې یو عکس ورڅخه واخیست ما ویل تاسو ته به یې هم در بنکاره کړم او زه به هم کله نا کله مینه وربانديې ماتوم .راځه کیسې ډیرې دي بیا به ټولې کیسې په ارام سره وکړو او زما د بچي تصویر به هم وروسته دربنکاره کړم بیا یې وګوره چه چاته ورته دې؟ د محمد لیدلو له ما څخه جنازه هیره کړه داسې مې نه انګیرله لکه زه چې د یو چا د جنازې په لمانځه کې د ګډون لپاره راغلی یم محمد ته مې کتل د محمد هره خبره مې زړه ته تیریدله غوښتل مې چې محمد یو څو خبرې نورې هم راته وکړي یو څه مو مجلس اوږد شي خو چې فکر مې شو صفونه برابر وو جنازه ودریده د جنازې د لمانځه په لوري لاړو لمونځ مو اداء کړو وروسته خلک د هدیرې په لور روان شول زه بیا محمد ته ور نږدې شوم دی له موټر سره ولاړ وو له محمد سره خپل دوه نور بچیان هم ولاړ وو چه له ځان سره یې

راوستي وو په هغو دوو بچیانو کې بې یو ته وویل سهیله ځویه له ماسره کورته ځې او که په دا بل موټر کې ؟ سهیل ورته وویل مونږ په دا بل موټر کې ځو بیا یې هغه دواړه ځامن په بل موټر کې کورته وه لیږل او مونږ د هدیرې په لور روان شو د مړي تر تدفین وروسته له هدیرې څخه لږ لیرې مونږ په یوه ټیټ دیوال باندې کېناستو خپل منځ کې مو مجلس شروع کړو محمد نور ملګرو هم نه وو لیدلی څو نور یاران هم راغلل هغه هم ټول له محمد څخه ګیر چاپیر راټول شول مجلس مو دومره خوندور شو چه د ټولو له ذهن څخه دا کیسه وتلې وه چه مونږ چیرته ناست یو او د څه لپاره راغلي یو مړی دفن کړی شوی وو دعا او بیان وشول خلک موټرونو ته پورته شول ما غوښتل چه زه له محمد سره یوځای کینم کله چه ورنږدې شوم چه د موټر کسان پوره وو محمد ته مې وویل اوس اول چیرې درومې ؟ محمد وویل د غرمې ډوډۍ مې نه ده خوړلې ملګري به ډوډۍ تیاره کړي زه به یو وار تر کوره لاړ شم له خپلې خوږې مورجانې سره به روغبړ وکړم بیا به ډوډۍ وخورم ما ورته وویله سمه ده له ماښځه وروسته به مجلس کوو تاسې درځئ دوئ هم روان شول زه یو لوی موټر ته ورپورته شوم یو ملګري وویل بې پیلوټه طیارې ډېرې دي دعا وایئ هسې نه بمبار وکړي زما هم ورپام شو بس چه څه مې زده وو هغه مې تیر کړل کله چه زمونږ موټر حرکت وکړو زه داسې په فکرونو کې ډوب وم نه پوهیدم چه کومې خیالي دنیا ته به تللی وم له لږ ځنډ وروسته چه مې وکتل زمونږ موټر په پاښه سړک روان وو په څنګ کې نور هم ډیر موټران وو مازدیګر ته لږ وخت پاتې وو ځوانان میدانونو ته راوتلي وو لوبې یې کولې خلکو ته مې چه پام شو ټولو یودم یوې او بلې خواته د اسمان په لوري وکتل او سرونه یې ورپسې تاو کړل ما ویل خدایه خیر لکه چه بمبار یې وکړو هیڅ غږ مې تر غوږ نشو د موټر اواز ډېر تېز وو کله مې چه د غرب خواته وه کتل زمونږ څخه په لږ فاصله کې په لاندې خوړ کې تور دودونه پورته شول او یو قوي اواز مې هم تر غوږ شو ټول موټرونه و دریدل ما موټروان ته وویل ته لږ ور مخکې شه د کوڅې خولې پورې موټر حرکت وکړ کله چه د کوڅې خولې ته ورسیدو موټر وه دریدو ما دروازه خلاصه کړه او په منډه سر شوم په زړه کې مې ډېرې وسوسې پیدا شوې ما ویل څوک به یې شهیدان کړي وي خدایه ته رحم وکړې کله چه له کوڅې واوښتم خوړ ته مې نظر کړو سپین موټر مې تر سترګو شو په سړک ولاړ وو او سوری سوری شوی وو خلک ټول یوې بلې خواته ولاړ وو څوک نه ورنږدې کیدل ما خپله ځغاسته جاري وساتله څو کسان نور هم ورمخکې شول یو موټر هم ورغی ما له یو سړي وه پوښتل څوک یې وویشتل هغه وویل معلومات نشته کله چه ورنږدې شوم هغه نورو کسانو د موټر دروازې خلاصې کړې چه وروميې سیټ څخه یې یو نفر لاندې را ولویدو ما چه ورته وکتل برګ رنګ کې کوټ یا جمپر یې په تن وو زړه مې یوه څړیکه وکړه او له خولې مې آه آه اوازونه راپورته شول د برګ کوټ څښتن مطیع الله وو چه له محمد سره به هر وخت یوځای ګرځېده زه پوه شوم چه ستا یار یې په نښه کړی .مطیع الله لاندې په ځمکه ولویدو وروستی سلګی یې شروع وې او نور یې له دې فاني دنیا څخه د تل لپاره سترګې پټولې د موټر بلې خواته چه ورغلم د موټروان دروازه یو ملګری په ډېره بیړه سره خلاصه کړه د موټروان په سیټ باندې مې شرین ورور لکه د سپرلي تازه ګلاب پروت و او په مخ باندې یې وینې روانې وې داسې ښکاریدې لکه شبنم چه په تازه ګلاب پروت وي زما له رسیدو مخکې محمد د شهادت جام نوش کړی وو په غیږ کې یې د میزایل یوه غټه ټکړه پرته وه زه ورته په حیرانتیا سره ولاړ وم زړه مې نه اخیسته چه دا حقیقت دی ما ویل خوب وینم څو کسان راغلل محمد جانان یې له موټره راښکته کړو زه په ځان پوه شوم چه دا ریښتیا ده د یار په لوري مې نظر وکړو سینه یې ټوله غلبیل غلبیل وه په وینو کې لت پت وو قسم بالله زه هغه څه نشم لیکلی چه په ما باندې څنګه حال تیر شوی تردې ځایه یې کافي بولم زما یې بیا پخواني دردونه راویښ کړل..... بس

احمدالله احمدزی

د «إنه كان ظلوما جهولا» لنډ تفسير، زموږ د ټولنې يو حقيقت او يوه غوښتنه

د بلاغت او نقد معاصر امام علامه دکتور محمد محمد ابوموسى وايي، چې څېړونکی او باحث بايد د ورک او غايب علم په لټه کې شي او که يوازې هغه څه پسې ګرځي، چې نورو سره دي، نو دا سړی يوازې خپل ځان او ټولنه تېرباسي او دغه مهال، چې څوک د علم دعوه کوي، دا علم نه، بلکې يو وهم، بلکې د نفاق يوه برخه ده، چې پر مخ د علم پرده اچوي او خپل جهل پرې پټوي.

د علامه په خبره د زړه له تله دردېږم، چې موږ او زموږ ټولنه کې خو د علم او څېړنې څرک نه لګيږي او حتا دومره خواري هم نه کوو، چې پخوانيو علماوو خپلو راتلونکو نسلونو لپاره کومې خوارۍ کړې، د هغو د لوستو همت هم نه کوو او زموږ په ټولنه کې هر وګړی هڅه کوي، چې ځان د ټولنې تر ټولو پوه، زيرک او ستر محقق وښيي او دا خوی په خپله د ستر جهل ښکارندوی دی.

دکتور ابو موسى وايي، چې مصر کې له علامه محمود شاکر وروسته عالم نه دی تېر شوی، نو زه هېښ شم، چې دا ته د مصر پر مختللې علمي ټولنه کې عالم نه ښکاري، نو زموږ ټولنې باره کې به څه وايي.

زموږ ټولنه کې د پخوانيو متونو، چې د علم او فکر بنسټ جوړوي د لوستو توان او همت نه شته او څوک يې، چې لولي، نو ډېری لوستونکي فکر او هڅه نه کوي، چې د کتاب حق ادا کړي او کتاب په خبرو راولي.

که خبره په ځانګړې توګه د قرانکريم د معانيو د ژور او سمې پوهې شي، له ګوتو شمېر علماوو، پرته زموږ ټولنه کې لا هم په ډېر تکلف د قرانکريم ترجمې کيږي، چې د لوستونکي او اورېدونکي زړه پرې اوبه نه څښي، او يوازې د دې لپاره يې مني، چې د الله تعالى کلام دی او که شک په کې وکړي، نو ايمان به يې خوار شي.

د دې ټولو ستونزو بنسټيز لامل دا دی، چې موږ له عربيت، صرف، نحوې، بلاغت، اشتقاق او نورو اړينو علومو دومره لرې يو، چې له امله يې د قرانکريم په معانيو سم نه پوهيږو.

د ساري په توګه «إنه كان ظلوما جهولا«

الله تعالى د احزاب سورت په پای کې فرمايي: «إنا عرضنا الأمانة على السماوات والأرض والجبال فأبين أن يحملنها وأشفقن منها وحملها الإنسان إنه كان ظلوما جهولا«

ډېری مفسرينو د دې ايت ظاهري معنا اخيستې، چې الله تعالى ديني احکام او فرايض اسمانو، ځمکو او غرونو ته وړاندې کړل، هغوی يې له نيولو انکار وکړ او انسان دا امانت ومانه، بې شکه انسان ظالم او جاهل دی.

دا تفسير د چا زړه سم نه مني او د ايت د وروستۍ برخې لپاره له ډېرو تاويلاتو کار اخيستل شوی، چې ټول تکلفات دي.

هغه ورځ مې د څلورمې هجري پېړۍ د وتلي لغوي او نحوي امام ابو اسحاق ابراهيم بن محمد بن السري بن سهل الزجاج البغدادي «زوکړه ۲۴۱ه- وفات ۳۱۱ه» کتاب «معاني القران وإعرابه» وکوت او د دې ايت د معنا او تفسير په لټه کې وم.

امام زجاج وايي، چې د دې ايت معنا د لغت له پلوه دا ده، «مونږ وړاندې کړ امانت اسمانونو، ځمکو او غرونو ته» دلته يې د امانت معنا مناسب وظايف ښوولي. اسمان ته يې وويل، چې خپل کار به سر ته رسوي، ځمکې ته يې د خپل کار سرته رسولو امر وکړ او غرونو ته هم «فأبين ان يحملنها» امام زجاج وايي، چې دلته حمل په معنا د ترک او خيانت دی. عرب وايي، چې (فلان حمل الامانة اي خانها) فلاني امانت حمل کړ، يعنې خيانت يې په کې وکړ. نو اسمانونو، ځمکو او غرونو په خپلو دندو او وظايفو کې خيانت نه دی کړی او تر اوسه خپل کار د الله تعالی له امر سره سم پر ځای کوي «وحملها الانسان» انسان دا امانت حمل کړ، يعنې خيانت يې په کې وکړ. دلته له انسانه مطلق انسان نه دی مراد، بلکې هغه څوک ترې مراد دی، چې د الله تعالی له امرونو سرغړونه کوي. امام زجاج وايي، چې منافق او کافر د الله تعالی امانت خيانت کړی دی او څوک چې د الله له لوري ورسپارل شوي فرايض او امانت کې خيانت کوي، دوی باره کې د الله تعالی پرېکړه بيا دا ده، چې «انه کان ظلوما جهولا» دا خلک ظالمان او جاهلان دي.

پښتانه مفسرين پښتو کې د دې ترجمه داسې کوي. کوم انسان، چې د الله تعالی له لوري په ورسپارل شوي امانت کې خيانت کوي، هغه «ظلوم او جهول دی» مقصر في العمل او مقصر په علم دی. د عمل له پلوه کمزوری او د علم او فکر له پلوه هم کوتاه کار او کمزوری دی.

لومړی خپل ځان بيا د علم نورو لارويانو ته د علماوو او استادانو دا سپارښتنه رسوم، که علم کوو نو بايد د پخوانيو علماوو، په څېر خواري وکړو، نيتونه مو يوازې او يوازې د الله تعالی لپاره کړو، له تظاهر او ځان ښودنې ځانونه لرې وساتو، تل د علم او پوهې په لټه کې شو او هڅه وکړو، چې نورو دوستانو او مسلمانانو ته د علم لارې پرانيزو.

دکتور ابو موسی دا هم وايي، که مونږ خپلو شاگردانو او راتلونکو نسلونو ته دومره علم ورکړ، چې مونږ سره دی، نو علم به په ټپه ولاړ وي او که له ځانه لږ علم ورکړو، نو ټولنه به د وخت په تېرېدو د جهل پر لور ځي او علم يوازې هغه مهال پرمختگ کولای شي، چې استادان شاگردانو ته له خپل ځانه زيات علم ورکړي، د علم لارې ورته پرانيزي او په اړونده موضوع کې د پراخې مطالعې سپارښتنه او لار ښوونه ورته وکړي.

په ډېر تاسف دا خبره کوم، چې زمونږ په مدارسو او پوهنتونو کې استادان هېڅکله دا هڅه نه کوي، چې زده کوونکو ته له ځانه زيات علم ورکړي، د علم دروازې ورته پرانيزي او د درسي موضوع په اړه د زياتو مراجعو او مصادرو لارښوونه وکړي او حتا هغه کتاب هم نه ورښيي، چې استاد ترې د تدريسي کتاب د اسانتيا لپاره گټه اخلي.

راځئ، دا ناوړه دود مات کړو، نفسونه وځپو، ځانونه تر ټولو کمزوري او ناپوهه وبولو، د رښتيني علم په لټه کې شو او نورو ته هم د حقيقي علم په رسولو کې نه ستړې کېدونکې هڅې وکړو.

که دا اوسنی دود مو مات کړ او ټولنه کې مو د علم او معرفت د خپرولو هوډ وکړ، نو ټولنه به مو په ډېره لږه موده کې يو ځل بيا د پخوا په څېر د علم، عرفان او رڼتيا پر لور مزل پيل کړي او څو چې دا لړۍ روانه وي، نو اجرونه او ثواب به يې هغو خلکو ته هم رسي، چې دا کار يې پيل کړی او ان شاء الله دا به مو له مرگ وروسته صدقه جاريه وي.

امام ابوبکر ابن الأنباري رحمه اللّٰه

زوکړه یې:

د محدثینو سرخېل ، د قرآني علومو لــوی مفسرــ، مشــهور ادیــب او لغــت پېژانــدی ، نــوم یــې محمــد ، کنیــت یــې ابوبکر او لقب یــې ابــن الأنبــاري و . د قاســم زوی ، د محمــد لمســی ، دبشــار کړوسی ، دحسن کودی ، دبیــان پرکتــی او د ســماعه پــردی و ، چــې د ۲۷۱ سپوږمیز کال د رجب پــه ۱۱، یــا ۱۴مــه نېټــه د عــراق د انبــار ایالــت (او یــا پــه بغداد ښار کې) په یوه درنه علمي کورنۍ کې نړۍ ته راغی.

زده کړې یې:

ابن الأنباري ډېر کــوچنی و ، چــې لـــه خپـــل پـــلار سره بغـــداد تـــه لاړ او لــومړنۍ زده کــړې یــې لــه خپــل عالم او مصنف پلار ابو محمد قاسم بن محمد انباری (دکوفــې دســترو او اکــابرو علماوو لـه ډلـې و) څخـه شروع کـړې ، وروســې یــې نــور علومــو او د حــدیثو زده کــړې لــه بېلابېلــو مســلکي اســتاذانو او نــامتو فقهــاو او محــدثینو څخــه ترلاســه کړې.

استاذان یې:

علامــه ابــن الأنبــاري لــه زیــاتو نحویانو ، لغت پوهانو، قاریانو ، محدثینو او مفسرــینو څخــه زده کــړې او روایتونــه وکړل ،چې دهغوی له جملې څخه ځینې په لاندې ډول دي:

- أبوه القاسم بن محمد الأنباري
- أبو العباس بن أحمد بن يحيى ثعلب
- إسماعيل بن اسحاق القاضي
- أحمد بن الهيثم البزاز
- أحمد بن سهل الأشناني
- ادريس بن عبد الكريم
- الحكيم الترمذي
- محمد بن يونس الكديمي
- محمد بن هارون التمار
- محمد بن أحمد بن النضر
- الحسن بن الحباب
- سليمان بن يحيى الضبي
- محمد بن يحيى المروزي
- أحمد بن سعيد الدمشقي
- إبراهيم بن موسى
- عبد الله بن بيان
- أحمد بن حسان
- عبد الله بن محمد بن ناجية
- بشر بن موسى
- أبو الحسن بن براء
- عبد الله بن خلف الدلال
- علي بن محمد بن أبي الشوارب
- أبــو شــعيب عبــد الله بــن الحســن الحراني
- أبو جعفر محمد بن عثمان
- محمد بن المرزبان
- أحمد بن منصور
- أحمد بن عبد الله
- خلف بن عمرو العكبري
- موسى بن علي الختنلي
- أبو جعفر أحمد بن الحسين
- محمد بن عيسى الهاشمي
- محمد بن عبد الله
- أبو الحسن الأسدي

- أبو الحسن أحمد بن محمد بن عبد الله
- الحسن بن عليل العنزي
- أبوعبدالله المقدمي القاضي
- أبو العباس بن مروان الخطيب
- عبد الله بن عمر بن لقيط
- أبو بكر ابن دريد

تدریس یې:

تر فراغت وروسته یې د تدریس او تصنیف ډګرته را مخه کړه ، چې خورا حیرانوونکې کارنامې یې ترسره کړې. هغه به طالبانو ته د کتاب له مخ درس نه ورکاوه ، بلکې ټول کتابونه به یې له یاده درسول ، د ښوونې او تدریس اسلوب یې ډېر زړه وړونکی و، د تدریس پرمهال به د شاګردانو پروړاندې ډېر لوراند، مهربانه او خاکساره و او د خپلو نه ستړېدونکو هڅو له برکته یې اسلامي ټولنې ته له استعداده ډک پیاوړي عالمان وړاندې کړل.

شاګردان یې:

دعلامه انباري له مشهورو شاګردانو څخه ځینې دا دي:

- أبو علي القالي
- أبو أحمد العسكري
- الزجّاجي
- ابن خالويه
- أبو جعفر النحاس
- أبو الفرج الأصفهاني
- المرزباني
- محمد بن العباس الخزّاز
- أبو الحسين البوّاب
- الدارقطني
- ابن المأمون

تقوی او حافظه یې:

ابن الانباري له یوه پلوه د پریمانه اخلاقو ، تقوا او پرهېزګارۍ په ګانه پسولل شوی او سپېڅلی انسان و، د ده په اړه علماء لیکي ، چې هېڅ جرم او ګناه یې نه وه څرګنده شوې.

له بله پلوه د ځواکمنې او حیرانونکې حافظې څښتن و ،چې سوانح لیکونکي یې د ذهانت او حافظې بې بریده ستاینې کوي.

محمدبن جعفر تمیمي وایي:

له هغه څخه د ذهني علمي کچې په اړه پوښتنه وشوه ، هغه ورته داسې وویل: ماته یو دقرآن کریم (۱۲۰) تفسیرونه سره له سنده یاد دي او دا مې هم د ده په هکله اوریدلي دي ، چې ویل یې : د کتابونو ۱۳ ډک صندقونه مې په یادو یاد دي.

ابوعلي قالي رانقل کوي:

زموږ شیخ ابوبکر درې لکه بیته شعرونه یاد وو ، چې د مطلب او پیغام سرچینه یې له قرآن کریم څخه اخیستل شوې وه.

امام ذهبي یې د شعرونو د اندازې لګولو په اړه داسې وایي: له یاد شمېر اشعارو څخه پوره ځلوېښت غټ غټ جلدونه جوړېږي.

ابن ناصر الدين وايي:

ابوبکر د هرفن ځانته سترامام و، هغه چې څومره تصنیفات کښلي ، دایې له کتابونو څخه نقل نه دي کړي؛ بلکې یوازې یې د خپل حفظ او یاد څخه لیکلي دي.

تصنیفات یې:

علامه ابن ابناري پر تدریس او د شاگرانو پر روزنې سربېره (له ۷۰ کتابو زیات) په سلگونه جلده کتابونه هم ولیکل او امت ته یې لویه علمي زېرمه په میراث پرېښوده.

هغه غریب الحدیث نومي کتاب په (۹۰۰۰۰) نوي زره مخونو کې ولیکه ، شرح الکافي یې په ۲۰۰۰دوه زره ، الهاءآت یې ۲۰۰۰دوه زره او الجاهلیات یې په ۱٦۰۰شپاړسوه مخونو کې ولیکه.

دنوموړي ځینې کتابونه په لاندې ډول دي:

- عجائب علوم القرآن
- خلق الأنسان
- کتاب الأضداد
- شرح القصائد السبع الطو الجاهلیات
- إیضاح الوقف والابتداء في کتا ل الله عزّ وجلّ
- شرح الألفات المبتدئات في الأسماء والأفعال
- شرح دیوان عامر بن الطفیل
- مسألة في التعجب
- الهاءات في کتاب الله
- المذکر والمؤنث
- الأمثال
- رسالة المشکل
- الزاهر
- الأمات
- الکفافي
- شرح مفضلیات
- خلق الفرس
- شرح غایة المقصود في المقصور والممدود لابن درید
- شرح خطبة عائشة أم المؤمنین في أبیها
- الرد علی من خالف مصحف عثمان

د ژوند وروستی شېبې یې:

د عمر په وروستیو وختونو کې چې په سختې ناروغۍ اخته و، دهغه دکمزورتیا په اړه ورځخه پوښتنه وشوه ، ده یې په ځواب کې وویل:

په هره اونۍ (هفته) کې لس زره پاڼې کتابونه وایم.

دقرائت ، فقه او تفسیر دعلومو سترامام شاعر اولیکوال علامه ابن انباري د ۳۲۸ سپوږمیز کال د لوی اختر په مبارکه ورځ د ۵۷ کلونو په عمر په بغداد کې له دې نړۍ وکوچید او په خپل کور کې خاورته وسپارل شو.

لوراند خدای دې پرې خپل کرم ولوروي، آمین

داسلام لومړی خلیفه حضرت ابو بکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي:

علم د پیغمبرانو میراث او شتمني د کافرانو(فرعون او قارون) .

خبر اوسئ اچې جهاد پرې نږدي ، ځکه هر قوم چې د الله په لاره کې جهاد پرېږدي، هغه خوار او ذلیل کیږي.

په زغم کې هیڅ تاوان نشته او په ژاړه کې هیڅ گټه.

که غواړئ چې هوسایي مو په برخه شي، نو خپله ژبه د شکایت او گیلو نه لیرې وساتئ.

خوار او بیوزله هغه څوک دي، چې په دنیا کې دوست او ملگري ونلري.

د موراو پلار خوشحالي ،په دنیا کې د نیک بختۍ سبب گرځي او په آخرت کې د ژغورلو وسیله.

اوښکې د هغې ورځې په تیریدو تویوئ، چې بې ښیگړې مو تیره کړي وي.

د هر شئ د ثواب پیمانه موجوده ده، خو د صبر او زغم د ثواب اندازه نشته.

رښتیا امانت او دروغ خیانت دي .

اعداد مدرسه

عرفان الله عرفاني

چمتو فعال په توره شپه کې اوسه
ګرانه بیدار ګوره پیره کې اوسه

غړه په ملګرو هر ساعت کې کوه
سم په تماس مخابره کې اوسه

پام کړه مبایل جیب کې مه ګرځوې
ټوپک په لاس ډکه چانته کې اوسه

دښمن ته غلی په کمین کې کېنه
دغره لمن یا په باغچه کې اوسه

عادي حالت کې به خاکسار ګرځېږې
ډک له غرور په معرکه کې اوسه

د بیت المال سره احتیاط به کوې
تل د اعداد په مدرسه کې اوسه

د خپل امیر ښه اطاعت پکار دی
ښه په اخلاص رب ته سجده کې اوسه

سپېڅلی صف درنه ګډوډ چې نشي
په دې روانه قافله کې اوسه

کله زمونږ د غزل شپې ته راځه
د(عرفاني) سره حجره کې اوسه

Shahamat

دانځـــورونو شـــرحه :

په لومړۍ پښتۍ دهلمند دناوې په ولسوالۍ دفدايي برید انځور

په دویمه پښتۍ د مجاهدینو په لاس ولجه شوې شوبله

په دویمه پښتۍ دویم انځور دناوې ولسوالۍ ودانۍ دبرید نه وړاندې